# د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے

## دَ عیسیٰ مسیح نسب نامه

لُوقا ٣ : ٢٣ ـ ٣٨

١ (١) کتاب دَ نسب نامے دَ عیسیٰ مسیح، نسل دَ داؤد،
نسل دَ اِبراهیم.

(٢) اِبراهیم دَ اِسحاق پلار وو، اِسحاق دَ یعقُوب، یعقُوب دَ
یهوداه اؤ دَ هغهٔ دَ ورُوڼو پلار وو. (٣) دَ یهوداه نه فِرص اَؤ
زورح پیدا شو، دَ دوئ مور تامار وه. فِرص نه حصرون اَؤ
حصرون نه رام پیدا شو. (٤) دَ رام نه عمیناداب پیدا شو. دَ
عمیناداب نه نحشون پیدا شو اَؤ دَ نحشون نه سلمون، (٥) دَ
سلمون نه بوعز، دَ دهٔ مور راحب وه، دَ بوعز نه عوبید پیدا
شو، دَ دهٔ مور روت وه. دَ عوبید نه یَشی، (٦) اَؤ دَ یشی نه
داؤد بادشاه پیدا شو. داؤد دَ سلیمان پلار وو، دَ هغهٔ مور اول
دَ اوریا ښځه وه، (٧) دَ سلیمان زوئے رحبوعام وو، دَ
رِحبوعام زوئے ابیاه، دَ ابیاه زوئے آساه. (٨) دَ آساه زوئے
یهوسفط، دَ یهوسفط زوئے یورام اَؤ دَ یورام زوئے عُزیاه،
(٩) اَؤ دَ عُزیاه زوئے یوتام اَؤ دَ یوتام زوئے احاز، دَ احاز
زوئے حزقیاه، (١٠) دَ حزقیاه زوئے منسه، دَ منسه زوئے
امُون، دَ امُون زوئے یوشیاه، (١١) دَ یوشیاه زوئے یکونیاه،
اَؤ دَ هغهٔ ورُونه په هغه زمانه کښے پیدا شول چه بندیوان
بابل ته بوتللی شول. (١٢) دَ بندیوانئ اَؤ بابل ته دَ دوئ دَ بوتللو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه پس دَ یکونیاه نه شلتئ ایل پیدا شو اَؤ شلتئ ایل دَ زرُوبابل
پلار وو، ١٣ زرُوبابل دَ ابیهود، اَؤ ابیهود دَ اِلیاقیم اَؤ اِلیاقیم
دَ عازور پلار وو. ١٤ اَؤ دَ عازور نه صدوق پیدا شو،
صدوق دَ اخیم پلار وو، اخیم دَ اِلیهود، ١٥ اِلیهود دَ اِلعازر،
اِلعازر دَ مَتان، مَتان دَ یعقُوب، ١٦ یعقُوب دَ یُوسف پلار وو.
یُوسف دَ مریم خاوند وو چه عیسیٰ ترې پیدا شو څوک چه
مسیح بللې کیږي. ١٧ دَ اِبراهیم نه تر داؤد پورې ټولې
څوارلس پیړئ دی، اَؤ دَ داؤد نه بابل ته دَ بندیوان بوتللو
پورې څوارلس پیړئ، اَؤ دَ بندیوانئ نه تر مسیح پورې
څوارلس پیړئ دی.

## دَ عیسیٰ مسیح پیدایښت

لُوقا ٢ : ١ ـ ٧

١٨ دَ عیسیٰ مسیح دَ پیدایښت بیان داسې دې چه هر کله
چه دَ هغهٔ مور مریم یُوسف ته کوژدن شوه نو دَ وادهٔ نه
وړاندې معلُومه شوه چه هغه دَ رُوحُ القُدس نه اُمیدواره ده.
١٩ یُوسف یو نیک سړې وو، نو هغهٔ دَ هغې دَ بدنامئ نه دَ
بچ کولو دَ پاره په پرده کښې دَ کوژدن ماتولو نیت وکړو.
٢٠ هغهٔ دا نیت کړې وو چه په دې کښې دَ خدائې یوه
فرښته په خوب کښې ورته راغله اَؤ ورته ئې ووئیل چه
”اَئې دَ داؤد زویه یُوسفه! دَ مریم سره دَ وادهٔ کولو نه مه
ویریږه ځکه چه دَ هغې اُمیدواری دَ رُوحُ القدس په قُدرت
ده. ٢١ دَ هغې به زوئې وشی اَؤ تهٔ پرې عیسیٰ نُوم کیږده،
ولې چه هغه به خپل اُمت دَ ګُناهونو نه خلاصوی.“

٢٢ دا هر څهٔ ځکه وشول چه خدائې دَ نبی په معرفت څهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وئیلی وُو هغه پُوره شی. ۲۳ ”ګورئ، یوه پیغله به اُمیدواره
شی اَوْ زوئے به ئے وشی اَوْ دَ هغهٔ نُوم به عمانوایل کیږی دی“
چه معنیٰ ده، خدائے زمونږ مل دے. ۲۴ هر کله چه یُوسف
دَ خوبه بیدار شو نو دَ خدائے دَ فرښتے حُکم ئے ومنو اَوْ
مریم ئے خپل کور ته دَ خپلے ښځے په طور راوسته. ۲۵
اَوْ تر هغے ئے لاس ورنهٔ وړو تر څو چه ئے زوئے پیدا
شوے نهٔ وو، اَوْ دَ هغهٔ نوم ئے عیسیٰ کیښودو.

## نذرانے پیش کول

**۲** ۱ دَ هیرودیس بادشاه په ورځو کښے دَ یهودیه په بیتُ
لحم کښے عیسیٰ پیدا شو. دَ هغه دَ پیدایښت نه پس بیتُ
المُقدس ته دَ نمر خاتهٔ دَ لوری نه دَ ستورو علم لرُونکی راغلل
۲ اَوْ وئیل ئے چه ”هغه دَ یهودیانو بادشاه کیدُونکے
ماشُوم چه پیدا شوے دے چرته دے؟ ځکه چه مونږ دَ
نمرخاتهٔ نه دَ هغهٔ ستورے په راختو لیدلے دے اَوْ هغهٔ ته
سجده کولو ته راغلی یُو.“

۳ هیرودیس بادشاه په دے آوریدو پریشان شو اَوْ دَ بیتُ
المُقدس ټول اولس هم. ۴ هغهٔ دَ یهودیانو ټول مشران
کاهنان اَوْ دَ شرعے عالمان راوبلل اَوْ هغوئ ته ئے دا سوال
وړاندے کړو چه ”مسیح به چرته پیدا کیږي؟“

۵ هغوئ ووئیل چه ”دَ یهودیه په بیتُ لحم کښے.“ اَوْ
هغوئ دَ هغے پیشن ګوئی حواله ورکړه چه په کښے دَ نبی
په معرفت لیکلی شوی دی چه :

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ”اَے دَ يهوديه دَ مزکے بيتُ لحم ښارئے!

تهٔ دَ يهوديه په لويو ښارُونو کښے

هيڅکله هم ورکوټے نهٔ ئے،

ځکه چه ستا نه به هغه سردار راؤزی

چه زما دَ خلقو اِسرائيلو شپُون به وی.“

۷ هيروديس بيا دَ ستورو علم لرُونکی په پرده کښے راويلل
اَؤ دَ ستوری دَ راختو وخت ئے ترے يقينی کړو. ۸ هغهٔ
بيا دوئ بيتُ لحم ته واستول اَؤ ورته ئے ووئيل چه ”لاړ شئ
اَؤ دَ هغه ماشوم په حقله پُوره پُوره تحقيق وکړئ، اَؤ چه بيا
ئے مُومئ نو ما خبر کړئ چه زهٔ هم ورشم اَؤ سجده ورته
وکړم.“

۹ دَ بادشاه په حُکم هغوئ روان شول اَؤ هغه ستورے چه
دوئ په راختو ليدلے وو دَ دوئ په وړاندے روان وو اَؤ آخر
په هغه ځائے ودريدو چرته چه ماشُوم پروت وو. ۱۰ هغوئ
دَ ستوری په ليدو ډير زيات خوشحاله شول. ۱۱ کورته په
ننوتو ئے ماشُوم دَ خپلے مور مريم په غيږ کښے وليدو اَؤ
ورته په سجده پريوتل. پس له هغے ئے خپلے هميانئ
وسپړدے اَؤ هغهٔ ته ئے نذرانے پيش کړے چه په کښے سرهٔ
زر، لوبان اَؤ مر وُو.

۱۲ هغوئ ته په خوب کښے دا حُکم وشو چه هيروديس
بادشاه له بيرته مهٔ ځئ، نو هغوئ په بله لار کورته واپس شول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مصرته هجرت کول

۱۳ کله چه هغوئ رُخصت شول نو یُوسف ته دَ خدائے یوه
فرښته په خوب کښے حاضره شوه اَؤ ورته ئے ووئیل چه
"پاڅه! ماشُوم اَؤ مور ئے دَ ځان سره کړه اَؤ مصر ته
هجرت وکړه، اَؤ تر هغے هلته ایسار شه چه زۀ درته ووایم
ځکه هیرودیس دَ دے ماشُوم په تلاش کښے دے چه ختم
ئے کړي."

۱۴ اَؤ یُوسف دَ خوبه بیدار شو اَؤ شپه په شپه ئے ماشُوم
اَؤ دَ هغۀ مور مصر ته بوتلل، ۱۵ اَؤ هلته دَ هیردیس تر مرګه
پورے وو. دا دَ خدائے هغه وینا پُوره کول وُو چه هغۀ دَ نبی
په معرفت وئیلی وُو چه "ما خپل زوئے دَ مصر نه راوبللو."

## دَ ماشُومانو قتل

۱۶ هر کله چه هیرودیس دَ مُسافرانو په دوکه پوهه شو نو
زیات په قهر شو اَؤ حُکم ئے وکړو چه دَ بیتُ لحم اَؤ خوا اَؤ
شا هغه ټول ماشُومان چه دوه کاله یا کم عُمر لری، هغه
وژنئ. دا حساب ئے دَ مُسافرانو دَ وینا په اندازه لګولے وو.

۱۷ دغه رنګ هغه خبره چه دَ یرمیاه نبی په وسیله شوے وه
پُوره شوه چه :

۱۸ "په راماه کښے یو غږ واؤریدے شو

چه راحیل په خپل زوزاد ژړا انګولا کوله،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَوُ هيڅ تسلی ئے قبوله نۀ کړه ځکه چه هغوئ نِشته.“

## دَ مصر نه واپسی

١٩ کله چه هيروديس مړ شو نو ګورئ، دَ خدائے فرښته په
مصر کښې يُوسف ته په خوب کښې حاضره شوه اَوُ ورته
ئے ووئيل چه ٢٠ ”پاڅه! ماشوم اَوُ مور ئے دَ ځان سره
کړه اَوُ دَ دوئ سره دَ اِسرائيل مزکې ته لاړ شه، ځکه چه دَ
چا نه چه دَ دے ماشُوم سر ته خطره وه هغوئ مړۀ دی.“
٢١ نو هغه پاڅيدو، ماشُوم اَوُ مور ئے دَ ځان سره روان
کړل اَوُ دَ اِسرائيل مزکې ته راغلل. ٢٢ خو چه دائے
واؤريدل چه دَ خپل پلار هيروديس په ځائے ارخلاؤس دَ
يهوديه بادشاه دے، نو هلته دَ تللو نه ويريدو. اَوُ چه په خوب
کښې ورته دا خبر وشو نو هغه دَ ګليل علاقې ته بيرته لاړو،
هلته هغه په ناصرت نُومې ښار کښې ديره شو. ٢٣ دا دَ
نبيانو په وسيله دَ وئيلی شوے هغه خبرے تر سره کول وُو
چه : ”هغۀ ته به ناصری وئيلے شي.“

## دَ يحيىٰ بپتسمه ورکوُونکی وعظ کول

مرقوس ١ : ١ ـ ٨، لُوقا ٣ : ١ ـ ١٨، يوحنا ١ : ١٩ ـ ٢٨

٣ ١ په دغه ورځو کښې بپتسمه ورکوُونکے يحيىٰ راغے
چه دَ يهوديه په بيابان کښې ئے دا وعظ کولو چه ٢ ”توبه
ګار شئ ځکه چه دَ آسمان بادشاهی راتلُونکے ده!“ ٣ دا
هغه څوک دے چه دَ يشعياه نبی په وسيله ئے ذکر شوے
دے، يعنې :

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”په بيابان کښې دَ نعرې وهُونکی آواز دے

چه دَ مالک لاره جوړه کړئ

اَؤ دَ هغهٔ لارے نيغے کړئ.“

۴ دَ يحيىٰ جامے دَ اوښ دَ وړئ نه جوړے وے اَؤ دَ
ځرمنے کمر بند ئے تر ملا تاؤ وو اَؤ ملخان اَؤ ځنګلی ګبين
ئے خوراک وو. ۵ دَ بيتُ المقدس، يهوديه اُردن اَؤ دَ ګير
چاپيره وطن ټول خلق هغهٔ ته راتلل شول. ۶ هغو له ئے دَ
ګناهونو په اِقرار کولو سره دَ اُردن دَ سيند په اوبو بپتسمه
ورکړه.

۷ هغهٔ چه وليدل چه ډير فريسيان اَؤ صدُوقيان دَ بپتسمے
دَ پاره راځی نو ورته ئے ووئيل، ”اَئے دَ منګرو بچو! دا چا
درته وښئيل چه دَ راتلُونکی غضب نه وتښتئ؟ ۸ نو توبه
وکړئ اَؤ عملُونه سم کړئ! ۹ دا په زړهٔ کښې مهٔ راولئ
چه تاسو دَ اِبراهيم اَؤلاد يئ، ځکه چه زهٔ درته دا وايم چه
خدائے دَ دے کاڼو نه هم دَ اِبراهيم دَ پاره اَؤلاد پيدا کولے
شی. ۱۰ دَ ونو جرړو ته تبر نيولے شوے دے اَؤ هر هغه
ونه چه ښه ميوه نهٔ نيسی هغه به پرے کړے شی اَؤ اور ته به
اچولے شی. ۱۱ زهٔ تاسو له دَ توبے دَ پاره په اوبو بپتسمه
درکوم خو څوک چه به زما نه پس راځی هغه زما نه زيات
زورَور دے. زهٔ دَ هغهٔ دَ څپلو پورته کولو قابل هم نهٔ يم. هغه
به درله په رُوحُ القُدس اَؤ په اور بپتسمه درکوی. ۱۲ ښاخئ
دَ هغهٔ په لاس کښې ده. هغه به خپل درمند په ښهٔ شان
پاکوی اَؤ غنم به په خمبه کښې جمع کوی، خو بُوس به په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه اور کښې سوزوی چه هيڅ کله نۀ مری.“

## دَ عيسىٰ بپتسمه آخستل

مرقوس ۱ : ۹ ـ ۱۱، لُوقا ۳ : ۲۱ ـ ۲۲

۱۳ بيا عيسىٰ دَ ګليل نه دَ اُردن غاړې ته راغې چه يحيىٰ دَ
هغۀ بپتسمه وکړي. ۱۴ خو يحيىٰ هغه منع کړو اَؤ وئيل ئې
چه ”حاجتمند زَۀ يم چه ستا نه بپتسمه واخلم، اَؤ تۀ ما له
راځې؟“ ۱۵ عيسىٰ ورته ووئيل چه ”په دې وخت داسې په
کار دی ځکه چه مونږ له دغه شان دَ خدائې صداقت پوره
کول مُناسب دی.“ اَؤ بيا يحيىٰ دا ومنله.

۱۶ دَ بپتسمې نه پس عيسىٰ دَ اوبو نه سمدستی راوختو اَؤ
په هغه وخت آسمان ورته خلاص شو اَؤ دَ خدائې رُوح ئې
وليدو چه دَ کونترې په شان په هغۀ راکُوزيدو. ۱۷ اَؤ
ګورئ، دَ آسمان نه دا آواز راغې چه ”دا زما خوږ زوئې
دې چه په ما ګران دې اَؤ زۀ ترې رضا يم.“

## دَ عيسىٰ مسيح آزميښت

مرقوس ۱ : ۱۲ ـ ۱۳، لُوقا ۴ : ۱ ـ ۱۳

۴ ۱ رُوح القُدس هغه وخت عيسىٰ بيابان ته بوتلو چه په
اِبليس ئې وآزمائی. ۲ هغۀ څلويښت ورځې اَؤ څلويښت
شپې روژه ونيوله اَؤ په آخر کښې هغه وږې شو. ۳ بيا
آزميښت کوُونکې ورغې اَؤ ورته ئې ووئيل، ”که تۀ دَ
خدائې زوئې ئې نو دې کاڼو ته ووايه چه ډوډۍ شی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ عیسیٰ جواب ورکړو، "صحیفے وائی چه : "بنی آدم
تش په ډوډئ نهٔ پائی خو هغه په هر هغه خبره پائی چه دَ
خدائے دَ خُلے نه وځی."" ۵ بیا اِبلیس دَئے مُقدس ښار
ته بوتلو اَوَ دَ خدائے دَ کور په مناره ئے ودرولو، ۶ اَوَ
ورته ئے ووئیل چه "که تهٔ دَ خدائے زوئے ئے نو خپل ځان
ښکته ګُذار کړه، ځکه چه صحیفے وائی چه : "هغه به ستا دَ
پاره خپلو فرښتو له حُکم ورکړی، اَوَ هغوئ به تا په خپلو
لاسُونو کښے پورته کړی چه ستا پښه په کاڼی ونهٔ دړدیږي.""
۷ عیسیٰ جواب ورکړو چه "صحیفے دا هم وائی چه :
"تاسو په خپل مالک خدائے آزمیښت مهٔ کوئ."" ۸ بیا
ابلیس هغه دَ یو دنګ غر څوکے ته وخیژولو اَوَ دَ دُنیا ټولے
بادشاهئ ئے ورته په پُوره شان اَوَ شوکت کښے څرګندے
کړے ۹ اَوَ ورته ئے ووئیل، "دا هرڅهٔ به تاله درکړم خو
که تهٔ راته سجده وکړے اَوَ عبادت راته وکړے."

۱۰ خو عیسیٰ ورته ووئیل چه "ورک شه شیطانه! صحیفے
وائی چه : "تهٔ به خپل مالک خدائے ته سجده کوے اَوَ تش دَ
هغهٔ بندګی به کوے."" ۱۱ نو اِبلیس هغه پریښودو اَوَ
فرښتے راغلے اَوَ دَ هغهٔ په خدمت کښے حاضرے شوے.

## دَ عیسیٰ په ګلیل کښے خدمت شروع کول

مرقوس ۱ : ۱۴ ـ ۱۵، لُوقا ۴ : ۱۴ ـ ۱۵

۱۲ هر کله چه عیسیٰ واؤریدل چه یحییٰ ګرفتار شوے دے
نو هغه ګلیل ته بیرته راغے. ۱۳ ناصرت ئے پریښودو اَوَ په
کفرنحُوم کښے دیره شو چه دَ دریاب په غاړه دے، چه
زبولون اَوَ نفتالی په سرحد دے. ۱۴ دا دَ یشعیا نبی په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسيله شوے خبرے پُوره کؤُل وُو يعنے :

۱۵ ”دَ زبولون اَؤ دَ نفتالى علاقه،

دَ درياب طرف ته دَ اُردن نه پورے،

دَغير قومونو گليل!

۱۶ هغه خلق چه په تيارهٔ کښے ناست وُو،

هغوئ يوه لويه رڼا وليدله،

اَؤ ځوک چه دَ مرگ په مزکه

اَؤ په سُورى کښے ناست وُو،

پرے رڼا راوختله.“

۱۷ دَ هغے ورځے نه عيسىٰ دا وعظ شروع کړو چه ”توبه
گار شئ ځکه چه دَ آسمان بادشاهى دربانديے راغله!“

## دَ عيسىٰ مسيح څلورو ماهى گيرو ته بلنه ورکول

مرقوس ۱ : ۱۶ ـ ۲۰، لُوقا ۵ : ۱ ـ ۱۱

۱۸ عيسىٰ دَ گليل درياب په غاړه گرزيدو چه دوه ورُوڼه ئے
وليدل، يو شمعون چه پطروس بللے شى اَؤ دَ هغهٔ ورور
اَندرياس. هغوئ په درياب کښے جال اچولو ځکه چه دوئ
ماهى گيران وُو. ۱۹ عيسىٰ ورته ووئيل چه ”ماپسے راځئ
اَؤ زهٔ به تاسو دَ بنى آدمو لټوُونکى جوړ کړم.“ ۲۰ هغوئ
سمدستى جالُونه پريښودل اؤ په هغهٔ پسے روان شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ عیسیٰ په مخه تلو اَؤ دوه نور وروُڼه ئې ولیدل، دَ زبدی
زوئې یعقُوب اَؤ دَ هغهٔ ورور یوحنا چه په کشتئ کښې ئې دَ
خپل پلار زبدی سره جالُونه مُرمت کول. هغوئ ئې راوبلل
۲۲ اَؤ هغوئ سمدستی کشتئ اَؤ خپل پلار پرېښودل اَؤ په
هغهٔ پسې روان شول.

## دَ عیسیٰ مسیح تعلیم ورکول، وعظ کول اَؤ رنځوران جوړول

لُوقا ۶ : ۱۷ ـ ۱۹

۲۳ عیسیٰ په ټول ګلیل کښې و ګرزیدو، دَ هغوئ په عبادت
خانو کښې ئې تعلیم ورکاوو اَؤ دَ بادشاهئ دَ زیری وعظ
ئې کاوو اَؤ دَ خلقو هر رنځ اَؤ هره کمزورتیا ئې روغوله.
۲۴ دَ هغهٔ آوازه په ټول شام کښې خوره شوه اَؤ دَ هر رنځ
رنځوران چه په عذاب آخته وُو، یعنې هغوئ چه بد رُوحونه
په کښې وُو، میرګو نیولی اَؤ شل ئې ورله راوستل اَؤ هغهٔ
روغ کړل. ۲۵ ډیر خلق ورپسې روان شول چه دَ ګلیل، دَ
دِکپولس، دَ بیتُ المُقدس، دَ یهودیه اَؤ دَ اُردن دَ پورې غاړې
اوسیدونکی وُو.

## دَ عیسیٰ مسیح په غرهٔ باندې وعظ

۵ ۱ کله چه عیسیٰ ګڼ خلق ولیدل نو غرهٔ ته وختلو اَؤ
هلته کښیناستو. اَؤ کله چه دَ هغهٔ مُریدان ورته راټول شول،
۲ نو هغهٔ ورته داسې تعلیم ورکول شروع کړو :

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## بختور څوک دي؟

لُوقا ۶ : ۲۰ ـ ۲۳

۳ ”بختور دي هغوئ چه دَ رُوح غريبان دي ځکه چه دَ
آسمان بادشاهي دَ هغوئ ده. ۴ بختور دي هغوئ چه غمژن
دي، هغوئ به تسلي ومُومي. ۵ بختور دي هغوئ چه
حليمان دي ځکه چه دوئ به دَ مزکے وارثان شي. ۶
بختور دي هغوئ چه دَ صداقت وږى تږى دي، دوئ به ماړهٔ
کړے شي. ۷ بختور دي هغوئ چه رحم کوي، په هغوئ به
رحم وکړے شي. ۸ بختور دي هغوئ چه زړونه ئے پاک
دي، هغوئ به دَ خدائے ديدن وکړي. ۹ بختور دي دَ اَمن
راوستُونکي، خدائے به هغوئ ته خپل زامن ووائي. ۱۰
بختور دي هغوئ چه دَ خدائے دَ رضا دَ پاره ربړولي کيږي،
دَ آسمان بادشاهي دَ هغوئ ده. ۱۱ تاسو بختور يئ چه زما دَ
پاره په ځان ملامتے، سختے زحمتے تيروئ اَؤ دَ خلقو قِسم
قِسم دروغژنے بدے خبرے زغمئ. ۱۲ دا هر څهٔ تاسو په
خوشحالئ اَؤ رُونړ تندى وزغمئ ځکه چه په آسمان کښے
ستاسو دَ پاره لوئے اَجر دے، ځکه چه ستاسو نه وړاندے
هم دغه رنګ دوئ نبيان ربړولي دي.

## مالګه اَؤ رڼا

مرقوس ۹ : ۵۰، لُوقا ۱۴ : ۳۴ ـ ۳۵

۱۳ تاسو دَ دُنيا دَ پاره مالګه يئ. که مالګه بے خونده شي نو
څنګه به مالګينه شي؟ دا بيا په هيڅ کار نهٔ راځي اَؤ دَ
غورزولو اَؤ دَ پښو دَ لاندے کولو جوګه شي.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ تاسو دَ ټول عالم دَ پاره رڼا یئ. کُوم ښار چه په غرۀ آباد
وی هغه پټیدے نۀ شی. ۱۵ چه ډیوه بله شی نو دَ اوړی
لاندے نۀ شی کیښودے، بلکه دَ ډیوټ دَ پاسه ایښلے شی
چرته چه دَ کور ټولو خلقو ته رڼا ورکوی. ۱۶ اَؤ تاسو هم
دغه رنګ دَ خلقو دَ وړاندے رڼا خوره کړئ دَ دے دَ پاره چه
هر کله چه هغوئ ستاسو ښۀ کارُونه ووینی نو هغوئ به
ستاسو دَ پلار چه په آسمان کښے دے، لوئی بیان کړی.

## دَ شریعت تعلیم ورکول

۱۷ دا خیال مه کوئ چه ګنی زَۀ دَ دے دَ پاره راغلے یم چه
شریعت اَؤ دَ نبیانو کتابُونه منسُوخ کړم. زۀ منسُوخ کولو ته
نۀ یم راغلے بلکه پُوره کولو ته راغلے یم. ۱۸ زَۀ درته دا
وایم چه تر څو پورے چه دا آسمان اَؤ مزکه ختم شوی نۀ
وی نو دَ شریعت یو ورکوټے حرف یا یو زبر قدر به هم
ورک نۀ شی، تر څو چه دا هر څۀ سر ته ونۀ رسی. ۱۹ نو
که څوک سړے تِر نه یو پوټسکے دَ شریعت هم مات کړی
اَؤ نورو خلقو ته دَ داسے کولو تعلیم ورکړی نو دَ آسمان په
بادشاهئ کښے به دَ دوئ ځائے دَ ټولو نه لاندے وی. خو
هغه څوک چه په شریعت عمل وکړی اَؤ نورو ته ئے هم
تعلیم ورکوی، هغه به دَ آسمان په بادشاهئ کښے لوئی بیا
مُومی. ۲۰ زَۀ تاسو ته دا وایم، تر څو چه تاسو په صداقت
کولو کښے دَ فریسیانو اَؤ دَ شرعے دَ عالمانو نه زیات نۀ یئ
نو تاسو هیڅ کله هم دَ آسمان په بادشاهئ کښے داخلیدے نۀ
شئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ قهر په بابت تعليم

٢١ تاسو آؤريدلى دى چه زمُونږ پلارُونو ته وئيلى شوى وُو
چه ”قتل مه کوئ. هغه څوک چه قتل وکړى هغهٔ ته به خامخا
په عدالت کښې سزا ورکولے شى.“ ٢٢ خو زَهٔ تاسو ته دا
وايم چه هر څوک چه خپل ورور ته قهر وکړى، هغهٔ ته به هم
ضرور په عدالت کښې سزا ورکړے شى. اَؤ که هغه خپل
ورور ته کم عقل ووائى نو هغه به ضرور عدالت ته جواب
ورکوى، اَؤ که چرے ورته ليونے ووائى نو هغه به خامخا دَ
هغې بدله کښې دَ دوزخ دَ اور سزا مُومى. ٢٣ که چرے
تاسو دَ قُربانئ ځائے ته څهٔ شے راؤړئ اَؤ درته راياد شى
چه ستا ورور په څهٔ خبره درنه خفه دے، نو خپله قُربانى په
هغه ځائے پرېږده، ٢٤ لاړ شه، اول خپل ورور پخلا کړه اَؤ
بيا راشه اَؤ خپل نذر وړاندے کړه. ٢٥ که څوک په تا دعوىٰ
لرى نو زر ورسره جوړه وکړه، کله چه تاسو دواړه عدالت ته
روان يئ. ګنى هغه به دِ مُنصف ته حواله کړى اَؤ مُنصف
سپاهى ته، اَؤ تهٔ به قيد شے. ٢٦ زَهٔ درته دا وايم، تر څو چه
تهٔ پيسه پيسه ادا نهٔ کړے تر هغې به تهٔ خلاص نهٔ شے.

## دَ زِنا په بابت تعليم

٢٧ تاسو ته معلُومه ده چه هغوئ ته وئيلى شوى وُو چه ”زنا
مه کوئ.“ ٢٨ خو زَهٔ تاسو ته دا وايم چه که يو سړے يوې
ښځې ته په بده سترګه وګورى نو هغهٔ په خپل زړهٔ کښې دَ
هغې سره زِنا وکړه. ٢٩ که چرے ستا ښئ سترګه دَ ګُناه
سبب شى. نو وئې باسه اَؤ دَ ځانه ئې وغورزوه. ستا دَ پاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به دا غوره وی چه دَ خپل وجُود یو اندام بائیلے، نۀ چه ستا
ټول وجُود دوزخی شی. ۳۰ اَؤ که چرے ستا ښئ لاس دَ
گُناه سبب شی نو پرے ئے کړه اَؤ وئے غورزوه. ستا دَ پاره
دا غوره ده چه دَ خپل وجُود یو اندام بائیلے، نۀ چه ستا ټول
وجُود دوزخی شی.

## دَ طلاق په بابت تعلیم

متی ۱۹ : ۹، مرقوس ۱۰ : ۱۱ ـ ۱۲، لُوقا ۱۶ : ۱۸

۳۱ هغوئ ته وئیلی شوی وُو، کُوم سړے چه خپله ښځه
طلاقه کړی نو خامخا دِ هغے ته طلاق نامه ورکړی. ۳۲ خو
زَۀ درته دا وایم چه کُوم سړے چه دَ حرام کارئ نه بغیر په
بل څۀ وجه خپله ښځه طلاقه کړی نو په هغے باندے زِنا
کوی، اَؤ هر څوک چه طلاقه شوے ښځه وادۀ کړی هغه هم
زِنا کوی.

## دَ سوگند په بابت تعلیم

۳۳ بیا دا تاسو آؤریدلی دی چه زمونږ نیکُونو ته وئیلی شوی
وُو چه ”خپل سوگند مه ماتوئ بلکه خپل قَسم دَ خدائے دَ
پاره خامخا پُوره کوئ.“ ۳۴ خو زۀ تاسو ته دا وایم چه
چرے هم قَسم مه خورئ، په آسمان باندے هم نۀ، ځکه چه
دا دَ خدائے تخت دے، ۳۵ اَؤ نۀ په مزکه ځکه چه دا دَ هغۀ
دَ پښو چوکئ ده، اَؤ نۀ په بیتُ المُقدس ځکه چه دا دَ لوئے
بادشاه ښاریه ده، ۳۶ اَؤ نۀ په خپل سر ځکه چه تۀ دَ دے یو
ویښتۀ هم په خپله مرضئ نۀ سپینولے اَؤ نۀ تورولے شئے.
۳۷ تاسو تش دَ هو په ځائے هو، اَؤ دَ نه په ځائے نه جواب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوئ. دَ دے نه زیات چې دے هغه دَ شیطان کار دے.

## دَ بدل په حقله تعلیم

لُوقا ۶ : ۲۹ ـ ۳۰

۳۸ تاسو خبر یئ چه دا وئیلی شوی وُو چه "دَ سترګے په
بدل کښے سترګه اَؤ دَ غاښ په بدل کښے غاښ." ۳۹ خو
زهٔ تاسو ته دا وایم چه دَ هغه سړی برخلاف مه ودرېږئ
څوک چه درسره بد کوی. که څوک درله په ښی مخ څپېړه
درکړی نو ګس مخ وروړاندے کړه. ۴۰ که چرے یو سړے
ستا په قمیص دعویٰ لری نو تهٔ خپله چُوغه هم ورله ورکړه.
۴۱ که چرے یو اِختیارمن تا یو میل په بیګار بیائی نو تهٔ
ورسره دوه میله لاړ شه. ۴۲ چه څوک درنه څهٔ وغواړی
هغه ورکړه اَؤ دَ داسے سړی نه مخ مهٔ اَړوه څوک چه درنه
قرض غواړی.

## دَ دُښمن سره مینه کول

لُوقا ۶ : ۲۷ ـ ۲۸، ۳۲ ـ ۳۶

۴۳ تاسو خبر یئ چه هغوئ ته وئیلی شوی وُو چه "دَ خپل
ګاونډی سره مینه کوئ اَؤ دَ خپل دُښمن نه کرکه." ۴۴ خو
زهٔ درته دا وایم چه دَ خپلو دُښمنانو سره مینه کوئ، اَؤ څوک
چه په تاسو ظُلم کوی دَ هغو دَ پاره دُعا غواړئ، ۴۵ چه په
دے تاسو دَ خپل آسمانی پلار زامن شئ، څوک چه په بدو اَؤ
په ښو یو شان خپل نمر راخیژوی اَؤ په دیانتدارو اَؤ په
بددیانتو یو شان باران وروی. ۴۶ که چرے تاسو تش دَ هغو
سره مینه کوئ څوک چه تاسو سره مینه کوی نو بیا تاسو دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ اَجر طمعدار يئ؟ ولے چه محصُولچيان هم دغسے
کوی. ۴۷ که چرے تاسو تش په خپلو ورُونړو سلام اچوئ نو
دا کُومه نا آشنا خبره ده؟ دغه څۀ خو غير قومُونه هم کوی.
۴۸ تاسو کامل شئ لکه څنګه چه ستاسو آسمانی پلار کامل
دے.

## دَ خيرات په حقله تعليم

۶ ۱ خبردار چه دَ خپلے ديندارئ نمائش دَ خلقو په
مخکښے ونۀ کړئ. که تاسو داسے وکړئ نو ستاسو دَ
آسمانی پلار سره هيڅ اَجر نشته.

۲ هر کله چه تاسو څۀ خيرات کوئ نو ړنډوره کوئ ئے
مه، لکه څنګه چه ئے رياکاران په عبادت خانو اَؤ کُوڅو
کښے کوی چه خلق ئے وستائی. زَۀ تاسو ته دا وايم چه
هغوئ خپل اَجر پُوره موندلے دے. ۳ نه! تاسو چه کله
خيرات کوئ نو په داسے شان چه ګس لاس مو په دے خبر
نۀ شی چه ستاسو ښئ لاس څۀ کوی. ۴ ستاسو نيکئ دِ
خامخا په پړده کښے وی اَؤ ستاسو آسمانی پلار چه دا هر
څۀ وينی چه تاسو ئے په پړده کښے کوئ، هغه به دَ دے بدل
درکوی.

## دَ دُعا په حقله تعليم

لُوقا ۱۱ : ۲ ـ ۴

۵ بيا دا چه تاسو چه کله دُعا کوئ نو دَ رياکارانو په شان
مه جوړيږئ! هغوئ دا ډيره خوښوی چه په عبادت خانو اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چوکونو کښې دَ دُعا دَ پاره ودرېږي چه هر څوک ئې
ووينى. زَهٔ تاسو ته دا وايم چه هغوئ خپل اَجر پوره ومُوندلو.
٦ کله چه تاسو دُعا کوئ نو خپلې کوټې ته ننوزئ، ور
پورې کړئ اَؤ خپل پلار ته په زارو شئ، څوک چه دَ پړدې
په دغه ځائې کښې موجُود دے. اَؤ ستاسو آسمانى پلار
څوک چه پټ رازُونه وينى، هغه به بدل درکوى. ٧ تاسو په
دُعا کښې دَ نورو قومُونو په شان تکرار مه کوئ، دَ چا چه دا
خيال دے چه دَ ډيرو وئيلو په وجه به دَ هغوئ واؤريدې
شى. ٨ دَ هغو پيښې مه کوئ ستاسو آسمانى پلار ستاسو
دَ غوښتو نه مخکښې ستاسو په حاجتُونو خبر دے. ٩ نو
داسې دُعا کوئ:

اَے په آسمان کښې زمُونږ پلاره!

ستا نُوم دِ پاک وى.

١٠ ستا بادشاهئ دِ راشى.

ستا مرضى دِ په مزکه پُوره شى

څنګه چه په آسمان کښې پُوره کيږى.

١١ مُونږ ته نن خپل نننئ رزق راکړه.

١٢ زمونږ قُصُورونه معاف کړه

لکه څنګه چه مُونږ خپل قصُوروار معاف کړى دى.

١٣ اَؤ مُونږ په آزميښت کښې مه اچوه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو مُونږ له دَ بدئ نه امان راکړه.

ولې چه بادشاهئ اَؤ قدرت

اَؤ لوئی تر همیشه پورې ستا دی. آمین.

۱۴ ځکه چه که تاسو دَ هغه چا قصُور معاف کړئ چا چه
درسره بد کړی وی، نو ستاسو آسمانی پلار به هم تاسو
معاف کړی. ۱۵ خو که چرې تاسو نور نهٔ معاف کوئ نو
ستاسو قصُورُونه به هم ستاسو آسمانی پلار معاف نهٔ کړی.

## دَ روژې په بابت تعلیم

۱۶ اَؤ دا هم چه هر کله چه تاسو روژه نیسئ نو دَ ریاکارانو
په شان ځانُونه خفه مه ښکاره کوئ. هغوئ خپل مخُونه ځکه
ورانوی چه خلق ووائی چه ګنی دَ دوئ روژه ده. زَهٔ تاسو ته
دا وایم چه هغوئ خپل اَجر پُوره مُوندلے دے. ۱۷ خو هر
کله چه روژه نیسئ نو خپل سر غوړوئ اَؤ مخ وینځئ، ۱۸ دَ
دے دَ پاره چه څوک دا ونهٔ وائی چه ګنی ستا روژه ده، خو
تش ستا آسمانی پلار څوک چه په پړده کښې دے اَؤ ستا
پلار چه په رازُونو آګاه دے، هغه به تا ته ستا اَجر درکړی.

## دَ آسمان خزانې

لُوقا ۱۲ : ۳۳ ـ ۳۴

۱۹ په مزکه ځان ته خزانې مه جمع کوئ چرته چه هغه
بزې وهی اَؤ زنګ کیږي اَؤ غلهٔ ورپسې کنډر کوی اَؤ پټوی
ئې. ۲۰ خپل ځان ته خزانې په آسمان کښې جمع کوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چرته چه نهٔ بزے شته اَوُ نهٔ زنګ چه دا خرابے کړی، اَوُ نهٔ
غلۀ ورپسے کنډر وکړی اَوُ په غلا ئے یوسی. ۲۱ ځکه چه
چرته ستا خزانه وی هلته به دِ زړهٔ وی.

## دَ جُسے رڼا

لُوقا ۱۱ : ۳۴ ـ ۳۶

۲۲ سترګے دَ وجُود ډیوے دی. که ستا سترګے جوړے
وی نو ستا ټول وجُود به رڼا وی. ۲۳ که سترګے دِ خرابے
وی نو ستا ټول وجُود به په تیارهٔ کښے وی. پس کُومه رڼا
چه په تا کښے ده، که هغه هم تیارهٔ ده نو بیا دا څومره لوئے
تور تم دے!

## دَ خدائے مال

لُوقا ۱۶ : ۱۳، ۱۲ : ۲۲ ـ ۳۱

۲۴ یو غُلام هم دَ دوؤ مالکانو خدمت نهٔ شی کولے. یا خو
به هغه دَ یو نه کرکه کوی اَوُ دَ بل سره مینه، اَوُ یا به هغه دَ یو
وفادار وی اَوُ دَ بل به هیڅ خیال نهٔ ساتی. تاسو دَ خدائے اَوُ
دَ دولت دواړو یو ځائے خدمت نه شئ کولے.

۲۵ ځکه زَهٔ تاسو ته وایم چه دَ خپل ژوند دَ پاره دَ خوراک
څښاک سودا پریږدئ اَوُ دَ ځان پټولو دَ پاره دَ جامو غم مه
کوئ. آیا ژوند دَ خوراک څښاک نه اَوُ وجود دَ جامو نه
افضل نهٔ دے؟ ۲۶ دَ هوا مارغانو ته وګورئ، دوئ نهٔ خو
کری اَوُ نهٔ ریبی اَوُ نهٔ ئے خمبُو کښے جمع کوی خو بیا هم
ستاسو آسمانی پلار هغوئ له رزق ورکوی. تاسو دَ مارغانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه ډېر غوره يئ! ۲۷ په تاسو کښې داسې څوک شته چه
هغه په اندېښنو خپل ژوند يو ساعت قدرې زيات کړی؟

۲۸ بيا دَ جامو اندېښنې دَ څۀ دَ پاره؟ لږ فکر خو وکړئ چه
سوسن څنګه په پټو کښې راټُوکيږي، هغوئ نۀ خو کار کوی
اَؤ نۀ وريشی. ۲۹ خو بيا هم زَۀ تاسو ته دا وايم چه سليمان
سره دَ خپلې ټولې دبدبې دَ دوئ په شان جامې نۀ وې
اغوستلې. ۳۰ که چرې خدائې هغه واښۀ چه نن شته اَؤ
صبا په تنُور کښې سوزولې شی، هغو ته دا رنګ جامې
اغوستولې شی، نو هغه به تاسو بې جامې ساتی څۀ؟
ستاسو عقيدې څومره کمزورې دی!

۳۱ نو دا اندېښنې مه کوئ چه څۀ به وخورُو يا څۀ به
وڅښُو يا څۀ به اغُوندُو، ۳۲ په دې ټولو څيزونو پسې نور
قومونه زغلی. ځکه چه ستاسو آسمانی پلار پوهيږي چه تاسو
ته دَ هر څۀ حاجت دې. ۳۳ تاسو دَ هر څۀ نه اول دَ
خدائې بادشاهئ اَؤ دَ هغۀ دَ ريښتينوالئ لټُون کوئ، نو نور
هر څۀ به تاسو ته په خپله حاصل شی. ۳۴ ځکه دَ صبا غم
مۀ کوئ، صبا به خپل غم په خپله کوی. دَ نن دَ پاره ننني غم
کافی دې.

## دَ نورو خلقو دَ عيبُونو دَ لټولو په باب کښې

لُوقا ۶ : ۳۷ ـ ۳۸، ۴۱ ـ ۴۲

۷ ۱ دَ نورو عيبُونه مه لټوئ چه ستاسو عيبُونه هم ونشی
لټولې. ۲ ځکه چه څنګه تاسو دَ نورو عيبُونه لټوئ دغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان به ستاسو عیبُونه هم ولتولے شی، اَؤ څنګه چه تاسو دَ
بل میچ کوئ، دغه رنګ به ستاسو هم میچ کیږي. ٣ تاسو
دَ خپل ورور دَ سترګے خسنی ته ولے ګوته نیسئ چه په
خپله مو په سترګه کښے تیر غړیږی؟ ٤ اَؤ تهٔ څهٔ رنګ
خپل ورور ته دا وئیلے شے چه راشه ستا دَ سترګے نه دا
خسنے وباسم، هر کله چه ستا په خپله سترګه کښے تیر
غړیږي؟ ٥ اَئے ریاکاره! اَول دَ خپلے سترګے نه تیر
وباسه، نو بیا به ستا نظر تیز شی اَؤ دَ خپل ورور دَ سترګے
نه به خسنے هم وویستے شے.

٦ پاک څیزُونه سپو له مه ورکوئ، خپلے مرغلرے
خنزیرانو ته مه غورزوئ. هغوئ به ئے تر پښو لاندے کړی اَؤ
په تاسو به راوګرزی اَؤ ریچے ریچے به مو کړی.

## غوښتل، لټول اَؤ ټکول

لُوقا ١١ : ٩ ـ ١٣

٧ وغواړئ نو دربه کړے شی، ولټوئ نو وبه ئے مُومئ،
وټکوئ نو ور به درته بیرته شی. ٨ څوک ئے چه غواړی،
هغه ئے آخلی، اَؤ څوک ئے چه لټُون کوی، هغه ئے مُومی،
اَؤ څوک ئے چه ټکوی، هغهٔ ته ور بیرته کیږي. ٩ په تاسو
کښے داسے څوک شته چه زوئ ترے ډوډئ وغواړی اَؤ
دَئے به ورله کاڼے ورکړی؟ ١٠ اَؤ یا چه ماهے وغواړی نو
مار به ورکړی؟ ١١ که تاسو څوک چه دومره بدکاره یئ، په
دے پوهیږئ چه خپل اَؤلاد له ښهٔ څیزُونه ورکړئ، نو ستاسو
آسمانی پلار به څومره غوره څیزونه هغه چا ته ورکوی چه
څوک ئے ترے غواړی! ١٢ څکه دَ نورو سره تل داسے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سلُوک کوئ لکه ځنګه سلُوک چه تاسو دَ ځان دَ پاره
غواړئ، دَ شریعت اَؤ دَ نبیانو تعلیم دا دے.

## تنګه دروازه

لُوقا ۱۳ : ۲۴

۱۳ په تنګه دروازه ننوزئ ځکه چه دَ تباهئ دروازه اَرته ده،
لاره ئے ښه پلنه ده اَؤ ډیر په دغه لاره ځی. ۱۴ خو کُومه
دروازه چه دَ ژوند په لوری ده هغه ورکوټے ده اَؤ لاره ئے
تنګه ده اَؤ دَ دے مؤندُونکی هم لږ دی.

## ونه اَؤ دَ هغے میوه

لُوقا ۶ : ۴۳ ـ ۴۴

۱۵ دَ دروغژنو نبیانو نه خبردار اوسئ، داسے کسان چه دَ
ګډو په جامو کښے تاسو ته راځی اَؤ په اصل کښے هغه
داړُونکی شرمخان دی. ۱۶ تاسو به هغوئ په خپله میوه
وپیژنئ. آیا دَ اَزغنو جاړو نه څوک انګور، یا دَ جاخُونو نه
څوک اینځر راشُوکولے شی څهٔ؟ ۱۷ هم دغه شان ښه ونه
ښه میوه نیسی اَؤ دَ بدے ونے میوه بده وی. ۱۸ ښه ونه
خرابه میوه نهٔ شی نیولے اَؤ نهٔ خرابه ونه ښه میوه نیولے
شی. ۱۹ اَؤ کُومه ونه چه ښه میوه نهٔ نیسی هغه پریکړے
شی اَؤ په اور کښے غورزولے کیږی. ۲۰ ځکه زهٔ وایم چه
تاسو به هغه په خپله میوه وپیژنئ.

## ما تهٔ هیچرے نهٔ وے پیژندلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ هر هغه څوک چه ما ته مالک مالک وائی هغه به دَ
آسمان په بادشاهئ کښې داخل نهٔ شی، خو صرف هغه
څوک چه زما دَ آسمانی پلار په رضا کار کوی. ۲۲ دَ
قیامت په ورځ به ډیر ما ته وائی چه مالکه! مُونږ ستا
په نُوم نبوت نهٔ وو کړے څهٔ؟ اَوْ ستا په نُوم مو پیریان نهٔ وُو
ایستلی څهٔ؟ اَوْ هم ستا په نُوم مو ډیرے مُعجزے نهٔ وے
ښوولے څهٔ؟ ۲۳ نو زَهٔ به هغوئ ته په ډاګه ووایم چه ما
تاسو هیچرے نهٔ یئ پیژندلے، تاسو چه بے شرعے کارُونه
کوئ زما نه لرے شئ!

## دوه قسمه بنیادُونه

لُوقا ۶ : ۴۷ ـ ۴۹

۲۴ اَوْ هغه سړے څوک چه زما دا خبرے آوْری اَوْ عمل
پرے کوی، هغه به دَ هغه هوښیار سړی په شان وګڼلے شی
چا چه خپل کور په یو مظبُوط ګټ باندے ودان کړے وو.
۲۵ اَوْ چه باران وشو، سیلاب راغے، زُول تیر شو اَوْ دَ دهٔ
کور سره ئے ټکرے وخوړے، خو دا راپرے نهٔ وتو ځکه چه
بنیادُونه ئے په یو مظبُوط ګټ باندے وو.

۲۶ خو دَ هغه چا به څهٔ انجام وی چه زما دا خبرے آوْری
اَوْ عمل پرے نهٔ کوی؟ دَ هغهٔ مِثال دَ هغه ناپوهه سړی دے
چا چه په شګو خپل کور جوړ کړے وو. ۲۷ باران ووریدو،
سیلاب راغے، زُول تیر شو اَوْ دَ دے کور سره ئے ټکرے
وخوړے اَوْ راپریوتو اَوْ برباد شو.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ څه وخت چه عيسىٰ دا خبرے بس کړے نو خلق دَ هغۀ
په تعليم حق حيران شول. ۲۹ ځکه چه هغۀ دَ هغوئ دَ
اُستاذانو په شان نه، بلکه دَ اِختيار دَ خاوند په شان ئے تعليم
ورکولو.

## دَ يو جُذامی روغول

مرقوس ۱ : ۴۰ ـ ۴۵، لُوقا ۵ : ۱۲ ـ ۱۶

۸ ۱ څۀ وخت چه عيسىٰ دَ غرۀ نه راکُوز شو نو ګڼ خلق
ورپسے وُو. ۲ خو اوس يو جُذامی ورورړاندے شو اَؤ په
سجده ورته پريوتو اَؤ وئے وئيل، "صاحبه! که تۀ غواړے نو
ما پاکولے شے."

۳ عيسىٰ خپل لاس وراُوږد کړو، پرِ ئے ولګولو اَؤ وئے
وئيل چه "زَۀ به داسے وکړم، پاک شه!" اَؤ په هغه درنګ
هغه دَ جُذام نه روغ شو. ۴ بيا عيسىٰ هغۀ ته ووئيل، "ګوره
چه هيچا ته دَ دے حال ونۀ وائے. خو لاړ شه اَؤ خپل ځان
کاهِن ته وښايه اَؤ کُومه شکرانه چه مُوسىٰ مقرره کړے ده،
هغه ورکړه. دا به ستا دَ روغتيا شاهدی شی."

## دَ رُومی صوبه دار نوکر جوړول

لُوقا ۷ : ۱ ـ ۱۰

۵ اَؤ کله چه عيسىٰ کفرنحُوم ته داخل شو نو يو رُومی
صوبه دار راغے اَؤ دَ هغۀ نه ئے اِمداد وغوښتو اَؤ وئيل ئے
چه ۶ "مالکه! زما يو نوکر په کور کښے شل پروت دے
اَؤ ډير په عذاب کښے دے."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ عیسیٰ ورته ووئیل، "زَۀ به درشم اَؤ جوړ به ئې کړم."

۸ خو صوبه دار جواب ورکړو چه "مالکه! زَۀ څوک یم
چه تۀ زما کور ته راشې؟ ستا په تشه وینا به هم زما نوکر
جوړ شی. ۹ زَۀ پوهېږم، ولې چه زَۀ دَ حُکم لاندې یم اَؤ
سپاهیان زما دَ حُکم لاندې دی. زَۀ چه یو ته ووایم چه لاړ
شه نو هغه لاړ شی، اَؤ چه بل ته ووایم چه راشه نو هغه
راشی، اَؤ چه خپل غُلام ته ووایم چه داسې وکړه نو هغه ئې
کوی." ۱۰ عیسیٰ په حیرانتیا دَ هغۀ خبرې واؤرېدې اَؤ
هغه خلق چه ورپسې تلل هغوئ ته ئې ووئیل چه "زَۀ تاسو
ته دا وایم چه ما داسې عقیده په بنی اِسرائیلو کښې هم چرته
نۀ ده لیدلې. ۱۱ زَۀ تاسو ته دا وایم چه دَ نمر خاتۀ اَؤ دَ نمر
پرېواتۀ نه به ډېر خلق داسې راځی چه دَ اِبراهیم، اسحاق اَؤ
یعقُوب سره به دَ آسمان دَ بادشاهئ په ډوډئ کښې یو ځائې
کښېنی. ۱۲ خو دَ بادشاهت وارثان به بهر تیارې ته
وغورزولې شی کُوم ځائې چه به ژړا انګولا اَؤ دَ غاښونو
چیچل وی." ۱۳ بیا عیسیٰ صوبه دار ته ووئیل چه "اوس
خپل کورته لاړ شه، نو ستا دَ عقیدې په وجه دِ داسې وی."

نو په هغه درنګ هغه نوکر جوړ شو.

## دَ ډېرو خلقو جوړول

مرقوس ۱ : ۲۹ ـ ۳۴، لُوقا ۴ : ۳۸ ـ ۴۱

۱۴ عیسیٰ بیا دَ پطروس کور ته لاړو اَؤ دَ پطروس خواښې
ئې په تبه پرته ولیده. ۱۵ نو دَ هغې لاس ته ئې لاس وروړو
اَؤ دَ هغې تبه لاړه. هغه پاڅېده اَؤ دَ هغۀ په خدمت کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آخته شوه. ۱۶ کله چه ماښام شو نو خلقو عيسىٰ له ډير
داسې کسان راوستل چه پيريانو نيولى وُو اَؤ هغۀ دَ هغوئ نه
په يو حُکم پيريان وشړل اَؤ ټول رنځوران ئې جوړ کړل، ۱۷
چه دغه رنګ دَ يشعياه نبى په وسيله وئيلې شوې دا پيشن
ګوئى پُوره شى چه :

”هغۀ زمُونږ رنځونه اَؤ کمزورئ اُوچتې کړې.“

## دَ عيسىٰ مسيح مُريد دَ جوړيدو په باب کښې

لُوقا ۹ : ۵۷ ـ ۶۲

۱۸ عيسىٰ چه دَ ځان نه چاپيره ګڼه وليده نو حُکم ئې وکړو
چه پورې غاړې ته لاړ شئ. ۱۹ يو دَ شرعې عالم ورغې
اَؤ وئې وئيل چه ”اُستاذه! چرته چه تۀ ځې، زَۀ به هم درسره
ځم.“

۲۰ عيسىٰ ورته ووئيل چه ”دَ لُومبړو خپل غارُونه وى اَؤ دَ
هوا دَ مارغانو جالې، خو اِبن آدم دومره ځائې هم نۀ لرى
چه سر په کښې ولګوى.“

۲۱ يو بل مُريد ورته ووئيل، ”مالکه! اول ما ته اِجازت راکړه
چه لاړ شم اَؤ دَ خپل پلار دَ کفن بندوبست وکړم.“

۲۲ عيسىٰ ورته ووئيل چه ”تۀ ماپسې راځه، مړى به په خپله
دَ مړو دَ کفن بندوبست وکړى.“

## په درياب کښې دَ طوفان منع کول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مرقوس ۴ : ۳۵ ـ ۴۱، لُوقا ۸ : ۲۲ ـ ۲۵

۲۳ عیسیٰ بیا په کشتئ کښے سور شو اَوْ مُریدان ورسره
شُو. ۲۴ ناڅاپی په دریاب کښے یو لوئے طوفان راغے اَوْ
څپے داسے اُوچتیدے چه په کشتئ راؤړیدے، خو هغه اُودهٔ
وو. ۲۵ نو هغوئ ورغلل اَوْ هغه ئے راویښ کړو اَوْ چغے
ئے وهلے، "اَئے مالکه! مُونږ دَ ډُوبیدو نه بچ کړه!"

۲۶ هغهٔ ورته ووئیل چه "تاسو ولے دومره ویریدُونکی یئ؟
ستاسو دا عقیده څومره کمزورے ده!" څهٔ وخت چه هغه
پاڅیدو اَوْ باد اَوْ اوبهٔ ئے ورټلے نو قلاره قلاری شوه.

۲۷ خلق په دے ننداره ډیر حیران شول اَوْ دوئ ووئیل چه
"دا لا څهٔ رنګ سړے دے چه باد اَوْ اوبهٔ ئے حُکم منی؟"

## دَ دوو بد رُوحُونو نیولو سړو جوړول

مرقُوس ۵ : ۱ ـ ۲۰، لُوقا ۸ : ۲۶ ـ ۳۹

۲۸ عیسیٰ چه دَ ګدریانو وطن ته پورے وتو نو دَ قبرُونو نه
دوه سړی راووتل چه پیریانو نیولی وُو اَوْ دومره خطرناک وُو
چه څوک په هغه لاره نهٔ شو تیریدلے. ۲۹ هغوئ چغے
کړے، "اَے دَ خدائے زویه! ستا زمونږ سره څهٔ دی؟ تهٔ دلته
دَ دے دَ پاره راغلے یے چه مُونږ دَ وخت نه مخکښے په
عذاب کړے څهٔ؟"

۳۰ لږ لرے دَ خنزیرانو یو لوئے کنډک څریدلو. ۳۱ اَوْ
پیریانو زاری ورته وکړه، "که چرے تهٔ مُونږ شړل غواړے نو
مُونږ دَ خنزیرانو دغه کنډک ته واستوه."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٢ هغۀ ورته ووئيل چه "ځئ!" نو هغوئ را بهر شول اَؤ په
خنزيرانو ورننوتل اَؤ دَ خنزيرانو ټول کنډک په منډه شو اَؤ دَ
غاړے نه ئے درياب ته ودانګل اَؤ په اوبو کښے ډُوب شول.

٣٣ شپُونکی ئے وتښتيدل اَؤ ښاريے ته لاړل اَؤ څۀ چه په
پيريانو تير شوی وُو هغلته ئے ټوله قيصه بيان کړه. ٣٤ په
دے خبره دَ ښاريے ټول خلق بهر راووتل چه عيسیٰ ووينی،
اَؤ کله چه ئے وليدو نو ورته ئے ووئيل چه "زمُونږ دَ حد نه
بهر شه."

## دَ يو شل سړی جوړول

مرقُوس ٢ : ١ ـ ١٢، لُوقا ٥ : ١٧ ـ ٢٦

٩ ١ نو عيسیٰ په کشتۍ کښے کښيناستو اَؤ پورے وتو اَؤ
خپل ښار ته راغے. ٢ ورله څۀ کسانو يو شل سړے په
کټ کښے راوړو. دَ هغوئ عقيده چه ئے وليده نو عيسیٰ هغه
سړی ته ووئيل چه "زويه! خاطر جمع کړه، ستا ګُناهونه
معاف شُو."

٣ په دے ځنے دَ شرعے عالمانو دَ ځان سره ووئيل چه
"دا ئے څۀ کُفر وغرَوو."

٤ عيسیٰ په دے پوهه وو چه دَ دوئ په زړۀ کښے څۀ تير
شول اَؤ ورته ئے ووئيل چه "تاسو داسے بد فکرونه ولے
کوئ؟ ٥ آيا دا آسانه خبره ده چه څوک ووائی چه ګُناهونه
دِ معاف اَؤ وبخښلے شُو اَؤ که دا ووائی چه پاڅه اَؤ وګرزه؟
٦ دَ دے دَ پاره چه ستاسو زړۀ ته پريوزی چه اِبن آدم ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دُنیا کښې دَ گُناهونو دَ بخښنې وړکولو اِختیار شته،“ نو
هغه شل سړی ته ئې مخ راواړوو اَؤ وئې وئیل چه ”پاڅه!
کټ دِ واخله اَؤ کور ته ځه!“

۷ دے سره سړے پاڅیدو اَؤ کور ته لاړو. ۸ خلق په
دے ننداره هیبت واخستل اَؤ بنی آدمو ته په داسې اِختیار
ورکولو ئې دَ خدائې ثنا ووئیله.

## دَ متی بلل

مرقُوس ۲ : ۱۳ ـ ۱۷، لُوقا ۵ : ۲۷ ـ ۳۲

۹ څنګه چه عیسیٰ له دے ځایه وړاندے تیر شو نو عیسیٰ
متی نُومې یو سړے دَ محصول په څوکۍ کښې ناست
ولیدو اَؤ هغۀ ته ئې ووئیل چه ”ما پسې راځه.“

متی پاڅیدو اَؤ په هغۀ پسې روان شو. ۱۰ څۀ وخت چه
عیسیٰ دَ متی په کور کښې ډوډۍ ته ناست وو نو ډیر
محصُولچیان اَؤ بد کاران دَ هغۀ دَ مُریدانو اَؤ هغۀ سره ناست
وُو. ۱۱ فریسیانو چه دا ولیدل نو دَ هغۀ مُریدانو ته ئې
ووئیل چه ”دا ستاسو اُستاذ دَ محصُولچیانو اَؤ بدکارانو سره
یو ځائې په ډوډۍ ولې کښینی؟“

۱۲ عیسیٰ چه دا واؤریدل نو وئې وئیل چه ”روغو خلقو ته
دَ طبیب حاجت نۀ وی خو رنځورانو ته وی. ۱۳ لاړ شئ اَؤ
دَ دے خبرے په معنیٰ ځان پوهه کړئ : ”ما ته دَ رحم
حاجت دے، نۀ چه دَ قربانئ.“ زۀ دَ دے دَ پاره نۀ یم راغلے
چه صادقان وبلم بلکه گُناه گاران.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ روژے په بابت تپوس

مرقُوس ۲ : ۱۸ ـ ۲۲، لُوقا ۵ : ۳۳ ـ ۳۹

۱۴ بيا دَ يحيىٰ مُريدان راغلل اَؤ دا عرض ئے وکړو چه
”څۀ وجه ده چه مُونږ اَؤ فريسيان خو روژے نيسو اَؤ ستا
حواريان ئے نۀ نيسى؟“

۱۵ عيسىٰ جواب ورکړو چه ”تاسو چرته جنجيان دَ وادۀ دَ
زلمى په موجُودگئ کښے په ژړا ليدلى دى څۀ؟ يو وخت به
راشى چه دَ وادۀ زلمے به دَ دوئ نه بيل کړے شى اَؤ بيا به
هغه وخت دوئ روژه نيسى. ۱۶ په زړه چُوغه باندے څوک
نوے پيوند نۀ لگوى ځکه چه دا پيوند چُوغه نوره هم شلوى
اَؤ نور لوئے سُورے په کښے جوړ شى. ۱۷ اَؤ نۀ څوک
نوى شراب په زړو مشکُونو کښے اچوى، اَؤ که نه، نو
مشکُونه وشليږى اَؤ شراب توئيږى اَؤ مشکُونه بربادېږى. بلکه
نوى شراب په نوو مشکُونو کښے اچولے کيږي اَؤ دغه شان
دواړه بچ کيږي.“

## دَ عبادت خانے دَ مشر لُور اَؤ هغه ښځه چه دَ عيسىٰ جامو له ئے لاس وروړو

مرقُوس ۵ : ۲۱ ـ ۴۳، لُوقا ۸ : ۴۰ ـ ۵۶

۱۸ عيسىٰ لا دا خبرے کولے چه يو سردار راغے اَؤ په
سجده ورته پريوتو اَؤ وئے وئيل چه ”اوس اوس مے لُور
مړه شوه، خو راشه اَؤ خپل لاس پرے کيږده اَؤ هغه به
ژوندئ شى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ عیسیٰ پاڅیدو، ورسره روان شو اَؤ مُریدان ورپسے
روان شول. ۲۰ نو بیا یوه ښځه چه دَ دولسو کالو راسے
ئے وینه نهٔ بندیده، دَ شا دَ طرفه راغله اَؤ هغه ئے دَ لمنے نه
ونیوله. ۲۱ ځکه چه دَ هغے دا باور وو چه "که زَهٔ تش دَ
هغهٔ چُوغے له لاس ورورېم، نو جوړه به شم."

۲۲ خو عیسیٰ مخ وروارَ وو اَؤ هغه ئے ولیده اَؤ ورته ئے
ووئیل، "زما لُورے! خاطر جمع کړه، ستا عقیدے تهٔ روغه
کړے." اَؤ هم هغه وخت هغه روغه شوه. ۲۳ کله چه عیسیٰ
دَ سردار کورته راغے اَؤ شپیلئ غږوُونکی اَؤ شور کوُونکی
ډیر خلق ئے ناقلاره ولیدل، ۲۴ نو هغهٔ ووئیل چه "په ډډه
شئ، جینئ مړه نهٔ ده، هغه اُودهٔ ده." اَؤ هغوئ ور پورے
خندا وکړه. ۲۵ خو څهٔ وخت چه ټول خلق بهر کړے شول
نو هغه کوټے ته ننوتو اَؤ جینئ ئے دَ لاسه ونیوه اَؤ هغه
پاڅیده. ۲۶ دا قیصه په ټول مُلک کښے خوره شوه.

## دَ دوؤ ړاندو سړو جوړول

۲۷ کله چه عیسیٰ وړاندے لاړو نو دوه ړاندهٔ ورپسے شول
اَؤ دا چغے ئے وهلے، "ائے دَ داؤد زویه! په مُونږ رحم
وکړه!"

۲۸ اَؤ څهٔ وخت چه هغه کورته دَ ننه شو نو هغوئ ورله
راغلل اَؤ عیسیٰ تپوس ترے وکړو، "آیا ستاسو دا یقین دے
چه زَهٔ دا طاقت لرم چه تاسو چه څهٔ غواړئ هغه زَهٔ کولے
شم؟" هغوئ ووئیل چه "هو مالکه!"

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ بیا هغهٔ دَ هغوئ سترګو له لاس وروړو اَؤ وئے وئیل چه
"څنګه چه ستاسو عقیده ده، دغسے دِ وشی." ۳۰ اَؤ دَ
هغوئ سترګے بینا شوے. عیسیٰ په ټینګه هغوئ ته ووئیل،
"ګورئ چه څوک دَ دے په حقله څهٔ وانهٔ وری." ۳۱ خو
هغوئ چه بهر ووتل نو په ټول مُلک کښے ئے دَ هغه په باب
کښے دا خبره خوره کړه.

## دَ یو چاړا سړی جوړول

۳۲ هغوئ په وتو کښے وُو چه یو سړے عیسیٰ له راوستے
شو چه په ژبه چاړا وو اَؤ پیریے پرے ناست وو. ۳۳ پیریے
ئے ترے وشړلو، نو هغهٔ خبرے وکړلے. موجُودو خلقو په
حیرانتیا ووئیل چه "دَ بنی اِسرائیلو په وطن کښے داسے کله
هم نهٔ دی شوی!"

۳۴ خو فریسیانو ووئیل چه "دَ پیریانو دَ سردار په مدد دَئے
پیریان وباسی."

## په خلقو باندے دَ عیسیٰ مسیح زړهٔ وسوځیدلو

۳۵ دغه شان عیسیٰ په ټولو کلو اَؤ ښارُونو وګرزیدو اَؤ دَ
هغوئ په عبادت خانو کښے ئے تعلیم ورکاوو اَؤ دَ بادشاهئ
زیرے ئے آؤروو اَؤ هر رنځ اَؤ هره کمزورتیا ئے جوړوَله.
۳۶ دَ هغه خلقو په لیدو ئے زړهٔ وسوځیدولو ځکه چه هغوئ
دَ بے شپُونکی ګډو په شان خوارهٔ وارهٔ اَؤ پریشانه وُو. ۳۷
هغهٔ خپلو مُریدانو ته ووئیل چه "فصل ډیر دے خو مزدُوران
لږ دی. ۳۸ دَ دے دَ پاره تاسو دَ فصل مالک ته سوال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړئ چه هغه دَ فصل ريبلو مزدُوران راواستوی.“

## دَ عيسىٰ مسيح دولس مُريدان

مرقوس ۳ : ۱۳ ـ ۱۹، لُوقا ۶ : ۱۲ ـ ۱۶

۱۰ ﴿۱﴾ بيا عيسىٰ خپل دولس مُريدان راوغوښتل اَؤ
هغوئ له ئے دَ ناپاکو رُوحونو لرے کولو اَؤ دَ هر قِسم
رنځُورانو اَؤ کمزورتيا روغولو اِختيار ورکړو. ﴿۲﴾ دَ هغه
دولسو رسُولانو نومُونه دا دی، رُومبے شمعُون چه پطروس
ورته وائی اَؤ دَ هغهٔ ورور اَندرياس، دَ زبدی زوئے يعقوب اَؤ
دَ هغهٔ ورور يوحنا، ﴿۳﴾ فيليپوس اَؤ برتلمائ، توما اَؤ متی
محصولچی، دَ حلفی زوئے يعقوب اَؤ تدی، ﴿۴﴾ شمعُون
ننګيالے اَؤ يهوداه اِسکريوتی، يعنے هغه سړے چه په عيسىٰ
ئے مُخبری وکړله.

## رسولانو ته هدايت

مرقوس ۶ : ۷ ـ ۱۳، لُوقا ۹ : ۱ ـ ۶

﴿۵﴾ عيسىٰ دا دولس کسان دَ دے هداياتو سره وليږل چه ”دَ
غير يهودی قومُونو په لوری مه ځئ اَؤ دَ سامريانو يوے
ښاريئے ته هم مه ننوزئ، ﴿۶﴾ خو دَ اِسرائيلو دَ کورنئ ورکو
شوو ګډو ته لاړ شئ. ﴿۷﴾ اَؤ په تلو تلو کښے دا پيغام
ورکوئ چه دَ آسمان بادشاهی نزدے راغلے ده. ﴿۸﴾
رنځُوران جوړوئ، مړی ژوندی کوئ، جُزاميان پاکوئ اَؤ
پيريان وباسئ. تاسو ويړيا ومُونده، ويړيا ئے ورکوئ. ﴿۹﴾
سرهٔ زر يا سپين زر يا تانبه ځان سره په خپلے هميانئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې مه وړئ. ۱۰ دَ لارې توښه مه آخلئ، مه دوه
قميصُونه آخلئ، نۀ نور پيزار، نۀ اَمسا، ځکه چه مزدُور دَ
خپلې مزدورئ حقدار دے. ۱۱ هر کله چه تاسو يو ښار يا
کلی ته ورشئ نو دَ داسې سړی کره ورځئ چه دَ ورتلو لائق
وي، اَؤ هلته تر هغې ايساريږئ تر څو چه رُخصت شوی نۀ
يئ. ۱۲ کُوم کور ته چه تاسو ننوزئ، دَ هغوئ سلامتی
غواړئ. ۱۳ که هغه دَ دے لائق وی نو ستاسو خير به
ورورسی، اَؤ که لائق نۀ وی نو ستاسو خير به بيرته تاسو ته
راوګرزی. ۱۴ خو که چرې څوک تاسو قبول نۀ کړی اَؤ
غوږ درته کيږدی نو هر کله چه تاسو دَ هغه کور يا ښار نه
بهر وزئ نو دَ خپلو پښو نه دُوړه وڅنډئ. ۱۵ زَۀ تاسو ته دا
وايم چه په ورځ دَ قيامت به دَ صدوم اَؤ دَ عموره دَ ملک
حال دَ دے ښار دَ حال نه ښۀ وی.

## دَ راتلُونکی عذاب په حقله

مرقوس ۱۳ : ۹ ـ ۱۳، لُوقا ۲۱ : ۱۲ ـ ۱۷

۱۶ ګورئ! زَۀ تاسو لکه دَ ګډو په شان شرمخانو ته آستوم.
دَ مارانو په شان هوښيار اَؤ دَ کونترو په شان بے آزاره
اوسئ. ۱۷ خبردار اوسئ چه دوئ به تاسو عدالتُونو ته
حواله کوی اَؤ په خپلو عبادت خانو کښې به مُونږ په کروړو
وهی، ۱۸ اَؤ زما دَ خاطره به تاسو حاکمانو اَؤ بادشاهانو ته
پش کوی چه دَ هغوئ اَؤ غيرو قومُونو دَ پاره شاهِدان شئ.
۱۹ خو هر کله چه تاسو ونيولے شئ نو دَ دے انديښنه مه
کوئ چه تاسو به څۀ اَؤ څنګه ووايئ. چه وخت راشی نو هغه
خبرے به په خپله ستاسو خُلے له راشی چه تاسو ته ئے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ضرورت وی. ۲۰ ځکه چه دغه به تاسو په خپله خبرے
کوُونکی نهٔ یئ بلکه ستاسو دَ آسمانی پلار رُوح به په تاسو
کښے خبرے کوی. ۲۱ ورور به دَ ورور دَ مرګ مُخبر شی
اَوْ پلار به دَ زوی، اَوْ اَوْلاد به دَ مور پلار نه خلاف شی اَوْ ویه
ئے وژنی. ۲۲ ټول به زما دَ نُوم په سبب تاسو سره کینه
کوی خو هغه سړے چه تر آخره صبر وکړی هغه به بچ شی.
۲۳ کله چه تاسو په یو ښار کښے ورېړېږئ نو بل ته هجرت
وکړئ. زهٔ رښتیا درته وایم چه دَ دے نه آګاهو چه تاسو دَ بنی
اِسرائیل په ټولو ښارُونو کښے وګرزئ چه اِبن آدم به راشی.

۲۴ شاګرد دَ خپل اُستاد نه لوئے نهٔ وی اَوْ نهٔ غلام دَ خپل
مالک نه. ۲۵ دَ شاګرد دَ پاره دا کافی ده چه دَ اُستاد په
شان شی اَوْ خادم دَ خپل مالک په شان. که چرے دَ کور
مالک ته بعلزبُول وئیلے شوے دے نو دَ هغهٔ دَ کور خلقو ته
به ولے نهٔ وائی؟

## دَ چا نه ویریدل

لُوقا ۱۲ : ۲ ـ ۷

۲۶ نو دَ هغوئ نه ویره مهٔ کوئ. داسے پټ شے نِشته چه
ښکاره به نهٔ شی اَوْ نهٔ داسے پټ خیز چه هغه به ونهٔ پیژندے
شی. ۲۷ څهٔ چه زهٔ تاسو ته په تیارهٔ کښے ووایم نو تاسو
ئے په رڼا کښے وایئ. څهٔ چه تاسو ته په غوږ کښے
ووئیلے شی هغه تاسو دَ کوټے په سر په چغو وایئ. ۲۸ دَ
هغه چا نه مه ویریږئ څوک چه وجُود وژنی خو رُوح نهٔ شی
وژلے، بلکه دَ هغه چا نه ویریږئ څوک چه دَ رُوح اَوْ دَ بدن
دواړو په دوزخ کښے دَ بربادولو توان لری. ۲۹ آیا دوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چنچنړے په يوه پيسه نۀ خرخيږی څۀ؟ خو بيا هم ستاسو دَ
پلار دَ رضا نه بغير يوه هم په مزکه نۀ راپريوزی. ۳۰ اَؤ څو
پورے چه ستاسو تعلق دے ستاسو دَ سر ويښتۀ هم شمارلی
شوی دی. ۳۱ پس هيڅ ويره مۀ کوئ، تاسو دَ بے شميره
چنچنو نه زيات قيمتی يئ.

## دَ خلقو په مخکښے دَ مسيح اِقرار کول

لُوقا ۱۲ : ۸ ـ ۹

۳۲ هر څوک چه دَ خلقو په وړاندے زما اِقرار وکړی، زَۀ به
په آسمان کښے دَ خپل پلار په وړاندے دَ هغۀ اِقرار وکړم.
۳۳ اَؤ هر څوک چه دَ خلقو په وړاندے زما نه اِنکار وکړی،
زَۀ به په آسمان کښے دَ خپل پلار په وړاندے دَ هغۀ نه اِنکار
وکړم.

## اَمن نه خو تُوره

لُوقا ۱۲ : ۵۱ ـ ۵۳، ۱۴ : ۲۶ ـ ۲۷

۳۴ تاسو دا خيال هيڅ کله مه کوئ چه زَۀ دُنيا ته دَ اَمن
راوړلو دَ پاره راغلے يم، زَۀ دَ اَمن راؤړلو دَ پاره نۀ يم راغلے
خو دَ تُورے دَ پاره. ۳۵ زَۀ دے ته راغلے يم چه سړے دَ
خپل پلار خلاف شی، لُور دَ مور اَؤ اِنږور دَ خواښے. ۳۶ اَؤ
دَ سړی دُښمنان به دَ هغۀ دَ کور خلق وی.

۳۷ داسے يو سړے هم زما لائق نۀ دے څوک چه دَ مور
پلار سره زما نه زياته مينه ساتی اَؤ هغه سړے هم زما لائق نۀ
دے څوک چه زما نه زياته مينه دَ خپل زوئے اَؤ لُور سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی. ۳۸ داسې سړے زما لائق نۀ دے څوک چه خپله
سولئ نۀ پورته کوی اَؤ زما په قدم نۀ ځی. ۳۹ څوک چه
ځان ساتی هغه به ژوند بائیلی، اَؤ څوک چه زما دَ پاره ژوند
بائیلی، هغه به ژوند بیا مُومی.

## اَجر

مرقوس ۹ : ۴۱

۴۰ څوک چه تاسو قبلوی هغه ما قبلوی، اَؤ څوک چه ما
قبلوی هغه زما رالیږُونکے قبلوی. ۴۱ هر هغه څوک چه یو
نبی دَ نبی په نُوم قبُول کړی هغه به دَ نبی اَجر مُومی، اَؤ هر
هغه څوک چه یو صادِق دَ صادِق په نُوم قبُول کړی، هغۀ ته
به دَ صادِق اَجر ورکړے کیږي. ۴۲ هر هغه څوک که یو
کنډول قدرے یخے اوبۀ دے ورکوټو ته زما دَ مُریدئ په
وجه ورکړی، نو زَۀ درته دا وایم چه هغه سړے به بے اَجره
پاتے نۀ شی."

## دَ یحییٰ بپتسمه ورکوُونکی قاصدان

لُوقا ۷ : ۱۸ - ۳۵

۱۱ ۱ کله چه عیسیٰ خپلو دولسو مُریدانو ته هدایت
ورکول ختم کړو نو هغه دَ هغه ځائے نه روان شو چه دَ
هغوئ په ښارُونو کښے تعلیم ورکړی اَؤ وعظ وکړی. ۲
یحییٰ څوک چه بندیوان وو اَؤ دَ مسیح دَ کارُونو په حقله ئے
واؤریدل، نو خپل مُریدان ئے ورته دَ دے پیغام سره
ورواستول چه ۳ "آیا هغه راتلُونکے تۀ یئے؟ اَؤ که نه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُونږ دَ بل چا اِنتظار وکړُو؟“

۴ عيسىٰ ورله جواب ورکړو، ”لاړ شئ، څۀ چه تاسو آؤرئ
يا وينئ، يحيىٰ خبر کړئ، ۵ چه ړاندۀ بينا کيږي، شل
ګرزى، جُزاميان پاکيږى، کاڼۀ آؤرى اَؤ مړى ژوندى کيږى اَؤ
خواران زيرے آؤرى. ۶ اَؤ بختور دے هغه څوک چه زما
په وجه دَ تيندک خوړلو نه بچ کيږى.“ ۷ څۀ وخت چه
استازى بيرته په لاره وُو نو عيسىٰ خلقو ته دَ يحيىٰ په حقله دا
وينا شروع کړه، ”تاسو صحرا ته دَ څۀ څيز ليدلو ته تلى وئ؟
يوه لُوخه چه باد وړله نه؟ ۸ نو بيا تاسو څۀ ليدو له وتلى
وئ؟ يو سړے چه ريښمينے اَؤ مهينے جامے ئے آغوستے
وے؟ بے شکه چه تاسو داسے سړے په محلُونو کښے
ولټوئ! ۹ نو تاسو بهر څۀ له تلى وئ، دَ يو نبى ليدو له؟
هو، بے شکه چه دَ يو نبى نه هم څۀ ډير لوئے! ۱۰ دا هغه
سړے دے چه دَ چا په باب کښے صحيفے وائى چه:
”ګورئ زَۀ خپل پيغمبر ستا دَ وړاندے ليږم چه ستا لار ستا دَ
وړاندے تياره کړى.“ ۱۱ رښتيا درته وايم چه بپتسمه
ورکُوونکے يحيىٰ نه لوئے زوئے لا يوے مور نۀ دے
راوړے، خو بيا هم دَ آسمان په بادشاهئ کښے څوک چه دَ
ټولو نه ورکوتے دے، هم هغه دَ هغۀ نه لوئے دے. ۱۲ دَ
بپتسمه ورکُوونکى يحيىٰ دَ راتلو دَ ورځو نه پس لا تر اوسه دَ
آسمان په بادشاهئ باندے زور کولے شى اَؤ زورور ئے په
زور رانيسى. ۱۳ ځکه چه ټولو نبيانو اَؤ شريعت تر يحيىٰ
پورے نبوت کاوو. ۱۴ اَؤ يحيىٰ راتلُونکے اِلياس دے، خو
که تاسو ئے ومنئ. ۱۵ څوک چه غوږُونه لرى هغه دِ ئے
واؤرى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ زَهٔ دَ دے نسل مِثال څرنګه درکړم؟ دوئ لکه په بازار
کښې دَ ناستو هلکانو په شان دے چه يو بل ته نعرے وهی
چه ۱۷ مُونږ درته شپيلئ وغږوله اَؤ تاسو ونهٔ ګډيدئ، مُونږ
درته وژړل اَؤ څانونه مو ووهل خو تاسو ويرُونه نهٔ کول. ۱۸
ځکه چه يحيىٰ وږے تږے راغے اَؤ هغوئ وائى چه په هغهٔ
پيرے ناست دے. ۱۹ اِبن آدم په خوړلو څښلو ورله راغے
اَؤ دوئ وائى چه دَهٔ ته ګورئ، يو ګيډور اَؤ شرابى، دَ
محصولچيانو اَؤ بدکارانو ملګرے! خو بيا هم حِکمت په خپلو
کارُونو صادِق ثابت شو."

## په توبه نهٔ کوُونکو ښارُونو باندے اَفسوس

لُوقا ۱۰ : ۱۳ ـ ۱۵

۲۰ بيا هغهٔ دَ هغه ډيرو ښاريو ذکر شروع کړو چرته چه هغهٔ
خپلے اکثرے مُعجزے ښکاره کړے وے اَؤ دَ هغوئ په
ناتوبه ګار کيدو ئے هغوئ ملامته کړل. ۲۱ هغهٔ ووئيل چه
"اَفسوس اَئے خوراَزينه! په تا اَفسوس بيت صيدا ځکه چه
که چرے دا مُعجزے چه تاسو ته ښکاره کړے شوے، که دا
په صور اَؤ په صيدا کښے شوے وے نو دے خلقو به پخوا
په څان ټاټ تاؤ کړے اَؤ په اِيرو ناست توبے به ئے ايستلے
وے. ۲۲ تاسو ته دا وايم چه دَ صور اَؤ صيدا حال به دَ
قيامت په ورځ ستاسو دَ حال نه ښهٔ وى. ۲۳ اَئے
کفرنحومه! آيا تهٔ به تر آسمان اُوچت کړے شے؟ تهٔ خو به
عالم اَرواح ته وغورزولے شے. ځکه چه که دا مُعجزے چه
په تا کښے ښکاره کړے شوے، که په صدُوم کښے شوے
وے نو صدُوم به تر ننه آباد وو. ۲۴ خو زَهٔ تاسو ته دا وايم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه دَ قیامت په ورځ به دَ صدُوم دَ خلقو حال ستاسو دَ حال
نه ښهٔ وی.“

## ما له راشه اَؤ آرام وکړه

لُوقا ۱۰ : ۲۱ ـ ۲۲

۲۵ په هغه وخت عیسیٰ داسے ووئیل چه ”اَئے پلاره! دَ
آسمان اَؤ دَ مزکے مالکه! زَهٔ ستا ثنا وایم چه تا دا خبرے دَ
پوهانو اَؤ هوښیارو نه پټے کړے اَؤ ماشُومانو ته دِ ظاهرے
کړے. ۲۶ هو پلاره! دا ستا رضا وه.

۲۷ هر څهٔ ما ته زما پلار سپارلی دی، اَؤ هیڅوک بے دَ
پلاره زوئے نهٔ پیژنی، اَؤ نهٔ څوک پلار پیژنی بے له زویه اَؤ
بےله هغوئ نه چه زوئ ئے ورته ښکاره کوی.

۲۸ اَئے تاسو چه ټول خواری کوئ اَؤ پنډ مو درُوند دے،
ما له راشئ اَؤ زَهٔ به آرام درکړم. ۲۹ زما جغ په غاړه کړئ
اَؤ له ما نه زده کړئ، ولے چه زَهٔ حلیم یم اَؤ په زړهٔ کښے
غریب، اَؤ ستاسو رُوحونه به آرام مُومی. ۳۰ ولے چه زما
جغ په وړلو کښے پوست دے اَؤ زما پنډ سپک دے.“

## دَ سبت په ورځ وږی شُو کول

مرقوس ۲ : ۲۳ ـ ۲۸، لُوقا ۶ : ۱ ـ ۵

۱۲ ۱ یو ځلے چه عیسیٰ دَ سبت، یعنے دَ خالی په
ورځ، دَ غلے په فصل تیریدو اَؤ دَ هغهٔ مُریدان وږی شوی
وُو، هغوئ دَ وږو په شُوکولو آخته شول اَؤ په خوړولو لګیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول. ۲ څهٔ وخت چه فریسیانو دا ولیدل نو هغهٔ ته ئے
ووئیل چه "گوره! ستا مُریدان داسے کار کوی چه دَ سبت
په ورځ ناروا دے."

۳ هغهٔ ورته جواب ورکړو چه "تاسو دا نهٔ دی لوستلی چه
داؤد اَؤ دَ هغهٔ ملگری چه وږی شوی وُو نو هغوئ څهٔ کړی
وُو؟ ۴ هغه دَ خُدائے کور ته ننوتو اَؤ دَ قُربانئ ډوډئ ئے
وخوړله اگر چه هغه په دَهٔ اَؤ دَ دَهٔ په ملگرو حرامه وه اَؤ تش
کاهنانو ته حلاله وه. ۵ اَؤ تاسو په تورات کښے دا نهٔ دی
لوستلی چه دَ خُدائے په کور کښے دَ سبت په ورځ کاهنانو
سبت مات کړے وُو اَؤ هغوئ پرے گُناه گار شوی نهٔ وُو.
۶ زَهٔ تاسو ته وایم چه دلته دَ خُدائے دَ کور نه څهٔ نور هم
لوئے څیز موجُود دے. ۷ که چرے تاسو دَ دے آیات په
مطلب پوهه وئ چه "زَهٔ رحم خوښوم، قربانی نه،" نو تاسو
به بے گناه خلق گُناه گار کړی نهٔ وُو. ۸ ځکه چه اِبن آدم
دَ سبت مالک دے."

## یو سړے چه لاس ئے شل وو

مرقوس ۳ : ۱ ـ ۶، لُوقا ۶ : ۶ ـ ۱۱

۹ عیسیٰ یو بل ځائے ته لاړو اَؤ دَ هغوئ عبادت خانے ته
ورننوتو. ۱۰ هلته ئے یو په لاس شل سړے ولیدو اَؤ هغه
خلقو دَ عیسیٰ نه تپوس وکړو چه "آیا دَ سبت په ورځ روغول
روا دی؟" ځکه چه هغوئ په دَهٔ دَ تور لگولو بهانه لټوله. ۱۱
خو هغهٔ ورته ووئیل چه "فرض کړئ چه تاسو یوه گډه لرئ
اَؤ هغه دَ سبت په ورځ کندے ته پریوزی، په تاسو کښے
داسے یو کس هم شته چه هغه به دَ سبت په ورځ دَ هغے دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راخیژولو کوشش نۀ کوی؟ ۱۲ اَؤ بے شکه چه اِنسان دَ
ګډے نه ډیر زیات قیمتی دے! ځکه دَ سبت په ورځ نیکی
کول روا دی." ۱۳ هغه سړی ته ئے مخ ورواړوو اَؤ ورته
ئے ووئیل چه "خپل لاس وغزوه."

هغۀ لاس وغزوو اَؤ هغه دَ بل لاس په شان روغ جوړ شو.

۱۴ خو فریسیان چه دَ عبادت خانے نه بهر ووتل نو دَ
عیسیٰ دَ مړ کولو صلاح ئے وکړه.

## دَ خُدائے مقرر کړے خادم

۱۵ عیسیٰ په دے خبر شو اَؤ بیرته راستُون شو. ډیر خلق په
هغۀ پسے روان شول اَؤ هغۀ ټول هغه رنځوران روغ کړل.
۱۶ اَؤ هغوئ ته ئے په کلکه ووئیل چه "ما به نه ښکاره
کوئ." ۱۷ دا دَ یشعیاه نبی دَ دے پیشن ګوئی پُوره کول وُو
چه

۱۸ "دا زما خادم دے چه ما غوره کړے دے،

زما محبوب چه روح مے پرے خوشحاله دے.

زَۀ به خپل رُوح په هغۀ سورے کړم،

اَؤ هغه به غیرو قومُونو ته اِنصاف رسوی.

۱۹ هغه به نۀ جګړه کوی، نۀ شور،

اَؤ نۀ به په کُوڅو کښے دَ هغۀ آواز آؤریدے شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ هغه به چاؤدلی دُرمه قدرے هم نۀ ماتوی،

اَؤ نۀ به لوګے کیدُونکے لیتکے مړ کوی،

تر څو چه هغۀ اِنصاف بریالے کړے نۀ وی.

۲۱ قومُونه به دَ هغۀ په نُوم اُمیدونه تړی.“

## عیسیٰ اَؤ بعلزبُول

مرقوس ۳ : ۲۰ ـ ۳۰، لُوقا ۱۱ : ۱۴ ـ ۲۳

۲۲ بیا هغوئ ورله یو ړُوند ګونګ سړے راوستو چه پیرے
پرے ناست وو. عیسیٰ هغه جوړ کړو، ژبه ئے ګویا شوه اَؤ
په سترګو بینا شو. ۲۳ لیدُونکی خلق ټول حق حیران شول
اَؤ دا خبره خوره شوه چه ”آیا دا دَ داؤد زوئے نۀ دے څۀ؟“

۲۴ خو کله چه فریسیانو دا واؤریدل نو هغوئ ووئیل چه
”دا سړے دَ پیریانو دَ سردار بعلزبول په مدد پیریان شړی.“

۲۵ عیسیٰ دَ دوئ په نیتُونو خبر وو، نو ځکه ئے هغوئ ته
ووئیل، ”هره بادشاهی چه په خپلو کښے وویشلے شی هغه
ویجاړیږی، اَؤ یو ښار یا کور هم څوک چه په خپلو کښے
برخلاف وی پاتے کیدے نۀ شی. ۲۶ که چرے شیطان
شیطان شړی نو بیا خو شیطان په خپله دَ ځان خلاف شو،
نو دَ شیطان بادشاهی څنګه پاتے کیدے شی؟ ۲۷ اَؤ که
چرے زَۀ پیریان دَ بعلزبول په مدد شړم نو ستاسو خپل
مُریدان ئے په کُومه ذریعه شړی؟ نو هغوئ به په خپله
ستاسو مُنصفان شی. ۲۸ اَؤ که زَۀ دا پیریان دَ خُدائے په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مدد شرم نو دَ خُدائے بادشاهی په تاسو راغلے دهٔ. ۲۹ بیا
څۀ رنګ یو سړے دَ یو زورور سړی په کور ورختے شی اَؤ
دَ هغهٔ اسباب تالا کولے شی؟ تر څو چه زورور سړے اول
هغهٔ تړلے نهٔ وی دَ هغهٔ کور نهٔ شی لُوټلے.

۳۰ څوک چه ما سره نهٔ دے هغه زما برخلاف دے. څوک
ئے چه زما سره نهٔ راغونډوی هغه ئے خوروی. ۳۱ نو زهٔ
تاسو ته دا وایم چه یوه ګُناه اَؤ یو کُفر داسے نِشته چه دَ بنی
آدمو بخښلے نهٔ شی، خو هغه کُفر چه دَ رُوحُ القُدس برخلاف
لګولے شوے وی، به معاف نهٔ شی. ۳۲ هر څوک چه دَ اِبن
آدم خلاف څۀ وائی هغه به معاف کړے شی، خو هر هغه
څوک چه دَ رُوح القُدس بر خلاف خبرے کوی هغه به ورته
معاف نهٔ شی، نهٔ په دے جهان کښے اَؤ نهٔ په بل کښے.

## ونه اَؤ دَ هغے میوه

لُوقا ۶ : ۴۳ ـ ۴۵

۳۳ یا خو ونه اَؤ دَ هغے میوه ښه وګڼئ اَؤ یا ونه اَؤ دَ هغے
میوه بده وګڼئ، ځکه چه تاسو ونه دَ هغے په میوه پیژندئے
شئ. ۳۴ اَئے دَ مارانو بچو! ستاسو خبرے څنګه ښے
کیدے شی چه په خپله تاسو ښهٔ نهٔ یئ؟ ځکه چه کُومے
خبرے چه په خُلهٔ وزی هغه دَ زړهٔ نه راوزی. ۳۵ ښه سړے
دَ زړهٔ دَ خزانے نه ښهٔ خیزُونه راوباسی اَؤ بد سړے چه دَ
زړهٔ خزانه ئے بده وی هغه بد خیزونه راوباسی. ۳۶ زهٔ تاسو
ته دا وایم چه داسے یو بے فائدے ټکے هم نشته چه سړے
ئے دَ خُلے نه راوباسی اَؤ دَ قیامت په ورځ به دَ هغے
حساب نهٔ ورکوی. ۳۷ ځکه چه تهٔ به په خپلو خبرو صادِق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شے اَوُ په خپلو خبرو به گُناه گار شے“

## مُعجزه غوښتل

مرقوس ۸ : ۱۱ ـ ۱۲، لُوقا ۱۱ : ۲۹ ـ ۳۲

۳۸ ځنې دَ شرعے عالمانو اَوُ فریسیانو ووئیل چه ”اُستاذه!
مُونږ غواړُو چه تهٔ مُونږ ته دَ نخښے په ډول مُعجزه وښائے.“

۳۹ هغهٔ ورته جواب ورکړو، ”دا یوه بدکاره اَوُ زِناکاره پیړۍ
ده چه نخښے غواړی اَوُ دوئ ته یوه نخښه چه ورکیدے شی
دَ یُونس نبی دَهٔ. ۴۰ ځکه چه یُونس دَ ماهی په خیټه کښے
درے ورځے اَوُ درے شپے تیرے کړے وے اَوُ دغه شان به
اِبن آدم درے ورځے اَوُ درے شپے په مزکه کښے دَ ننه
تیرے کړی. ۴۱ دَ قیامت په ورځ چه هر کله دَ دے پیړۍ
سره حساب کیږي نو دَ نینیوه خلق به دَ دوئ خلاف گواهی
ورکړی اَوُ دوئ به مُجرم ثابت کړی، ځکه چه هغوئ دَ یُونس
په وعظ توبه گار شوی وُو. اَوُ څوک چه دلته دے، هغه دَ
یُونس نه لوئے دے. ۴۲ دَ سهیل مَلِکه به دَ قیامت په ورځ دَ
دے پیړۍ سره په عدالت کښے ودریږی اَوُ دوئ به مُجرمان
ثابت کړی، ځکه چه هغه دَ دُنیا دَ بل گُټ نه دَ سُلیمان دَ
حِکمت خبرے آؤریدو له راغلے وه، اَوُ څوک چه دلته دے
هغه دَ سُلیمان نه هم لوئے دے!

## دَ ناپاک رُوح واپسی

لُوقا ۱۱ : ۲۴ ـ ۲۶

۴۳ هر کله چه دَ یو بنی آدم نه یو ناپاک رُوح راوځی نو هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په صحراګانو سر شی چه آرام ومُومی، خو وئے نۀ مُومی.
۴۴ نو بیا داسے ووائی چه زۀ به بیرته هغه کور ته لاړ شم دَ
کُوم نه چه راوتلے یم. نو هغه چه بیرته راشی نو کور خالی
جارُو کړے اَؤ پاک ووینی. ۴۵ بیا هغه لاړ شی اَؤ نور اُووۀ
رُوحُونه دَ ځان سره راولی چه دَ دَۀ نه هم زیات بد وی اَؤ
هغوئ ټول راشی اَؤ دلته دیره شی، اَؤ دَ دوئ اَنجام دَ پخوا نه
هم لا خراب شی. اَؤ دغه حال به دَ دے نافرمانه پیړئ هم
وی.“

## دَ عیسیٰ مسیح مور اَؤ ورُونړه

مرقوس ۳ : ۳۱ ـ ۳۵، لُوقا ۸ : ۱۹ ـ ۲۱

۴۶ عیسیٰ لا دَ خلقو خبرے کولے چه مور اَؤ ورُونړه ئے
راښکاره شول اَؤ هغوئ بهر ودریدل اَؤ خبرے ئے ورسره
کول غوښتل. ۴۷ په دے کښے چا ووئیل چه ”ستا مور اَؤ
ورُونړه دلته بهر ولاړ دی، هغوئ درسره څۀ خبره کول
غواړی.“

۴۸ عیسیٰ هغه خبره کوُونکی سړی ته مخ راواړَوو اَؤ ورته
ئے ووئیل چه ”زما مور څوک دَۀ اَؤ زما ورُونړه څوک دی؟“
۴۹ اَؤ بیا ئے خپلو مُریدانو ته مخ ورواړَوو اَؤ اِشاره ئے
ورته وکړه، ”دا زما مور اَؤ زما ورُونړه دی. ۵۰ هر هغه
څوک چه زما دَ آسمانی پلار په وینا عمل کوی، هغه زما
ورور دے، زما خور ده اَؤ زما مور ده.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# دَ کروندے مِثال

مرقوس ۴ : ۱ ـ ۹، لُوقا ۸ : ۴ ـ ۸

۱۳ ۱ هم په دغه ورځ عيسىٰ دَ کور نه بهر شو اَؤ دَ
درياب په غاړه کښيناستو. ۲ اَؤ دومره ډير خلق ورته
راټول شول چه دَئے ترے کِشتئ ته وختلو اَؤ هلته کښيناستو
اَؤ ټول خلق ورته دَ درياب په غاړه ودريدل. ۳ هغهٔ ډيرے
خبرے سره دَ مِثالُونو هغوئ ته وکړے.

هغهٔ ووئيل چه "زميندار کروندے ته لاړو. ۴ اَؤ چه کرونده
ئے وکړه نو څهٔ تُخم ترے دَ لارے په غاړه توئے شو اَؤ
مارغان راغلل هغه ئے وخوړو. ۵ څهٔ تُخم په کاڼيزه مزکه
پريوتو چرته چه لږه شان خاوره وه اَؤ دا زر راوټو کيدلو
ځکه چه مزکه ژوره نهٔ وه. ۶ اَؤ چه نمر راوختلو نو تازه
فصل ئے وسوزولو اَؤ هر کله چه جرړے ئے نه وے نو وچ
شو. ۷ څهٔ تُخم په غنو کښے پريوتو، ازغی لوئے شول اَؤ
فصل ئے لاندے کړو. ۸ اَؤ څهٔ تُخم په ښه مزکه پريوتو.
هلته ئے غله وکړه، څنی يو په يو سل، څنی يو په شپيتهٔ اَؤ
څنی يو په ديرش.

۹ که ستاسو غوږُونه وی نو دا خبره واؤرئ."

## دَ مثال مقصد

مرقوس ۴ : ۱۰ ـ ۱۲، لُوقا ۸ : ۹ ـ ۱۰

۱۰ مُريدان عيسىٰ ته ورنزدے شول اَؤ تپوس ئے ترے
وکړو چه "تهٔ دوئ ته په مِثالُونو کښے خبرے ولے کوے؟"

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ هغهٔ جواب ورکړو، ”دا دَ دے دَ پاره چه تاسو دَ آسمان
دَ بادشاهئ په رازُونو پوهه شئ، خو هغه نورو ته دا پوهه نهٔ ده
ورکړے شوے. ١٢ ځکه چه دَ هر چا سره چه څهٔ وی هغهٔ
له به نور هم ورکړے شی تر دے چه ورسره لا زيات شی، اَؤ
دَ کُوم سړی سره چه څهٔ نهٔ وی دَ هغهٔ نه به هغه لږ څهٔ هم
واخستے شی. ١٣ ځکه زَهٔ هغوئ ته په مِثالونو کښے
خبرے کوم، ځکه چه ”هغوئ ګوری خو وينی نه، آؤری خو
آؤری نه اَؤ پوهيږی نه.“ ١۴ په هغوئ کښے دَ يشعياه نبی
يوه پيشن ګوئی پُوره کيږي چه وائی :

”تاسو به ئے بيا بيا آؤرئ ولے پرے پوهيږئ به نه،

تاسو به ئے په سترګو وينئ ولے رسيږئ به پرے نه.

١٥ ځکه چه دَ دے اُمت زړُونه سخت شوی دی،

غوږُونه ئے کاڼهٔ شوی اَؤ سترګے ئے پټے شوے دی.

ګنی دَ هغوئ سترګو به ليدلے،

دَ هغوئ غوږُونو به آؤريدل اَؤ دَ هغوئ زړُونه به پوهيدل،

اَؤ بيا به هغوئ بيرته راستُون شوی وئے اَؤ ما به روغ کړی
وئے.“

١۶ خو ستاسو سترګے بختورے دی ځکه چه وينئ، اَؤ
ستاسو غوږُونه بختور دی ځکه چه آؤرئ. ١٧ زَهٔ تاسو ته
وايم چه دَ ډيرو نبيانو اَؤ زبرګانو دا مرضی وه چه هغه څهٔ
ووينی چه کُوم تاسو اوس وينئ خو چرے ئے ونهٔ ليدل، اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه څۀ واؤرى کُوم چه تاسو اوس آؤرئ خو چرے ئے وا
نۀ وريدل.

## دَ کروندے دَ مِثال تشريح

مرقوس ۴ : ۱۳ ـ ۲۰، لُوقا ۸ : ۱۱ ـ ۱۵

۱۸ تاسو بيا دَ زميندار مِثال واؤرئ: هر کله چه يو سړے دَ
خُدائے دَ بادشاهئ په حقله څۀ آؤرى خو پرے رسى نه، ۱۹
نو شيطان راشى اَؤ دَ هغۀ دَ زړۀ نه هغه کرلى شوى څۀ هم
يوسى. دا هغه دَ لارے کرونده ده. ۲۰ په کانيزه مزکه دَ
کرلى شوى تُخم مِثال دَ هغه سړى دے چه هر کله چه يوه
خبره واؤرى نو سمدستى ئے په خوشحالئ قبوله کړى. ۲۱
خو هر کله چه جرړے ئے نۀ وى نو دَ ودريدو توان نۀ لرى،
اَؤ هر کله چه تکليف راشى يا دَ کلام په وجه هغه راګير شى
نو مُنکر شى. ۲۲ په غنو کښے دَ کرلى شوى تُخم مِثال دَ
هغه سړى دے څوک چه کلام واؤرى خو دُنياداری اَؤ دَ
دولت مينه په دَۀ غالبه شى اَؤ کلام بے فائدے لاړ شى. ۲۳
خو کوُم تُخم چه په ښه مزکه وغورزيږي دَ دے مِثال دَ هغه
سړى دے څوک چه کلام آؤرى، پرے پوهيږي اَؤ ميوه هم
راؤړى، څنى خلق يو په سل، يا يو په شپيتۀ يا يو په ديرش.“

## دَ غنمو په مينځ کښے دَ جمدر مِثال

۲۴ عيسیٰ يو بل مِثال هغوئ ته وړاندے کړو چه ”دَ آسمان
بادشاهى داسے ده چه يو سړے په خپل پټى کښے ښۀ تُخم
وکرى. ۲۵ اَؤ کله چه خلق اُودۀ وى نو دُښمن ئے راشى اَؤ
په هغه مزکه ورته دَ غنمو سره جمدر وکرى اَؤ لاړ شى. ۲۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر کله چه فصل زرغُون شی اَؤ وَرِی وياسی نو جمدر په
کښے ښکاره شی. ۲۷ دَ زميندار غُلامان خپل مالک له لاړ
شی اَؤ ورته وائی، نائيکه! آيا تا په خپل پټی کښے ښهٔ تُخم نهٔ
وُو کرلے، نو بيا دا جمدر په کښے دَ کُومه راغلل؟ ۲۸ هغه
په جواب کښے وائی چه دا دَ دُشمن کارُونه دی. هغوئ
ووائی چه آيا مُونږ لاړ شُو اَؤ دغه جمدر وکاږُو؟ ۲۹ هغه
جواب ورکړی چه، دا ځکه چه هر کله چه تاسو جمدر
وکاږئ نو غنم به هم ورسره وياسئ. ۳۰ پريږدئ چه دواړه
پاخهٔ شی، نو دَ لَو په وخت به زَهٔ لوګرو ته ووايم چه اول
جمدر وريبئ اَؤ دَ سوزولو دَ پاره ئے ګيډئ کړئ، پس له
هغے نه غنم وريبئ اَؤ زما درمند ته ئے راؤړئ.“

## دَ شړشم دَ دانے اَؤ خمبيرے مِثال

مرقوس ۴ : ۳۰ ـ ۳۲، لُوقا ۱۳ : ۱۸ ـ ۱۹

۳۱ اَؤ يو بل مِثال عيسیٰ هغوئ ته وړاندے کړو چه ”دَ
آسمان دَ بادشاهئ مِثال دَ شړشمو دَ هغه تُخم دے کُوم چه يو
سړی واخستو اَؤ په خپل پټی کښے ئے وکرلو. ۳۲ دا تُخم
اګر چه دَ نورو ټولو تُخمونو نه ورکوټے وی خو کله چه دا
لوئے شی نو دا دَ باغ دَ هرے بلے سبزئ نه لوئے وی، اَؤ
داسے بُوټے شی چه دَ هوا مرغان راځی اَؤ دَ هغهٔ په ښانګو
کښينی.“ ۳۳ عيسیٰ ورته دا مِثال هم ورکړو چه ”دَ آسمان
بادشاهی لکه په مِثال دَ خمبيرے ده چه يوے ښځے
واخستله اَؤ په دريو اوړو اوړو کښے ئے ګډه کړله اَؤ بيا
هغه ټول خمبيره شو.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ مِثالونو استعمال

مرقوس ۴ : ۳۳ ـ ۳۴

۳۴ عیسیٰ هغه خلقو ته دا تولے خبرے په مِثالُونو کښے
وکړے اَؤ ربښتیا خو دا دی چه یوه خبره ئے هم بے مِثالونو
ونهٔ کړه. ۳۵ دا دَ نبی دَ پیشن ګویئ تصدیق وو چه :

”زَهٔ به په مِثالونو خبرے وکړم

اَؤ هغه خبرے به څرګندے کړم

چه دَ دُنیا دَ پیدایښت راسے

پټے ساتلے شوی دی.“

## دَ جمدر دَ مِثال تشریح

۳۶ هغهٔ بیا خلق رُخصت کړل اَؤ کور ته ورننوتو اَؤ مُریدان
ورته راغلل اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”مُونږ په پټی کښے دَ
جمدر په مِثال پوهه کړه.“

۳۷ هغهٔ په جواب کښے ووئیل چه ”ښهٔ تُخم کرُونکے اِبن
آدم دے، ۳۸ پټے دا دُنیا ده، ښهٔ تُخم دَ بادشاهئ زامن دی
اَؤ جمدر دَ شیطان اَؤلاد دے. ۳۹ اَؤ هغه دُښمن چا چه
جمدر کرلی دی هغه اِبلیس دے، فصل روستئ زمانه ده اَؤ
لَو کؤُونکی فرښتے دی. ۴۰ لکه څنګه چه جمدر په آخره
کښے راټولولے شی اَؤ په اور سوزولے کیږي، ۴۱ دغه
شان په آخره کښے به اِبن آدم خپلے فرښتے ولیږی اَؤ دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ دَ بادشاهئ نه به هر هغه څيز راغونډ کړی چه سړے
پړے تيندک خوری اَؤ هغه ټول خلق چه بد عمله وی. ۴۲ اَؤ
دا به دَ اور شُغلو ته ورواچولے شی کُوم چه دَ ژړا اَؤ دَ
غاښُونو دَ چيچلو ځائے دے. ۴۳ اَؤ بيا به صادِقان دَ خپل
پلار په بادشاهئ کښے لکه دَ نمر ځليږی. که ستاسو غوږُونه
وی نو واؤرئ.

## درے مِثالونه

۴۴ دَ آسمان بادشاهی دَ هغه خزانے په مِثال ده چه په پټی
کښے پټه وی. کُوم سړی چه دا ومُونده نو بيا ئے ښخه کړه
اَؤ په خوشحالئ ئے خپل هر څهٔ خرڅ کړل اَؤ هغه پټے ئے
پړے واخستو.

۴۵ دَ آسمان دَ بادشاهئ دا يو بل مِثال دے چه يو سودا ګر
دَ ښو مرغلرو په تلاش کښے وو. ۴۶ هغهٔ يوه ډيره غوره
مرغلره ومُونده اَؤ دَ هغے دَ حاصلولو دَ پاره ئے خپل هر
څهٔ خرڅ کړل اَؤ هغه ئے واخسته.

۴۷ بيا دَ آسمان بادشاهی دَ هغه جال په شان ده چه سمندر
ته اچولے شوے وی اَؤ په کښے قِسما قِسم کبان رانيولی
شوی وی. ۴۸ هر کله چه ډک شو نو غاړے ته ئے راکښلو،
نو بيا سړی ورته کښيناستل اَؤ ښه کبان ئے ترے نه جُدا
کړل اَؤ په لوښو کښے ئے واچول اَؤ خراب ئے ترے نه
وغُورزول. ۴۹ دغسے به دَ آخرے زمانے حال وی،
فرښتے به ورشی اَؤ نيکان به دَ ورانکارو نه رابيل کړی، ۵۰
اَؤ ورانکاری به دَ اور شُغلو ته وغُورزوی، هغه ځائے چرته به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه ژړا اَؤ دَ غابښُونو چيچل وی.“

## نوے اَؤ زړے خزانے

۵۱ عيسىٰ ورنه پوښتنه وکړه چه ”آيا تاسو په دے ټولو
خبرو ورسيدئ شوۀ؟“

اَؤ هغوئ دا جواب ورکړو چه ”هو.“

۵۲ هغۀ دوئ ته ووئيل، ”هر کله چه دَ آسمان په بادشاهئ
کښے يو اُستاذ زده کړے ته کښيناستو نو هغه دَ کور دَ
مالک په مِثال دے، څوک چه دَ خپل ګودام نه زاړۀ اَؤ نوی
څيزُونه راوياسی.“

## دَ عيسىٰ مسيح په ناصرت کښے رد کيدل

مرقوس ۶ : ۱ ـ ۶، لُوقا ۴ : ۱۶ ـ ۳۰

۵۳ څۀ وخت چه عيسىٰ دَ مِثالونو بيان ختم کړو نو هغه دَ
هغه ځائے نه روان شو، ۵۴ اَؤ خپل ښار ته راغے چرته چه
هغۀ خلقو ته دَ هغوئ په عبادت خانو کښے تعليم ورکولو. نو
هغوئ حيران شول اَؤ پوښتنه ئے ترے وکړه چه ”دا عقل اَؤ
دا پوهه اَؤ دا مُعجزے دَۀ له کُومه ځايه ومُوندلے؟ ۵۵ آيا
دے دَ ترکاڼ زوئے نۀ دے؟ آيا دَ دَۀ مور مريم نۀ ده اَؤ دَ دَۀ
ورُونړه يعقُوب، يوسف، شمعُون اَؤ يهوداه نۀ دی څۀ؟ ۵۶ اَؤ
آيا دَ دۀ ټولے خويندے دلته زمُونږ سره نۀ دی څۀ؟ نو بيا دا
خبرے دَۀ چرته زده کړے؟“ ۵۷ دغه شان هغوئ دَ دَۀ
برخلاف شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ هغه په دے وينا مجبور شو چه ”نبى تل دَ خپل ښار اَؤ
خپلے کورنۍ نه بل هيڅ چيرته بے عزته شوے نۀ دے.“ ۵۸
هغۀ هلته زياتے مُعجزے ښکاره نۀ کړے ځکه چه دَ هغوئ
ايمان نۀ وو.

## دَ يحيىٰ بپتسمه ورکوُونکى مرګ

مرقوس ۶ : ۱۴ ـ ۲۹، لُوقا ۹ : ۷ ـ ۹

۱۴ ۱ هم په دغه ورځو کښے هيروديس چه دَ ګليل
حاکم وو، دَ هغۀ غوږُونو ته چه دَ عيسىٰ شُهرت ورسيدو، ۲
نو هغۀ ټولو نوکرانو ته ووئيل چه ”دا بپتسمه ورکوُونکے
يحيىٰ دے. هغه بيا راژوندے شوے دے، ځکه خو ورسره دَ
مُعجزو طاقت هم دے.“ ۳ هيروديس دَ خپل ورور
فيليپوس دَ ښځے هيروديا س په وجه يحيىٰ ګرفتار کړے وو،
زولنۍ ئے ور اچولے وے اَؤ په قيد خانه کښے ئے
غورزولے وو. ۴ ځکه چه يحيىٰ هغۀ ته وئيلى وُو چه ”دَ
دے ساتل په تا حرام دى.“ ۵ هيروديس به هغه مړ کړے
وو خو دَ خلقو نه ويريدلو ځکه چه خلقو هغه نبى ګڼلو. ۶
خو هيروديس دَ سالګرے په ورځ دَ هيروديا س لُور دَ ميلمنو
په وړاندے داسے وګډيده اَؤ هيروديس دومره زيات
خوشحال شو ۷ چه هغۀ سوګند وخوړو چه ”څۀ چه تۀ
وغواړے، زۀ به ئے درکړم.“ ۸ دَ مور په لمسه هغے
ووئيل چه ”دَ بپتسمه ورکوُونکى يحيىٰ سر ما ته په تالى کښے
راوړه.“ ۹ بادشاه چه دا واؤريدل نو غمژن شو، خو دَ خپل
سوګند اَؤ ميلمنو په وجه هغۀ دا حُکم وکړو چه دا سوال دِ
پُوره کړے شى. ۱۰ اَؤ سړى ئے واستول اَؤ دَ يحيىٰ سر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ئې په قيد خانه کښې پرې کړو. ۱۱ سر ئې په تالی کښې
ايښې راوړو او جينئ ته ئې پيش کړو اَؤ هغې خپلې مور
ته يوړو. ۱۲ بيا دَ يحيىٰ مُريدان راغلل اَؤ دَ هغهٔ تن ئې يوړو
اَؤ ښخ ئې کړو. اَؤ هغوئ لاړل اَؤ عيسىٰ ته ئې حال ووې.

## پينځهٔ زرو سړو له ډوډئ ورکول

مرقوس ۶ : ۳۰ ـ ۴۴، لُوقا ۹ : ۱۰ ـ ۱۷، يوحنا ۶ : ۱ ـ ۱۴

۱۳ عيسىٰ چه دا قِصه واؤريده نو په يوه کِشتئ کښې
يواځې يو خوشې ځائې ته لاړو. خو خلق خبر شو اَؤ په دَهٔ
پسې دَ ښارُونو نه دَ وچې په لاره پياده لاړل. ۱۴ هغه چه
غاړې ته راورسيدو نو يوه لويه گڼه ئې وليده، زړهٔ ئې پرې
وسوزيدلو اَؤ چه څوک په کښې رنځُوران وُو هغه ئې روغ
کړل. ۱۵ ناوخته دَ هغهٔ مُريدان راغلل اَؤ وئې وئيل، "دا
خوشې ځائې دې اَؤ ورځ تيره ده، خلق کلو ته رُخصت
کړه چه ځان له خوراک واخلی."

۱۶ هغهٔ جواب ورکړو، "دَ دوئ دتلو حاجت نِشته، تاسو دَ
ځانه دوئ ته دَ خوراک څهٔ ورکړئ." ۱۷ هغوئ ووئيل چه
"مُونږ سره خو ټولې ټالې پينځهٔ ډوډئ اَؤ دوه کبان دی."
۱۸ هغهٔ ووئيل، "دا ما ته راکړئ." ۱۹ بيا هغهٔ خلقو ته
ووئيل چه په واښو باندې کښينئ. بيا هغهٔ دا پينځهٔ ډوډئ اَؤ
دوه کبان واخستل، آسمان پلو ئې وکتل، دُعا اَؤ برکت ئې
وغوښتو اَؤ ډوډئ ئې ماتې کړې اَؤ هغه ئې مريدانو ته
ورکړې اَؤ مُريدانو هغه په خلقو تقسيم کړې. ۲۰ هغو ښه
په مړه گيډه خوراک وکړو اَؤ څهٔ ترې پاتې هم شوې چه
هغه هغوئ راټولې کړې نو دولس لوئې ټوکرئ ترې ډکې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوے. ۲۱ خوا اَؤ شا پینځۀ زره سړو دغه ډوډۍ خوړلے
وه چه ښځے اَؤ ماشُومان په کښے شمار نۀ وُو.

## په اوبو باندے ګرزیدل

مرقوس ۶ : ۴۵ ـ ۵۲، یوحنا ۶ : ۱۵ ـ ۲۱

۲۲ بیا عیسیٰ مُریدان کِشتۍ ته وخیژول اَؤ ورته ئے ووئیل
چه دَ دریاب پورے غاړے ته لاړ شئ. ۲۳ اَؤ چه خلق ئے
رُخصت کړل نو په خپله غرۀ ته لاړو چه یواځے دُعا وکړی،
اَؤ ښۀ تر ناوخته پورے هغه هلته یواځے وو. ۲۴ کشتۍ هغه
وخت دَ غاړے نه څو فرلانګه وړاندے تلے وه اَؤ دَ مُخالف
باد اَؤ دریاب دَ څپو له کبله سرګردانه وه.

۲۵ دَ شپے څلورم پهر کښے دَ دریاب دَ اوبو دَ پاسه عیسیٰ
هغوئ ته پیاده روان شو. ۲۶ هر کله چه حواریانو دَئے دَ
اوبو دَ پاسه روان ولیدو نو هغوئ ویریدل اَؤ چغے ئے
کړے، ”دا خو پیرے دے!“

۲۷ عیسیٰ ورته سمدستی ووئیل چه ”مه ویریږئ! دا زَۀ یم
چه ویره ونۀ کړئ.“

۲۸ پطروس عیسیٰ ته ووئیل چه ”مالکه! که چرے دا ته ئے
نو ما له حُکم راکړه چه زَۀ هم دَ اوبو دَ پاسه درشم.“

۲۹ عیسیٰ ووئیل چه ”راځه!“ پطروس دَ کِشتۍ نه کُوز شو
اَؤ دَ اوبو دَ پاسه دَ عیسیٰ په لور روان شو. ۳۰ خو هر کله
چه هغۀ دَ طوفان زور ولیدلو نو هغه ویریدو، اَؤ چه ډوبیدو
نو چغے ئے کړے چه ”مالکه! ما بچ کړه.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣١ عيسیٰ سمدستی خپل لاس وراُوږد کړو اَؤ هغه ئے دَ
لاسه ونيوو اَؤ ورته ئے ووئيل، "ستا عقيده خومره کمزورے
ده! شک دِ ولے وکړو؟"

٣٢ بيا هغوئ په کِشتئ کښے سوارۀ شول اَؤ طوفان
ودريدلو. ٣٣ په کشتئ کښے ناست سړی ورته په سجده
شول اَؤ وئے وئيل، "بے شکه! چه تهٔ دَ خُدائے زوئے يئے."

## دَ ګِنيسريت په علاقه کښے رنځُوران جوړول

مرقوس ۶ : ۵۳ ـ ۵۶

٣۴ اَؤ دغسے هغوئ پورے غاړے ته لاړل اَؤ دَ ګِنيسريت
علاقے ته ورسيدل. ٣۵ دَ هغه ځائے خلقو عيسیٰ وپيژندو
اَؤ ګير چاپيره خلق ئے خبر کړل اَؤ ټول رنځُوران ئے ورته
راوستل. ٣۶ اَؤ هغۀ ته ئے سوال وکړو چه دوئ ته دا قدر
اِجازت ورکړه چه ستا دَ چُوغے لمنے ته لاس وروړی، اَؤ
هر چا چه لاس وروړو، هغه بيخی روغ شول.

## دَ مشرانو رسمُونه

مرقوس ۷ : ۱ ـ ۱۳

۱۵ ۱ بيا دَ فريسيانو اَؤ شرعے دَ عالمانو يوه ډله دَ
بيتُ المُقدس نه عيسیٰ ته راغله اَؤ دا سوال ئے راؤړو چه
٢ "ستا مُريدان ولے پخوانی رسمُونه ماتوی اَؤ دوئ دَ
ډوډئ نه وړاندے خپل لاسُونه ځنګه چه وينځَل په کار دی نهٔ
وينځئ؟" ٣ هغۀ ورته په جواب کښے ووئيل چه "دا تاسو
څهٔ کوئ چه دَ خپلو رواياتو دَ خاطره دَ خُدائے حُکم ماتوئ؟

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ځکه چه خُدائے وئیلی دی چه : ”دَ خپل پلار اَوْ مور
عزت کوئ،“ اَوْ ”هغه څوک چه خپل پلار اَوْ مور ته بد رد
وائی هغه دِ قتل شی.“ ۵ خو تاسو وایئ چه که څوک پلار
یا مور ته ووائی چه دَ کُوم څیز په وجه له ما نه تاسو ته فائده
رسیده هغه دَ خُدائے شکرانه شوه، ۶ نو پس دَ هغے نه
هغه دَ خپل مور اَوْ پلار په عزت پړ نۀ دے. دغه شان تاسو دَ
خُدائے قانُون دَ خپلو روایاتو په خاطر منسُوخ کړو. ۷
تاسو څومره مُنافقان یئ! یشعیاه چه ستاسو په حقله دا پیشن
گوئی کوله، نو هغه رښتُونے وو :

۸ دا خلق تش په خُلۀ زما عزت کوی

خو زړۀ ئے رانه ډیر لرے دے.

۹ دوئ بے فائدے زما عبادت کوی،

ځکه چه دوئ خلقو ته دَ بنی آدمو حکمُونه

دَ تعلیم په ډول ورکوی.“

## هغه څیزُونه چه اِنسان پلیتوی

مرقوس۷ : ۱۴ - ۲۳

۱۰ هغۀ خلقو ته غږ وکړو اَوْ وئے وئیل چه ”زما خبره
واورئ اَوْ ځان پرے پوهه کړئ. ۱۱ سړے په دے نه
پلیتیږي چه څۀ شے دَ هغۀ په خُلۀ ننوزی، بلکه په دے چه
څۀ دَ خُلے نه وزی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ بیا مُریدان عیسیٰ له راغلل اَؤ وئے وئیل چه "ته خبر
ئے چه فریسیانو ستا دا خبرے بدے گڼلے دی؟"

۱۳ هغهٔ جواب ورکړو چه "کُوم بُوټے چه زما آسمانی پلار
لګولے نهٔ وی هغه به دَ بیخه وویستے شی. ۱۴ دوئ
یواځے پریږدئ. دا ړاندهٔ لاربښودُونکی دی، اَؤ که چرے یو
ړُوند بل ړُوند ته لار ښیئ نو دواړه به په کنده کښے پریوزی."

۱۵ بیا پطروس ووئیل چه "مُونږ په دے مِثال پوهه کړه."
۱۶ عیسیٰ جواب ورکړو، "آیا تاسو هم لا تر اوسه دَ نورو
غوندے ناپوهه یئ؟ ۱۷ آیا تاسو ته دا نهٔ ده معلُومه چه کُوم
څیز چه په خُلهٔ ننوزی، ګیډے ته لاړ شی اَؤ هغه دَ حاجت په
لارے بهر وزی؟ ۱۸ خو څهٔ چه دَ خُلے نه راوزی هغه دَ
زړهٔ نه راځی اَؤ دغه څیز بنی آدم پلیتوی. ۱۹ ځکه چه وران
خیالُونه، قتل، زِنا، حرامکاری، غلا، دَ دروغو ګواهی اَؤ کُفر دَ
زړهٔ نه راوزی. ۲۰ اَؤ دا هغه څیزُونه دی چه بنی آدم پلیتوی،
خو په ناوینځلو لاسُونو خوراک کول بنی آدم نهٔ پلیتیږي."

## دَ کنعانی ښځے عقیده

مرقوس ۷ : ۲۴ ـ ۳۰

۲۱ بیا عیسیٰ هغه ځائے پریښودو اَؤ دَ صور اَؤ دَ صیدا
علاقے ته راغے ۲۲ اَؤ دَ هغے علاقے یوه کنعانی ښځه بهر
راووتله اَؤ په چغو ئے ووئیل، "اَئے مالکه! په ما رحم وکړه!
اَئے دَ داؤد زویه! زما لُور پیریانو سخته نیولے ده."

۲۳ خو هغهٔ هیڅ جواب ورنهٔ کړو. دَ هغهٔ مُریدان راغلل اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زارۍ ئے وکړه چه "دا ښځه لرے کړه ځکه چه په مُونږ
پسے بے واره چغے وباسی." ۲۴ عیسیٰ جواب ورکړو "زۀ
تش دَ اِسرائیل دَ خاندان دَ ورکو شوو ګډو دَ پاره رالیږلے
شوے یم." ۲۵ خو هغه ښځه راغله، دَ دۀ په پښو پریوته اَؤ
چغے ئے کړے، "مالکه! زما مدد وکړه!" ۲۶ عیسیٰ په
جواب کښے ووئیل، "دا مُناسب نۀ دی چه دَ ماشُومانو برخه
ډوډئ دِ څوک واخلی اَؤ سپو ته دِ ئے واچوی." ۲۷ هغے
جواب ورکړو چه "رښتیا دی مالکه! خو بیا هم سپی هغه
ټکړے خوری کُومے چه دَ مالکانو دَ دسترخوان نه
غورزیږي." ۲۸ نو بیا عیسیٰ جواب ورکړو چه "اَئے
ښځے! ستا څومره لویه عقیده ده! چه څنګه تۀ غواړے،
دغسے دِ وشی." اَؤ هم په هغه ساعت دَ هغے لُور جوړه
شوه.

## دَ ډیرو خلقو جوړول

۲۹ دَ دغه ځایه چه عیسیٰ روان شو نو دَ ګلیل دریاب په
غاړه غرُونو ته وختو اَؤ چه هلته کښیناستو ۳۰ نو ډیر خلق
ورته راغلل چه ورسره ګډ، کاڼۀ، ړانده، شل اَؤ ډیر رنځُوران
وُو. دوئ هغه خلق دَ دۀ په پښو کښے کیښودل اَؤ هغۀ هغوی
جوړ کړل. ۳۱ هغه خلق په دے ډیر حیران شول چه
چاړاګانو خبرے وکړلے، مات ګډ خلق روغ شول اَؤ
ګرزیدل اَؤ ړاندۀ بینا شول اَؤ ټولو په دے دَ اِسرائیل دَ
خُدائے لوئی بیان کړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## څلورو زرو خلقو له ډوډئ ورکول

مرقوس ۸ : ۱ ـ ۱۰

۳۲ عیسیٰ خپل مُریدان راوبلل اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”زما
په دے خلقو زړۀ سوځی، دوئ دَ دریو ورځو راسے ما سره
دی اَؤ هیڅ ئے نۀ دی خوړلی. زَۀ دوئ نهر رُخصتول نۀ
غواړم، کیدے شی چه دوئ په لارے دَ کمزورتیا نه پریوزی.“
۳۳ مُریدانو جواب ورکړو چه ”په دے بیابان کښے به
دومره خلقو له مُونږ ډوډئ دَ کُومه راؤړو؟“

۳۴ عیسیٰ ورته ووئیل چه ”تاسو سره څومره ډوډئ دی؟“

هغوئ ځواب ورکړو چه ”اُووۀ ډوډئ اَؤ یو څو واړۀ کبان.“

۳۵ نو هغۀ خلقو ته ووئیل چه په مزکه کښینئ. ۳۶ هغه
اُووۀ ډوډئ اَؤ کبان ئے راواخستل، بیا ئے دَ خُدائے شکر
ووے، ډوډئ ئے ماتے کړے اَؤ مُریدانو ته ئے ورکړے، اَؤ
مُریدانو په خلقو وویشلے. ۳۷ ټولو ځانُونه ښۀ ماړۀ کړل.
اَؤ چه څۀ ټُکړے ترے پاتے شوے نو هغه ئے راټولے
کړے. هغه دومره وے چه اُووۀ ټوکرئ ترے ډکے شوے.
۳۸ دَ بچو اَؤ ښځو نه علاوه څلورو زرو کسانو هغه ډوډئ
خوړلے وه.

۳۹ هغۀ بیا خلق رُخصت کړل، کِشتئ ته وختلو اَؤ دَ مګدن
علاقے ته لاړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ نخښو غوښتل

مرقوس ۸ : ۱۱ ـ ۱۳، لُوقا ۱۲ : ۵۴ ـ ۵۶

۱۶ ۱ فريسيان اَوْ صدُوقيان عيسىٰ ته راغلل اَوْ دَ
آزميښت په طور ئے ورته ووئيل چه "مُونږ ته يوه نخښه
وښيه." ۲ هغهٔ جواب ورکړو چه "تاسو دَ نماښام په وخت
وايئ چه موسم به ښهٔ شی ځکه چه آسمان سُور دے، ۳ اَوْ
دَ سحر په وخت وايئ چه نن به سيلئ راشی ځکه چه آسمان
سُور اَوْ دُوند دے. تاسو دَ آسمان دَ مخ تميز کولے شئ خو
دَ زمانو په نخښو نهٔ پوهيږئ. ۴ دا يوه گُمراه پيړئ ده چه لا
اوس هم مُعجزے غواړی. دوئ ته به صرف يوه مُعجزه
ورکړے کيږی چه هغه به دَ يُونس وی."

هغه ترے بيا روان شو اَوْ هغوئ ئے پريښول.

## دَ فريسيانو اَوْ صدُوقيانو خميره

مرقوس ۸ : ۱۴ ـ ۲۱

۵ چه بلے غاړے ته پورے وتل نو دَ مُريدانو نه ئے ډوډئ
راؤړل هير شوی وُو. ۶ نو کله چه عيسىٰ هغوئ ته ووئيل
چه "دَ فريسيانو اَوْ دَ صدُوقيانو دَ خميرے نه ځان ساتئ،"
۷ هغوئ په خپل مينځ کښے دا بحث شروع کړو چه "دا
ځکه چه مُونږ ډوډئ نهٔ ده راوړے."

۸ عيسىٰ دَ هغوئ دَ زړُونو په حال پوهه وُو، نو ځکه ئے
ورته ووئيل، "تاسو دَ ډوډئ فکر ولے آخستی يئ؟ اَئے بے
عقيدے خلقو! ۹ تاسو لا تر اوسه نهٔ ئے پوهه؟ آيا تاسو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه پینځهٔ ډوډئ اَوْ پینځهٔ زره کسان یاد نهٔ دی، اَوْ تاسو
څومره ډکے ټوکرئ ترے اُوچتے کړے؟ ١٠ بیا هغه اُووهٔ
ډوډئ دَ څلورو زرو کسانو دَ پاره، اَوْ څومره ډکے ټوکرئ
تاسو ته ترے پاتے وے؟ ١١ تاسو څرنګ په دے خبره
پوهه نهٔ شوئ چه ما دَ ډوډئ ذکر نهٔ کاوو؟ ما درته وئیلی وُو
چه دَ فریسیانو اَوْ صدُوقیانو دَ خمبیرے نه به ځان ساتئ.“

١٢ بیا هغوئ مطلب ته ورسیدل چه دَ ډوډئ دَ خمبیرے نه
ځان ساتل نه، بلکه دَ فریسیانو اَوْ صدُوقیانو دَ تعلیم نه ځان
ساتل دی.

## دَ پطروس دَ عیسیٰ اِقرار کول

مرقوس ٨ : ٢٧ ـ ٣٠، لُوقا ٩ : ١٨ ـ ٢١

١٣ هر کله چه هغوئ دَ قیصریه فیلیپیٔ علاقے ته راغلل نو
عیسیٰ دَ خپلو مُریدانو نه تپوس وکړو چه ”خلق څهٔ وائی چه
اِبن آدم څوک دے؟“ ١٤ هغوئ جواب ورکړو، ”ځنے وائی
چه بپتسمه ورکوُونکے یحییٰ، ځنے اِلیاس، ځنے یرمیاه اَوْ
یا دَ نبیانو نه بل څوک.“ ١٥ هغهٔ ورته ووئیل چه ”تاسو څهٔ
وایئ، چه زَهٔ څوک یم؟“ ١٦ شمعُون پطروس جواب
ورکړو، ”تهٔ دَ ژوندی خُدائے زوئے مسیح ئے.“ ١٧ بیا
عیسیٰ ووئیل، ”اَئے دَ یوحنا زویه شمعُونه! تهٔ بے شکه
بختور یے. تا دا خبره دَ فانی اِنسان نه نهٔ ده زده کړے بلکه
زما آسمانی پلار دا ستا په زړهٔ کښے اچولے ده. ١٨ خو زَهٔ
تا ته دا وایم چه تهٔ پطروس ئے، چه معنیٰ ئے ګټ دے، چه
زَهٔ به خپل جماعت په دے ګټ آبادوم، اَوْ مرګ به په دے
هیڅ کله غالبیدے نهٔ شی. ١٩ زَهٔ به تا له دَ آسمان دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهئ کُنجيانےدرکړم، هر څۀ چه تۀ په مزکه تړے هغه به
په آسمان کښے وتړلے شی، اَوۀ هر څۀ چه تۀ په مزکه
پرانزے هغه به په آسمان کښے پرانستلے شی.“

۲۰ بيا هغۀ خپلو مُريدانو ته په ټينګه ووئيل چه ”هيچا ته دا
مۀ وايئ چه مسيح زَۀ يم.“

## دَ عيسىٰ دَ مرګ اَوۀ دَ بيا ژوندی کيدلو په بابت پيشن ګوئی

مرقوس ۸ : ۳۱ ـ ۹ : ۱، لُوقا ۹ : ۲۲ ـ ۲۷

۲۱ دَ هغه وخت نه عيسىٰ خپلو مُريدانو ته دا خبره څرګنده
کړه چه ”ضروری دی چه زَۀ به بيتُ المُقدس ته ځم اَوۀ هلته
به دَ مشرانو اَوۀ دَ مشرانو کاهنانو اَوۀ دَ شرعے دَ عالمانو له
لاسه ډير آزارولے شم اَوۀ ووژلے شم اَوۀ په دريمه ورځ به بيا
پاڅولے شم.“ ۲۲ بيا پطروس هغه دَ مخ نه ونيوو اَوۀ
ملامت ئے کړو اَوۀ وئے وئيل چه ”خُدائے دِ نۀ کړی مالکه!
په تا دِ داسے هيڅ کله هم ونۀ شی.“ ۲۳ بيا عيسىٰ مخ
ورواړوو اَوۀ پطروس ته ئے ووئيل، ”لرے شه شيطانه! تۀ زما
دَ لارے خنډ ئے، تۀ دَ بنی آدمو غوندے سوچ کوے، دَ
خُدائے په رنګ نه.“ ۲۴ بيا عيسىٰ خپلو مُريدانو ته ووئيل
چه ”څوک په ما پسے راتلل غواړی، هغه دِ دَ خپل ځان نه
مُنکر شی، خپله سولئ دِ په خپله راواخلی اَوۀ ما پسے دِ
راځی. ۲۵ څوک چه ځان بچ کوی هغه به ئے ورک کړی،
خو که څوک زما دَ خاطره ځان ورک کړی هغه به خپل
ژوندُون بيا مُومی. ۲۶ که يو سړے دَ خپل ژوندُون په بدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ټول جهان ومُومی نو څۀ ئے ومُوندل؟ اَؤ دَ خپل
ژوندُون دوباره مُوندلو دَ پاره هغه کُومه بيعه ورکولے شی؟
٢٧ ځکه چه اِبن آدم به دَ خپل پلار په لوئی کښې دَ خپلو
فرښتو په ملګرتيا کښې راځی اَؤ بيا به هغه هر چا ته دَ خپل
کړی عمل بدل ورکوی. ٢٨ زَۀ تاسو ته دا وايم چه په دے
ځائے کښې داسے کسان شته چه هغوئ به تر هغے نۀ
مری تر څو چه هغوئ اِبن آدم خپلے بادشاهئ ته په راتلو ونۀ
وينی.“

## دَ عيسیٰ شکل بدليدل

مرقوس ٩ : ٢ ـ ١٣، لُوقا ٩ : ٢٨ ـ ٣٦

١٧ ١ شپږ ورځے پس عيسیٰ پطروس، يعقوب اَؤ دَ هغۀ
ورور يوحنا دَ ځان سره يو اُوچت غر ته وخيژول. هلته دوئ
يواځے وُو. ٢ اَؤ دَ هغوئ په موجودګئ کښې دَ هغۀ شکل
بدل شو اَؤ دَ هغۀ مخ لکه دَ نمر وځليدو اَؤ دَ هغۀ جامے لکه
دَ رڼا سپينے شوے. ٣ اَؤ هغوئ وليدل چه مُوسیٰ اَؤ
اِلياس ورله راغلل اَؤ دَ هغۀ سره ئے خبرے کولے. ٤ بيا
پطروس ووئيل، ”مالکه! دا څومره ښه خبره ده چه مُونږ هم
دلته موجُود يُو. که ستاسو خوښه وی نو زَۀ به دلته درے
کوټے جوړے کړم، يو تاله، يوه مُوسیٰ له اَؤ يو اِلياس له.“
٥ هغۀ لا دا خبره کوله چه ناڅاپی يوه روښانه وريځ
راخوره شوه اَؤ په هغوئ سورے شوه اَؤ دَ وريځے نه آواز
راغے، ”دا زما محبوب زوئے دے دَ چا نه چه زَۀ رضا يم. دَ
هغۀ خبرے واؤرئ!“ ٦ دَ دے آواز په آوريدو مُريدان دَ
ويرے نه پړ مخے پريوتل. ٧ بيا عيسیٰ هغوئ له ورغے،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغوئ ئے لاس ولګوو اَؤ ورته ئے ووئيل، "پاڅئ! مهٔ
ويرېږئ!" ٨ کله چه هغوئ سترګے وغړولے نو بغير دَ
عيسیٰ نه ئے هيڅ ونهٔ ليدل.

٩ دَ غرهٔ نه چه هغوئ ښکته راکُوزيدل نو عيسیٰ هغوئ ته
حُکم ورکړو چه "دا واقعه تر هغے چا ته مهٔ وايئ تر څو چه
اِبن آدم دَ مړو نه ژوندے پورته کړے شوے نهٔ وی."

١٠ مُريدانو په هغهٔ يو سوال وکړو چه "بيا زمُونږ دَ شرعے
عالمان ولے داسے وائی چه اِلياس به خامخا وړُومبے
راځی؟" ١١ هغهٔ ورته ووئيل، "هو اِلياس به راځی اَؤ هر څهٔ
به سموی. ١٢ خو زهٔ تاسو ته وايم چه اِلياس خو راغلے
دے، ولے هغوئ پيژندلے نهٔ دے اَؤ چه څهٔ دوئ غوښتل
هغه ئے ورسره وکړل. اَؤ دغه شان به هم اِبن آدم دَ هغوئ دَ
لاسه تکليفونه تيروی." ١٣ بيا مُريدان پوهه شول چه هغه
مُونږ ته دَ بپتسمه ورکوُونکی يحيیٰ په باب کښے وائی.

## دَ پيری نيولے سړے روغول

مرقوس ٩ : ١۴ ـ ٢٩، لُوقا ٩ : ٣٧ ـ ۴٣

١۴ کله چه هغوئ خلقو ته واپس راغلل نو يو سړے عيسیٰ
ته راغے، دَ هغهٔ په وړاندے په زنګُونو شو ١٥ اَؤ وئے وئيل،
"مالکه! زما په زوی رحم وکړه! په هغهٔ مِرګی راځی اَؤ ډير
ئے ربړوی اَؤ کله خو ئے په اور کښے غورزوی اَؤ کله ئے
په اوبو کښے. ١٦ ما هغه ستا مُريدانو ته راوستلے وو خو
هغوئ روغ نهٔ کړے شو"

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ عیسیٰ په جواب کښې ووئیل چه "اَئے بے ایمانه اَؤ
بے لارے پیړئ! زَهٔ به تر څو تاسو سره یم اَؤ زَهٔ به تر څو
ستاسو زغم کوم؟ هغه دلته ما له راوله." ۱۸ بیا عیسیٰ هغه
وزورلو، نو بد رُوح هغه پرېښودو اَؤ سمدستی هغه هلک روغ
شو.

۱۹ دَ دے نه پس مُریدان عیسیٰ ته ځان له راغلل اَؤ تپوس
ئے وکړو چه "دا مُونږ ولے لرے کولے نهٔ شو؟"

۲۰ هغهٔ جواب ورکړو چه "ستاسو عقیده ډیره کمزورے
ده. زَهٔ تاسو ته دا وایم، که ستاسو عقیده دَ شړشمو دَ دانے
هومره وی نو تاسو دے غر ته ووایئ چه دَ دلته نه هلته لاړ
شه، نو دے به وخوزیږی. اَؤ هیڅ کار به تاسو دَ پاره نامُمکن
نهٔ وی."

## عیسیٰ یو ځل بیا دَ خپل مرګ پیشن ګوئی وکړله

مرقوس ۹ : ۳۰ ـ ۳۲، لُوقا ۹ : ۴۳ ـ ۴۵

۲۲ کله چه هغوئ په ګلیل کښې یو ځائے روان وُو نو
عیسیٰ ورته ووئیل چه "اِبن آدم به دَ بنی آدمو په لاس ورکړے
شی. ۲۳ هغوئ به دَئے ووژنی، بیا به په دریمه ورځ هغه
ژوندے پاڅولے شی." نو هغوئ ډیر غمژن شول.

## دَ خُدائے دَ کور خِراج ورکول

۲۴ کله چه دوئ کفرنحوم ته راغلل نو دَ خُدائے دَ کور
خزانچی پطروس ته راغے اَؤ تپوس ئے ترے وکړو چه "آیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا اُستاذ دَ خُدائے دَ کور خِراج ورکوی څۀ؟“ ۲۵ پطروس
ورته ووئیل چه ”هغه ئے ورکوی.“ خو کله چه پطروس دننه
لاړو نو عیسیٰ دَ هغۀ دَ وینا نه وړاندے ووئیل چه ”اَئے
شمعُونه! ته په دے باره کښے څۀ وائے چه دَ دُنیا بادشاهان
دَ چا نه محصُول اَؤ خِراج آخلی، دَ خپلو خلقو نه که دَ پردو
نه؟“

۲۶ پطروس جواب ورکړو چه ”دَ پردو نه.“ عیسیٰ ووئیل،
”نو بیا خو دَ دوئ خپل خلق معاف دی. ۲۷ خو هر کله چه
مُونږ بد نۀ خوښوو نو تۀ لاړ شه، دَ دریاب په اوبو کښے
کُونډه ورواچوه اَؤ وړومبے چه کُوم کب تۀ ونیسے، دَ هغۀ
خُله وازه کړه، نو تۀ به په کښے یوه دَ سپینو زرو سیکه
ومُومے. هغه یوسه اَؤ ور ئے کړه، دا به زمُونږ دَ دواړو
محصُول پُوره کړی.“

## دَ ټولو نه لوئ څوک دے؟

مرقوس ۹ : ۳۳ ـ ۳۷

۱۸ ۱ هغه وخت مُریدان عیسیٰ ته راغلل اَؤ تپوس ئے
ترے وکړو چه ”دَ آسمان په بادشاهئ کښے دَ ټولو نه لوئے
څوک دے؟“

۲ هغۀ یو ماشُوم راوبللو اَؤ دَ هغوئ په وړاندے ئے
ودرَولو. ۳ اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”زَۀ تاسو ته دا وایم چه
تر څو تاسو راوانۀ وړئ اَؤ دَ ماشُومانو په شان نۀ شئ نو
تاسو به هیڅ کله هم دَ آسمان په بادشاهئ کښے داخل نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. ۴ هر هغه څوک چه ځان دَ دے ماشُوم په شان
عاجز کړی نو هغه به دَ آسمان په بادشاهئ کښے دَ ټولو نه
لوئے وی. ۵ اَؤ هر څوک چه داسے یو ماشُوم زما په نامه
قبول کړی هغه ما قبلوی“.

## دَ ګناه لمسُون

مرقوس ۹ : ۴۲ ـ ۴۸، لوقا ۱۷ : ۱ ـ ۲

۶ خو هر هغه څوک چه په دے وړو ماشُومانو کښے چه
په ما ئے ایمان راوړے دے، یو له تیندک ورکوی، نو دَ هغهٔ
دَ پاره دا غوره ده چه په خپله غاړه کښے دَ ژرندے پَل
واچوی اَؤ په سمندر کښے ډوب شی. ۷ دَ داسے
تیندکُونو په وجه په دُنیا اَفسوس دے! دا تیندکُونه به خامخا
راځی خو اَفسوس په هغه چا چه دَ چا دَ لاسه راځی.

۸ که چرے ستا لاس یا پښه تا ته تیندک درکوی نو پرے
ئے کړه اَؤ ګُذار ئے کړه. ستا دَ پاره به دا غوره وی چه تهٔ په
ژوند کښے شل ګُډ ننوزے، نه دا چه تهٔ په دواړو لاسو پښو
روغ ئے اَؤ دائمی اور ته واچولے شے. ۹ که چرے ستا
سترګه تا ته تیندک درکوی نو راوئے باسه اَؤ وئے غورزوه.
ستا دَ پاره به دا غوره وی چه په یوے سترګے سره په
ژوندُون کښے ننوزے، په ځائ دَ دے چه په دواړو سترګو
روغ ئے اَؤ دوزخ دِ ځائے وی.

## دَ ورکے شوے ګډے مِثال

لُوقا ۱۵ : ۳ ـ ۷

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ خبردار! په دے ورو کښے يو ته هم سپک مه ګورئ. زۀ
تاسو ته دا وايم چه دَ دوئ فرښتے په آسمان کښے هميشه
زما دَ آسمانی پلار په مخکښے موجُودے وی.

۱۲ ستاسو څۀ خيال دے؟ فرض کړئ چه دَ يو سړی سل
ګډے دی. که په هغو کښے يوه ورکه شی، آيا هغه دا نورے
يو کم سل دَ هغے يوے دَ لټولو دَ پاره دَ غرۀ په خوا کښے
پرے نۀ ږدی؟ ۱۳ اَؤ چه کله هغه دا بيا مُومی نو زۀ تاسو ته
دا وايم چه هغه دَ هغے په مُوندلو دَ دے يو کم سلو دَ
موجودګئ نه زيات خوشحاله شی. ۱۴ هم دغه شان ستاسو
آسمانی پلار دا رضا نۀ ده چه دَ دے ماشُومانو نه دِ يو هم
هلاک شی.

## يو ورور چه ګُناه کوی

۱۵ که چرے ستاسو يو ورور څۀ ګناه وکړی نو لاړ شئ اَؤ
هغه په پرده کښے په دے ملامت کړئ اَؤ که هغه تاسو ته
غوږ کيږدی نو تاسو خپل ورور دوباره ومُوندو. ۱۶ خو که
هغه ستاسو خبره وانۀ وری نو بيا يو يا دوه تنه نور دَ ځان
سره ملګری کړئ دَ دے دَ پاره چه "ټول رښتيا دَ دوؤ يا دريو
ګواهانو په وړاندے ثابت کړے شی." ۱۷ که هغه دَ هغوئ
هم وانۀ وری نو دا خبره جماعت ته وړاندے کړئ اَؤ که
چرے هغه دَ جماعت خبره هم ونۀ منی نو بيا دَ هغۀ سره
داسے سلُوک وکړئ لکه چه دَ يو کافر، بے لارے يا
محصُولچی سره کولے شی.

۱۸ "زۀ تاسو ته وايم، هر څۀ چه په مزکه تاسو منع کړل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به په آسمان کښې هم منع وی اَؤ څهٔ چه تاسو په مزکه
روا کړل هغه به په آسمان کښې هم روا وی.

۱۹ زَهٔ تاسو ته دا بیا وایم، که چرې په تاسو کښې دوه تنه
په یوه خبره یوه خُلهٔ شی هغوئ چه څهٔ سوال وکړی نو زما
آسمانی پلار به ئې قبلوی. ۲۰ ځکه چه دوه یا درې تنه چه
چرته هم زما په نوُم یو ځائې شی نو زَهٔ به دَ دوئ په مینځ
کښې یم."

## دَ نابخښلی نوکر مِثال

۲۱ بیا پطروس عیسیٰ له راغې اَؤ سوال ئې وکړو، "مالکه!
که زما ورور زما سره څهٔ بد کوی نو زَهٔ به ئې څو ځله
معاف کوم؟ تر اُووهٔ ځلو پورې څهٔ؟" ۲۲ عیسیٰ جواب
ورکړو، "زَهٔ دا نهٔ وایم چه اُووهٔ ځله، زَهٔ دا وایم اُووهٔ ځله تر
اویاؤ پورې، ۲۳ دَ آسمان دَ بادشاهئ په حقله دِ هم په دغه
جوړ اندازه ولګولې شی، وائی چه یو بادشاه یو ځلې دَ خپلو
خادمانو سره حساب راواخستو. ۲۴ په اول سر کښې یو
سړې داسې پیښ شو چه دَ هغهٔ قرضه په لکُونو کښې وه،
۲۵ خو دَ هغهٔ سره هیڅ هم نهٔ وُو. نو دَ هغهٔ مالک دا حکم
وکړو چه هغه دِ سره دَ ښځې، اؤلاد اَؤ هر څهٔ مال حال چه
لری خرڅ کړې شی اَؤ قرض دِ ترې پُوره کړې شی. ۲۶
سړې دَ خپل مالک په پښو پریوتو اَؤ وئې وئیل چه ما ته
صبر وکړه، زَهٔ به ستا ټول قرض پرې کړم. ۲۷ په مالک دَ
دې خبرې دومره اثر وشو چه سړې ئې پریښودو اَؤ قرض
ئې ورته ویخښو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ خو هر کله چه دا سړے بهر راووتو نو دَ خپلو ملګرو
خادمانو نه یو خادم په مخه ورغے، په چا چه دَ دَهٔ سل
دیناره قرض وُو. هغه ئے ونیوو، مرئ ته ئے ورله لاس
ورواچوو اَؤ ورته ئے ووئیل چه څهٔ چه زما در پورے دی،
هغه راکړه! ۲۹ هغه ملګرے خادم دَ دَهٔ په پښو پریوتو اَؤ
زاری ئے ورته وکړه چه ما ته زړهٔ لوئ کړه، زَهٔ به دِ قرض
پرے کړم. ۳۰ خو هغهٔ ونهٔ منله اَؤ په بندی خانه کښے ئے
واچوو تر هغه پورے چه قرض پرے نهٔ کړی. ۳۱ نورو
خادمانو چه دا څهٔ ولیدل نو ډیر خفه شول. هغوئ خپل
مالک ته لاړل اَؤ ټوله قیصه ئے ورته تیره کړه. ۳۲ هغهٔ دا
سړے راوبلو اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”اَئے بد تمیزه! چه کله
تا ما ته زاری وکړه نو ما درته ټول قرض ویخښو. ۳۳ آیا په
تا کښے دومره سړیتوب نهٔ وو چه په ملګری خادم دِ داسے
رحم کړے وے لکه ما چه په تا وکړو؟“ ۳۴ دَ هغهٔ مالک
ډیر غُصه شو اَؤ دَئے ئے خپل داروغه ته تر هغے حواله
کړو تر څو چه ئے ټول قرض واپس کړے نهٔ وی.

۳۵ دغه شان سلُوک به زما آسمانی پلار تاسو سره کوی، تر
هغے چه تاسو ټول خپل ورُونه په رښتیا معاف نهٔ کړئ.“

## دَ طلاق په حقله تعلیم

مرقوس ۱۰ : ۱ ـ ۱۲

۱۹ ۱ څهٔ وخت چه عیسیٰ دا خبرے خلاصے کړے نو
دَ ګلیل نه روان شو اَؤ دَ اُردن پورے غاړه دَ یهودیه علاقے ته
راغے. ۲ ګڼ خلق ورپسے وُو اَؤ هغهٔ هغوئ هلته روغ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل.

۳ څهٔ فريسيان راغلل اَؤ په دے ئے دَ هغهٔ آزميښت وکړو
چه ”آيا دَ يو سړی دَ پاره دا روا دی چه په هره وجه چه وی
خپلے ښځے ته طلاق ورکړی؟“

۴ هغهٔ په جواب کښے ورته ووئيل چه ”آيا تاسو دا نهٔ دی
لوستی چه خالق په اول سر کښے ”نر اَؤ ښځه پيدا کړل؟“
۵ اَؤ وئے وئيل چه ”په دے وجه به سړے خپل مور پلار
نه بيل شی اَؤ دَ خپلے ښځے سره به يو ځائے شی، اَؤ دا
دواړه به يو وجُود شی.“ ۶ نو دوی دوه نهٔ دی بلکه يو
وجُود دی. ځکه چه خُدائے دوئ يو ځائے کړی دی نو بنی
آدم دِ ئے کله هم نهٔ جُدا کوی.“ ۷ هغوئ دا اِعتراض
وکړو چه ”بيا مُوسیٰ حکم ولے کړے دے چه په طلاق نامه
دِ سړے خپله ښځه پريښودے شی؟“ ۸ هغهٔ جواب ورکړو
چه ”مُوسیٰ تاسو ته دَ خپلے ښځے دَ پريښودو اِجازت
ستاسو دَ زړُونو دَ سختوالی په وجه درکړو، خو دَ شروع نه
خبره داسے نهٔ وه. ۹ زَهٔ تاسو ته وايم چه که څوک بغير دَ
زِناکارئ دَ جُرم نه په بله څهٔ وجه خپلے ښځے ته طلاق
ورکوی اَؤ بل وادهٔ کوی نو هغه زِنا کوی.“

۱۰ مُريدانو عيسیٰ ته ووئيل، ”که دَ سړی دَ خپلے ښځے
سره دا حال وی نو دا به ښهٔ وی چه څوک دے هډو وادهٔ نهٔ
کوی.“

۱۱ دَ دے په جواب کښے عيسیٰ ووئيل چه ”دا خبره
داسے ده چه هر سړے ئے نهٔ شی منلے خو يواځے هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلق چه خُدائے دَ زغملو طاقت ورکړے وی. ۱۲ ځنے
داسے خلق دی چه دَ مور دَ ګیډے نه یا خو خواجه پیدا دی
اَؤ یا بنی آدمو خواجه کړی دی، خو ځنے داسے دی چه
هغوئ خپل ځانُو نه دَ آسمان دَ بادشاهئ دَ پاره خواجه کوی.
څوک ئے چه قبلولے شی هغه دِ قبول کړی“.

## دَ عیسیٰ وړو ته برکت ورکول

مرقوس ۱۰ : ۱۳ ـ ۱۶، لُوقا ۱۸ : ۱۵ ـ ۱۷

۱۳ هغوئ عیسیٰ ته ماشُومان راوستل چه لاس پرے کیږدی
اَؤ دُعا ورته وکړی، خو مُریدانو ورټل. ۱۴ عیسیٰ هغوئ ته
ووئیل چه ”ماشُومان راپریږدئ چه ما ته راشی اَؤ مه ئے منع
کوئ ځکه چه دَ آسمان بادشاهی هم دَ داسے خلقو ده.“

۱۵ بیا هغهٔ په هغوئ لاسُونه راکښل اَؤ روان شو.

## یو مالدار ځوان سړے

مرقوس ۱۰ : ۱۷ ـ ۳۱، لُوقا ۱۸ : ۱۸ ـ ۳۰

۱۶ اَؤ بیا یو سړے عیسیٰ له راغے اَؤ سوال ئے وکړو،
”اُستاذه! زَهٔ کُومه داسے نیکی وکړم چه تل عمری ژوندون
مے نصیب شی؟“

۱۷ عیسیٰ ورته ووئیل، ”دَ نیکئ په حقله ولے تپوس کوے؟
نیک خو یو دے، خو که تهٔ غواړے چه په تل عُمری ژوندُون
کښے داخل شے نو دَ شرعے په حُکمُونو عمل کوه.“ ۱۸
هغه سړی تپوس وکړو چه ”کُوم حُکمُونه؟“ عیسیٰ ورته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئيل، ”قتل مه کوه، زِنا مه کوه، غلا مه کوه، دَ دروغو
ګواهي مه کوه، ١٩ دَ مور پلار عزت کوه اَؤ دَ خپل ګاونډی
سره دَ ځان په شان مینه کوه.“ ٢٠ هغه ځوان جواب
ورکړو چه ”ما په دے ټولو عمل کړے دے خو په ما کښے
څۀ کمے دے؟“

٢١ عيسیٰ ورته ووئيل، ”که تۀ کامِل کيدل غواړے نو لاړ
شه، خپل ټول مال اَسباب خرڅ کړه اَؤ خوارانو ته ئے
ورکړه، نو بيا به تۀ دَ آسمان خزانے ومُومے. بيا راځه اَؤ په
ما پسے شه.“

٢٢ هغه ځوان چه دا خبره واؤريده نو خفه زهير لاړو ځکه
چه هغه ډير مالدار سړے وو.

٢٣ عيسیٰ خپلو مُريدانو ته ووئيل چه ”بے شکه مالدار ته دَ
آسمان په بادشاهئ کښے داخليدل ګرانه خبره ده. ٢٤ زۀ
درته دوباره وايم چه دَ يو اُوښ دَ پاره دَ ستنے په سُوم کښے
تيريدل آسان دی، په نسبت دَ يو مالدار سړی دَ خُدائے په
بادشاهئ کښے داخليدل.“

٢٥ مُريدانو چه دا واؤريدل نو حق حيران شول. هغوئ
تپوس وکړو، ”نو بيا به څوک خلاصُون مُومی؟“

٢٦ عيسیٰ هغوئ ته وکتل اَؤ ورته ئے ووئيل چه ”دَ بنی آدم
دَ پاره خو دا نامُمکنه ده ولے خُدائے هر څۀ کولے شی“.

٢٧ په دے خبرے پطروس ووئيل چه ”مُونږ خو دَ دے دَ
پاره هر څۀ پريښی دی چه تا پسے روان شُو، نو هلته به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمُونږ دَ پاره څۀ وی؟“ ۲۸ عيسىٰ ورته په جواب کښے
ووئيل، ”زۀ تاسو ته دا وايم چه په هغه جهان کښے هر کله
چه اِبن آدم دَ خپلے لوئی په تخت کښينی نو تاسو چه ما
پسے شوی يئ به هم په دولسو تختُونو کښينئ اَؤ تاسو به دَ
بنی اِسرائيلو دَ دولسو قبيلو مُنصفان شئ. ۲۹ هر هغه چا
چه زما دَ خاطره ورُونړه، خويندے، پلار، مور، اَؤلاد، مزکه،
جائيداد اَؤ کورُونه پرېښی دی هغوئ به يو په سل بيا مُومی
اوتل عُمری ژوندون به ئے نصيب شی. ۳۰ خو ډېر ورُومبی
به وروستی کړے شی اَؤ ډېر وروستی به ورُومبی شی“.

## دَ انګورو دَ باغ مزدُوران

۲۰ ۱ دَ آسمان بادشاهی دَ دے په شان ده چه يو ځلے
دَ مزکے يو مالک وو. يو سحر هغه دَ کور نه ووتو چه دَ
خپلو دَ انګُورو دَ باغ دَ پاره مزدُوران ونيسی. ۲ اَؤ چه کله
ئے دَ ورځے مزدُوری ورسره مقرره کړه نو هغوئ ئے کار
ته وليږل. ۳ کچه غرمه چه هغه بهر ووتو نو په بازار کښے
ئے يو څو وزګار کسان نور وليدل. ۴ هغوئ ته ئے ووئيل
چه ځئ دَ هغه نورو مزدُورانو سره دَ انګُورو په باغ کښے کار
وکړئ اَؤ زۀ به تاسو ته مناسبه مزدُوری در کړم. ۵ نو
دوئ لاړل. غرمه اَؤ ماسپښين هغه بيا بهر ووتو اَؤ هغه شان
بندوبست ئے وکړو. ۶ دَ نمر پريوتو نه يوه ګينټه مخکښے
هغه بيا ووتو اَؤ يوه بله ډله ئے وزګاره وليده. نو هغۀ دوئ ته
ووئيل چه تاسو ولے ټوله ورځ داسے خوشی ګرزئ اَؤ هيڅ
کار نۀ کوئ؟ ۷ هغوئ ورته ووئيل چه مُونږ ته چا دَ څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار نهٔ دی وئیلی. هغهٔ ووئیل چه ځئ، تاسو هم دَ نورو سره دَ
انګورو په باغ کښې یو ځائې شئ. ۸ چه ماښام شو نو دَ
باغ مالک خپل ناظِر ته ووئیل چه مزدُوران راوغواړه اَؤ دَ
هغوئ مزدُوری ورکړه، دَ وروستئ ډلې نه شروع کړه اَؤ په
وړُومبئ ئې ختمه کړه. ۹ چا چه دَ ماښام نه یوه ګینټه
اول کار شروع کړې وو هغوئ ورغلل اَؤ ورته ئې دَ پُوره
ورځې مزدُوری ورکړه. ۱۰ اَؤ هر کله چه دَ وړُومبو
مزدُورانو وار راغې نو دَ هغوئ دا طمع وه چه څهٔ به زیات
ومُومی، خو هغوئ ته هم هغه څهٔ ورکړې شول څومره چه
نورو ته ورکړې شوی وُو. ۱۱ هغوئ چه مزدُوری واخسته
نو دَ کور مالک ته وګوریدل چه ۱۲ دې وروستنو خو یوه
ګینټه کار کړې دې اَؤ مُونږ سره دِ یو برابر کړل چا چه ټوله
ورځ په سره غرمه دَ ځانه خولې ایستې دی! ۱۳ هغهٔ یو ته
مخ راواړَوو اَؤ وئې وئیل، زما ملګریه! ما درسره هیڅ زیاتې
نهٔ دې کړې. تا دَ ورځې په مزدُورئ راسره فیصله نهٔ وه
کړې څهٔ؟ ۱۴ خپله مزدُوری واخله اَؤ کور ته ځه. دا زما
خوښه ده چه ورستنی سړی ته هم هغه څهٔ ورکړم څهٔ چه
مې هم تا ته درکړې دی. ۱۵ دا زما اِختیار نهٔ دې څهٔ چه
زَهٔ خپل مال څنګه ویشم؟ تهٔ په دې راته په بد نظر ګورې
چه زَهٔ سخی یم؟ ۱۶ دغه شان ورستنې وړُومبې شی اَؤ
وړُومبې ورستنې.

## دریم ځل دَ عیسیٰ دَ خپل مرګ په حق کښې پیشن ګوئی

مرقوس۱۰ : ۳۲ ـ ۳۴، لُوقا ۱۸ : ۳۱ ـ ۳۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ عیسیٰ بیتُ المُقدس ته روان وو اَؤ په لاره ئے دولس
مُریدان څان له کړل اَؤ ورته ئے ووئیل، ۱۸ "مُونږ اوس
بیتُ المُقدس ته ځُو اَؤ اِبن آدم به مشرانو کاهنانو اَؤ دَ
شرعے عالمانو ته په حواله کړے شی. هغوئ به پرے دَ قتل
حُکم وکړی، ۱۹ اَؤ غیرو خلقو ته به ئے حواله کړی چه
هغوئ به ورپورے ټوقے وکړی، په کروړو به ئے ووهی اَؤ په
سولئ به ئے وخیژوی، اَؤ په دریمه ورځ به هغه بیا ژوندے
پورته کړے شی."

## دَ یعقُوب اَؤ یوحنا عرض

مرقوس ۱۰ : ۳۵ ـ ۴۵

۲۰ بیا دَ زبدی دَ زامنو مور دَ خپلو زامنو سره ورغله، په
سجده ورته پریوته اَؤ سوال ئے ورته وکړو.

۲۱ عیسیٰ ورته ووئیل، "تهٔ څهٔ غواړے؟" هغے ورته ووئیل
چه "زَهٔ دا غواړم چه ستا په بادشاهئ کښے دِ زما دواړه
زامن ستا په څنګ کښے ناست وی، یو ستا ښی لاس ته اَؤ
بل ګس لاس ته" ۲۲ عیسیٰ هغه ورُونړو ته مخ وروګرځوو اَؤ
ورته ئے ووئیل، "تاسو چه څهٔ غواړئ په هغے نهٔ پوهیږئ.
کُوم دَ مُصیبتونو کنډول چه زَهٔ ئے څښُونکے یم آیا تاسو به
هغه وڅښلے شئ؟" هغوئ جواب ورکړو چه "هو، مُونږ ئے
څښلے شُو." ۲۳ بیا هغهٔ هغوئ ته ووئیل چه "تاسو به بے
شکه زما کنډول وڅښئ خو دا زما په اِختیار کښے نهٔ دے
چه څوک خپل ښی اَؤ ګس لاس ته کښینوم، دا دَ هغه چا په
برخه دی چه زما پلار ورته مقرر کړی دی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ کله چه هغه نورو لسو دا واؤریدل نو هغوئ دَ هغه دوؤ
وروڼو نه خفه شول. ۲۵ نو عیسیٰ هغوئ راوبلل اَؤ ورته ئے
ووئیل چه "تاسو ته پته ده چه په دُنیا کښے دَ غیرو قومونو
حاکمان دوئ دَ خپل قابو لاندے ساتی اَؤ دَ هغوئ امیران
پرے زور ښئی. ۲۶ خو په تاسو کښے دِ داسے نهٔ وی. په
تاسو کښے چه څوک لوئے کیدل غواړی هغه دِ ستاسو
خادم شی ۲۷ هر هغه څوک چه په تاسو کښے دَ ټولو نه
وړومبے کیدل غواړی هغه دِ په خپله خوښه دَ ټولو غلام شی.
۲۸ لکه چه اِبن آدم دَ دے دَ پاره نهٔ دے راغلے چه دَ هغهٔ
خدمت دِ وکړے شی بلکه دَ نورو خدمت دِ وکړی اَؤ خپل
ژوند دِ دَ ډیرو دَ پاره قُربان کړی."

## دَ دوؤ ړاندو سړو بینا کول

مرقوس ۱۰ : ۴۶ - ۵۲، لُوقا ۱۸ : ۳۵ - ۴۳

۲۹ کله چه هغوئ دَ یریحو نه وتل نو ډیر خلق ورپسے
روان وُو. ۳۰ دَ لارے په غاړه دوه ړاندهٔ سړی ناست وُو.
هغوئ چه دا واؤریدل چه عیسیٰ په دے لاره تیریږی نو هغوئ
چغے کړے، "اَئے مالکه! په مُونږ رحم وکړه! دَ داؤد زویه!"
۳۱ خلقو وزورل اَؤ ورته ئے ووئیل چه غلی شئ. خو هغوئ
نورے هم چغے کړے چه "مالکه! په مُونږ رحم وکړه! اَئے دَ
داؤد زویه!" ۳۲ عیسیٰ ودریدو اَؤ هغوئ ئے راوبلل اَؤ ورته
ئے ووئیل چه "تاسو زما نه څهٔ غواړئ؟" ۳۳ هغوئ ووئیل
مالکه! مُونږ خپل نظر غواړُو.

۳۴ دَ عیسیٰ زړهٔ پرے ډیر وسوزیدو اَؤ دَ هغوئ سترګو له
ئے لاس وروړو اَؤ هغوئ سمدستی بینا شول اَؤ ورپسے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روان شول.

## په بیتُ المُقدس کښې اِستقبال

مرقوس ۱۱ : ۱ ـ ۱۱، لُوقا ۱۹ : ۲۸ ـ ۴۰، یوحنا ۱۲ : ۱۲ ـ ۱۹

۲۱ ۱ هغوئ بیتُ المُقدس ته نزدے شول اَؤ کله چه
دوئ بیتِ فګے اَؤ دَ ښونانو غر ته ورسیدل نو عیسیٰ دوه
مُریدان دَ دے هدایاتو سره واستول چه ۲ "مخامخ کلی ته
ورشئ چرته چه به تاسو سمدستی یوه خره سره دَ کُوچی
تړلے ومُومئ. هغه پرانزئ اَؤ ما له ئے راولئ. ۳ که څوک
درته څۀ وائی نو ورته ووایئ چه دا زمُونږ دَ مالک په کار دی
اَؤ هغه به ئے تاسو سره سمدستی راپریږدی." ۴ دا دَ
هغے پیشن ګوئی پُوره کول دی چه په کښے وئیلی شوی دی
چه :

۵ "دَ صیون لُور ته ووایئ چه

ګوره! ستا بادشاه درروان دے،

څوک چه حلیم دے، په خرۀ سور،

بلکه یو بار وړُونکی کُوچی باندے سور."

۶ مُریدان لاړل اَؤ هغه څۀ ئے وکړل چه عیسیٰ ورته وئیلی
وُو. ۷ خره اَؤ کُوچے ئے راوستل، هغوئ خپلے قباګانے
پرے واچولے اَؤ عیسیٰ پرے سور شو. ۸ ګڼو خلقو
خپلے جامے دَ هغۀ په لاره کښے وغوړَولے اَؤ ځنے خلقو
دَ ونو څانګے راماتے کړے اَؤ لاره ئے ورته ښائسته کړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ بیا کُومه ړله چه ترے وړاندے روانه وه اَؤ چه کُومه
ورپسے وه هغوئ ټولو دا چغے وهلے، ”دَ داؤد زوی ته دِ
ثنا! مبارک هغه دے چه دَ رب په نُوم راځی. په هغهٔ دِ په
آسمان کښے هم ثنا وی!“ ١٠ کله چه عیسیٰ بیتُ المُقدس
ښار ته ورننوتو نو ټول ښار بے قابو شو اَؤ په جوش کښے
راغے اَؤ تپوس ئے وکړو چه ”دا څوک دے؟“

١١ اَؤ بے شماره خلقو ورته جواب ورکړو چه ”دا عیسیٰ
نبی دے، دَ ګلیل دَ ناصرت نه.“

## دَ خُدائے دَ کور پاکول

مرقوس ١١ : ١٥ - ١٩، لُوقا ١٩ : ٤٥ - ٤٨، یوحنا ٢ : ١٣ - ٢٢

١٢ عیسیٰ بیا دَ خُدائے کور ته ورننوتو اَؤ هغه ټول خلق چه
دَ خُدائے په کور کښے ئے سوداګری کوله، هغه ئے وشړل
اَؤ دَ صرافانو تختے اَؤ دَ کونترو دَ خرڅؤونکو تختګئ ئے په
بل مخ واړولے، ١٣ اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”صحیفے وائی
چه : ”زما کور به دَ دُعا کور شی،“ خو تاسو ترے دَ ډاکوانو
غار جوړوَئ.“ ١٤ دَ خُدائے په کور کښے ورته ړاندهٔ اَؤ
شل ګُډ خلق راغلل اَؤ دَهٔ هغوئ روغ کړل. ١٥ کاهنانو اَؤ دَ
شرعے عالمانو چه دا نا آشنا کارُونه ولیدل چه هغهٔ وکړل اَؤ
دَ خُدائے په کور کښے دَ ننه ئے چه دَ ماشومانو دا چغے
واؤریدے چه ”دَ داؤد په زوی دِ ثنا وی،“ ١٦ نو هغهٔ ته ئے
ووئیل چه ”دا ماشومان چه څهٔ وائی، ته ئے آؤرے؟“ عیسیٰ
جواب ورکړو چه ”هو، زَهٔ ئے آؤرم. آیا تاسو صحیفے نهٔ
دی لوستے چه : ”دَ وړو اَؤ تی رودُونکو دَ خُلے نه تا ثنا
کامله کړه.“““

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ بیا ئې دوئ پرېښودل اَؤ دَ ښار نه بهر بيتِ عنياه ته لاړل
اَؤ هلته ئې شپه تېره کړه.

## دَ اينځر په ونې لعنت

مرقوس ١١ : ١٢ ـ ١۴، ٢٠ ـ ٢۴

١٨ بل سحر چه عيسىٰ ښار ته راتلو نو وږې شو. ١٩ دَ
لارې په غاړه ئې دَ اينځر يوه ونه وليده اَؤ هغې ته ورغې
خو بغير دَ پاڼو ئې په کښې هيڅ ونۀ مُوندل. هغۀ ونې ته
ووئيل چه "تۀ دِ پس له دې تل تر تله شنډه يئې!" اَؤ ونه په
هغه ټکى وچه شوه.

٢٠ مُريدان په دې ننداره حيران شول. هغوئ تپوس وکړو
چه "دا لا څۀ چل دے؟ دا ونه څنګه داسې سمدستى وچه
شوه؟" ٢١ عيسىٰ ورته جواب ورکړو چه "زَۀ تاسو ته دا
وايم چه که چرې ستاسو ايمان کامل وى اَؤ شک نۀ کوئ
نو تاسو به هم هغه څۀ وکړئ کُوم چه دَ اينځر په ونه وشول،
بلکه لا دَ دې نه هم زيات. که تاسو تش دې غرۀ ته ووايئ دَ
دې خپل ځايه پورته شه اَؤ سمندر کښې ګُذار شه، نو څۀ
چه تاسو وايئ هغه به وشى. ٢٢ کُومه دُعا چه تاسو په ايمان
وغواړئ نو هغه به واړه قبُوله شى."

## دَ عيسىٰ دَ اختيار په بابت تپوس

مرقوس ١١ : ٢٧ ـ ٣٣، لُوقا ٢٠ : ١ ـ ٨

٢٣ عيسىٰ دَ خُدائې کور ته ننوتو اَؤ کله چه تعليم ئې ور
کولو نو مشر کاهن اَؤ دَ قوم مشران ورته راغلل اَؤ دا سوال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ئے پرے وکړو چه ”تهٔ دا کارُونه په کُوم اِختيار کوے اَؤ دا اِختيار تاله چا درکړے دے؟“

۲۴ عيسىٰ جواب ورکړو چه ”زَهٔ هم ستاسو نه يو تپوس کوم، تاسو ئے جواب راکړئ اَؤ زَهٔ به بيا درته وښايم چه دا کارُونه زَهٔ په کُوم اِختيار کوم. ۲۵ دَ يحيىٰ بپتسمه دَ خُدائے دَ لورى وه که دَ سړو؟“

هغوئ په خپلو کښے په بحث شول چه ”که مُونږ دا ووايو چه دَ خُدائے دَ طرفه وه، نو دے به دا ووائى چه بيا تاسو پرے ايمان ولے نهٔ راؤړو؟ ۲۶ اَؤ که دا ووايو چه دَ بنى آدمو دَ طرفه وه، نو هسے نهٔ چه خلق مو ونيسى ځکه چه هغوئ ټول يحيىٰ نبى منى.“ ۲۷ نو هغوئ جواب ورکړو چه ”مُونږ هيڅ خبر نهٔ يُو.“ عيسىٰ ورته ووئيل چه ”بيا به زَهٔ هم دا درته ونهٔ ښئيم چه زَهٔ په کُوم اِختيار دا کارُونه کوم.

## دَ دوؤ زامنو مِثال

۲۸ خو تاسو په دے حقله څهٔ خيال کوئ چه دَ يو سړى دوه زامن وُو. هغهٔ وړُومبى ته لاړو اَؤ ورته ئے ووئيل چه زما زويه! لاړ شه اَؤ نن دَ انګورو په باغ کښے کار وکړه. ۲۹ هلک ورته جواب ورکړو چه پلاره! زَهٔ نهٔ ځم، خو وروستو هغه پيښمانه شو اَؤ لاړو. ۳۰ بيا پلار دويم زوى له راغے اَؤ ورته ئے هغه شان ووئيل. خو هغهٔ جواب ورکړو چه زَهٔ به ځم، خو هغه باغ ته لاړ نهٔ شو. ۳۱ په دواړو کښے کُوم يو دَ پلار په رضا کار وکړو؟“ هغوئ ووئيل چه ”وړُومبى.“ بيا عيسىٰ ورته ووئيل، ”زَهٔ تاسو ته دا وايم چه محصُولچيان اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کنجرئ به هم دَ خُدائے په بادشاهئ کښے ستاسو نه
مخکښے داخلیږی. ۳۲ ځکه چه یحییٰ تاسو ته دَ
سمے لارے دَ ښودلو دَ پاره راغے نو تاسو پرے یقین ونۀ
کړو، خو محصُولچیان اَؤ کنجرو پرے ایمان راؤړو. اَؤ سره
دَ دے چه تاسو دا ولیدل، تاسو پښیمانه نۀ شوئ اَؤ هغه مو
ونۀ منلو.

## دَ انګُورو باغ اَؤ دَ باغوانانو مِثال

مرقوس ۱۲ : ۱ ـ ۱۲، لُوقا ۲۰ : ۹ ـ ۱۹

۳۳ یو بل مِثال واؤرئ: یو زمیندار وو چه دَ انګورو باغ ئے
ولګولو، ګیر چا پیره ئے دیوال ترے تاؤ کړو اَؤ په کښے ئے
دَ شرابو بټئ ولګوله اَؤ دَ څوکیدارئ دَ پاره ئے په کښے یو
برج جوړ کړو اَؤ بیا ئے باغوانانو ته په اِجاره ورکړو اَؤ بل
مُلک ته لاړو. ۳۴ کله چه دَ میوے موسم راغے هغۀ خپل
غُلامان باغوانانو ته واستول چه خپله برخه ترے واخلی. ۳۵
خو هغوئ دَ هغۀ غُلامان ونیول، یو ئے ووهو، دویم ئے مړ
کړو اَؤ دریم ئے سنګسار کړو. ۳۶ بیا هغۀ نور غُلامان
ورواستول، دا ځل زیات کسان وُو اَؤ هغوئ ورسره هم هغه
سلوک وکړو. ۳۷ په آخر کښے ئے خپل زوئے په دے
خیال ورواستولو چه ګنی زما دَ زوی لحاظ خو به وکړی.
۳۸ خو چه باغوانانو دَ دۀ زوئے ولیدو نو یو بل ته ئے
ووئیل چه هم دغه وارث دے، راځئ چه مړ ئے کړُو اَؤ په
میراث ئے قبضه وکړو. ۳۹ اَؤ هغه ئے راونیوو دَ انګورو دَ
باغ نه ئے بهر راوغورزولو اَؤ مړ ئے کړو.

۴۰ کله چه دَ انګورو دَ باغ مالک راشی نو ستاسو څۀ خیال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چه هغه به دَ دے باغوانانو سره څهٔ سلوک کوی؟“

٤١ هغوئ جواب ورکړو چه ”هغه به دا وران کاری خامخا ووژنی اَؤ باغ به نورو باغوانانو له په اِجاره ورکړی، څوک چه به په موسم کښے دَ دَهٔ دَ میوے برخه پُوره پُوره ورکوی.“

٤٢ بیا عیسیٰ هغوئ ته ووئیل چه ”تاسو چرے په صحیفو کښے دا نهٔ دی لوستی چه :

”کُوم کاڼے چه گِلکارانو رد کړو،

هم هغه دَ گُوټ سر شو.

دا دَ خُدائے دَ طرفه وشو،

اَؤ دا زمُونږ په نظر کښے عجیبه خبره ده.“

٤٣ ځکه زهٔ تاسو ته وایم چه دَ خُدائے بادشاهی به تاسو نه واخیستے شی اَؤ هغه قوم له به ورکړے شی څوک چه ئے پُوره میوه ورکوی. ٤٤ هر څوک چه دَ دے کاڼی سره تیندک وخوری هغه به ټوټے ټوټے شی، اَؤ که په چا دا راوغُورزیږی نو هغه به چیخنی کړی.“

٤٥ کله چه مشرانو کاهنانو اَؤ فریسیانو دا مثالُونه واؤریدل نو هغوئ پوهه شول چه دا ټول مِثالُونه په هغوئ پورے دی. ٤٦ هغوئ غوښتل چه دَئے گرفتار کړی خو دَ خلقو نه ویریدل ځکه چه هغوئ عیسیٰ نبی گڼلو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ وادهٔ دَ میلمستیا مِثال

لُوقا ۱۴ : ۱۵ - ۲۴

۲۲ ۱ بیا عیسیٰ هغوئ ته په مِثالُونو کښې ووئیل، ۲
”دَ آسمان بادشاهی دَ هغه بادشاه په شان ده چه دَ خپل
زوئے دَ وادهٔ ډوډئ ئے وکړه. ۳ خو کله چه هغهٔ خپل
غُلامان په رابللو شوؤ خلقو پسے واستول نو هغوئ رانهٔ غلل.
۴ هغهٔ بیا نور غُلامان ورپسے واستول اَؤ ورته ئے ووئیل
چه چه رابللو شوؤ خلقو ته دا ووایئ چه دا ډوډئ ما ستاسو
دَ پاره کړے ده. ما خپل غویان اَؤ څاربهٔ څاروی ستاسو دَ
پاره حلال کړی دی، هر څهٔ تیار دی، سمدستی وادهٔ ته
راشئ. ۵ خو هغوئ ئے هیڅ پرواه ونهٔ کړه، یو خپل پټی ته
لاړو اَؤ بل خپلے سوداګرئ ته. ۶ اَؤ نورو دَ هغهٔ غُلامان
ونیول، بے عزته ئے کړل اَؤ وئے وژل. ۷ بادشاه غصه
شو، هغهٔ دَ هغه خُونیانو دَ وژلو دَ پاره لښکر واستولو اَؤ دَ
هغوئ ښار ئے وسوزولو. ۸ بیا هغهٔ خپلو غُلامانو ته
ووئیل، دَ وادهٔ ډوډئ تیاره ده خو کُوم میلمانهٔ چه ما رابللی
وُو هغوئ دَ دے عزت لائق نهٔ وُو. ۹ لویو لارو اَؤ چوکُونو
ته لاړ شئ اَؤ هر څوک چه بیا مُومئ ډوډئ ته ئے راولئ. ۱۰
غُلامان بازار ته ووتل اَؤ ښه اَؤ بد ټول ئے راوبلل اَؤ دغه
شان دَ میلمنو نه کوټه ډکه شوه.

۱۱ څهٔ وخت چه بادشاه راغے چه میلمانهٔ ووینی نو هغهٔ
وکتل چه یو سړی دَ وادهٔ جامے نهٔ وے آغوستے. ۱۲
بادشاه ورته ووئیل چه زما ملګریه! تهٔ دَ وادهٔ دَ جامو نه بغیر
دلته څنګه راغلے؟ هغهٔ سره هیڅ جواب نهٔ وو. ۱۳ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه خپلو خادمانو ته ووئیل چه دَ دَهٔ لاس اَؤ پښے وتړئ
اَؤ بهر په تیارهٔ کښے ئے وغورزوئ، هغه ځائے چه ژړا اَؤ دَ
غاښُونو چیچل به په کښے وی.

۱۴ ځکه چه رابللی شوی خو ډیر دی، ولے غوره شوی لږ.“

## دَ رُوم قیصر ته خراج ور کول

مرقوس ۱۲ : ۱۳ ـ ۱۷، لُوقا ۲۰ : ۲۰ ـ ۲۶

۱۵ بیا فریسیان لاړل اَؤ صلاح ئے وکړه چه څنګه ئے په
خپلو خبرو کښے ونښلوُو. ۱۶ خپل ځنے کسان ئے دَ
هیرودیانو سره هغهٔ ته ورولیږل. هغوئ ووئیل چه ”اُستاذه!
مُونږ پوهیږو چه تهٔ رښتینے ئے اَؤ تهٔ ډیر په ریښتیا دَ
خُدائے دَ لارے تعلیم ورکوے اَؤ دَ هیچا پرواه اَؤ مخ نهٔ
کوے. ۱۷ مُونږ ته په دے حقله فیصله راکړه چه آیا مُونږ دَ
رُوم قیصر ته دَ خراج په ورکولو پابند یُو اَؤ که نهٔ؟“ ۱۸
عیسیٰ دَ هغوئ په سازش پوهه وو اَؤ هغوئ ته ئے ووئیل چه
”اَئے مُنافقو! تاسو ما ولے راګیروئ؟ ۱۹ تاسو ما ته دَ
خراج سکه وښایئ.“ هغوئ دَ سپینو زرو یوه سِکه ورله
ورکړه. ۲۰ عیسیٰ تپوس وکړو چه ”دا دَ چا تصویر دے اَؤ
دَ چا نُوم دے؟“ ۲۱ هغوئ جواب ورکړو چه ”دَ قیصر.“
هغهٔ دوئ ته ووئیل، ”څهٔ چه دَ قیصر وی، هغه قیصر له اَؤ
څهٔ چه دَ خُدائے وی، هغه خُدائے له ورکوی.“ ۲۲ په دے
جواب هغوئ حق حیران شول اَؤ ترے لاړل اَؤ دَئے ئے
یواځے پریښودو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ قیامت په حق کښې تپوس

مرقوس ۱۲ : ۱۸ ـ ۲۷، لُوقا ۲۰ : ۲۷ ـ ۴۰

۲۳ هم په دغه ورځ صدُوقیان ورته راغلل چه قیامت ئے نهٔ
منلو. دَ هغوئ سوال دا وو، ۲۴ ”اُستاذه! مُوسیٰ وئیلی دی
چه که یو سړے بے اَوْلاده مړ شی نو دَ هغهٔ ورور دِ دَ هغهٔ
کونډه په نکاح واخلی اَوْ دَ خپل ورور نسل دِ پیدا کړی. ۲۵
زمُونږ په مینځ کښې اُووهٔ ورُوڼه اوسیدل. وړُومبی وادهٔ
وکړو اَوْ مړ شو. دَ هغهٔ اَوْلاد نهٔ وو، نو دَ هغهٔ ښځه دَ هغهٔ
ورور ته پاتے شوه. ۲۶ دغه شان دَ دویم، دریم عن تر
اُوومه پورے خبره ورسیده. ۲۷ اَوْ په آخر کښې هغه ښځه
مړه شوه. ۲۸ نو دا راته ووایه چه دَ قیامت په ورځ به هغه دَ
چا ښځه وی، ځکه چه ورسره ټولو وادهٔ کړے وو؟“

۲۹ عیسیٰ جواب ورکړو چه ”تاسو په غلطه یئ ځکه چه نهٔ
خو تاسو په صحیفو پوهیږئ اَوْ نهٔ دَ خُدائے په قُدرت خبر
یئ. ۳۰ ځکه چه په قیامت کښې به ښځے اَوْ سړی وادهٔ نهٔ
کوی. دوئ به په آسمان کښې دَ فرښتو په شان وی. ۳۱
خو دَ مړو دَ بیا راژوندی کیدو په حقله تاسو دَ خُدائے هغه
قول نهٔ دے لوستے چه خُدائے په خپله وئیلی دی چه، ۳۲
”زهٔ دَ اِبراهیم خُدائے، دَ اِسحاق خُدائے اَوْ دَ یعقُوب خُدائے
یم.“ هغه دَ مړو خُدائے نهٔ دے بلکه دَ ژوندو خُدائے دے.“
۳۳ خلقو دَ هغهٔ خبرے واؤریدے اَوْ دَ هغهٔ په تعلیم حیران
شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په شریعت کښې دَ ټولو نه لوئے حُکم

مرقوس ۱۲ : ۲۸ ـ ۳۴، لُوقا ۱۰ : ۲۵ ـ ۲۸

۳۴ فریسیان چه په دے خبر شول چه عیسیٰ دَ صدُوقیانو
خُلهٔ بنده کړے ده نو راغونډ شول. ۳۵ دَ هغوئ یو عالم دَ
آزمیښت دَ پاره دا سوال وکړو، ۳۶ ”اُستاذه! په شریعت
کښې دَ ټولو نه لوئے حُکم کُوم یو دے؟“

۳۷ هغهٔ ورته جواب ورکړو چه، ”دَ مالک خُدائے سره دَ
زړهٔ په راستئ، په پُوره رُوح اَؤ په پُوره عقل سره مینه لرئ.
۳۸ دا ټولو نه لوئے اَؤ وړومبے حُکم دے. ۳۹ اَؤ دویم
حکم هم په دے شان دے چه، دَ خپل ګاونډی سره دَ خپل
ځان په شان مینه کوئ. ۴۰ دَ شریعت اَؤ دَ نبیانو دَ تعلیم
ټول بُنیاد په دے دواړو حُکمُونو دے.“

## دَ داؤد دَ نسل په حقله تپوس

مرقوس ۱۲ : ۳۵ ـ ۳۷، لُوقا ۲۰ : ۴۱ ـ ۴۴

۴۱ عیسیٰ راجمع شوؤ فریسیانو ته مخ راواړَوو اَؤ تپوس
ئے وکړو چه ۴۲ ”تاسو دَ مسیح په حقله څهٔ وایئ؟ هغه دَ
چا زوئے دے؟“ هغوئ جواب ورکړو چه ”دَ داؤد زوئے
دے.“ ۴۳ هغهٔ ورته ووئیل چه ”داؤد بیا ولے دَ اِلهام په رُوح
کښې ورته مالک خُدائے وائی؟ ۴۴ ځکه چه هغه وائی :

”مالک زما مالک ته ووئیل چه زما ښئ لاس ته کښېنه،

تر څو چه زَهٔ ستا دُښمنان ستا دَ پښو لاندے نهٔ کړم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۵ که چرې داؤد ورته مالک وائی نو بيا څرنګ هغه دَ
داؤد زوئے شو؟“ ۴۶ يو کس هم دَ هغهٔ په جواب څهٔ ونهٔ
وئيل اَؤ دَ دې ورځې نه پس هيچا هم په هغهٔ دَ سوال کولو
همت ونهٔ کړو.

## دَ عيسىٰ دَ فريسيانو اَؤ دَ شرعې دَ عالمانو ملامته کول

مرقوس ١٢ : ٣٨ ـ ٣٩، لُوقا ١١ : ۴۳،۴۶ اَؤ ٢٠ : ۴۵ ـ ۴۶

٢٣ ١ عيسىٰ بيا خپلو مُريدانو اَؤ خلقو ته داسې خبرې
وکړلې چه ٢ ”دَ شرعې عالمان اَؤ فريسيان دَ مُوسىٰ په
ګدئ ناست دی، ٣ نو هر څهٔ چه دوی تاسو ته وائی هغه
کوئ دَ هغوئ خبرو ته غوږ ږدئ، خو دَ هغو په شان کارُونه
مه کوئ ځکه چه دوئ وائی يو څهٔ اَؤ کوی بل څهٔ. ۴ دوئ
درانهٔ پيټی تړی اَؤ دَ خلقو په اوږو ئې باروَی خو دا نهٔ غواړی
چه دَ يو بوج دَ اوچتولو دَ پاره خپله يوه ګوته هم وروړی. ۵
دوئ چه هر څهٔ کوی دا دَ نمائش دَ پاره کوی. هغوئ خپل
تعويزُونه غټ جوړوی اَؤ دَ خپلو چوغو ځونډی لوئې. ۶
دوئ په دعوت کښې غوره ځايُونه خوښوی اَؤ په عبادت
خانو کښې دَ مشرئ کُرسئ، ٧ اَؤ په بازارونو کښې دَ
خلقو نه سلامونه غواړی اَؤ چه دَ ربی په نوم وبللې شی. ٨
تاسو ته دِ څوک ربی ونهٔ وائی ځکه چه ستاسو يو اُستاذه
شته اَؤ تاسو ټول ورُونه يئ. ٩ په مزکه هيچا ته پلار مهٔ
وايئ ځکه چه تاسو يو پلار لرئ اَؤ هغه په آسمان کښې دے.
١٠ تاسو ته دِ څوک اُستاذ ونهٔ وائی ځکه چه تاسو يو اُستاذ
لرئ اَؤ هغه مسيح دے. ١١ په تاسو کښې دِ دَ ټولو نه لوئې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو خادم وی. ۱۲ اَؤ هر څوک چه ځان اُوچتوی هغه به
غریب کړے شی، اَؤ چه څوک ځان غریب کړی هغه به
اُوچت کړے شی."

## دَ عیسیٰ په مُنافقانو پابندی

مرقوس ۱۲ : ۴۰، لُوقا ۱۱ : ۳۹ ـ ۴۲، ۵۲ : ۲۰، ۴۷

۱۳ اَئے دَ شرعے عالمانو، فریسیانو! مُنافقانو! په تاسو
اَفسوس! تاسو دَ آسمان دَ بادشاهئ دروازے په خلقو بندوئ،
نه خو تاسو خپله ورننوزئ اَؤ نۀ نور ننوتو ته پرېږدئ. ۱۴
اَئے دَ شرعے عالمانو، فریسیانو! مُنافقانو! اَفسوس په تاسو!
تاسو دَ کُونډو مالُونه خورئ خو دَ نمائش دَ پاره اُوږده دُعا
کوئ. تاسو ته به سخته سزا درکولے شی. ۱۵ اَئے دَ
شرعے عالمانو، فریسیانو! مُنافقانو! په تاسو اَفسوس دے
چه تاسو په وچه اَؤ لمده دَ دے دَ پاره سفر کوئ چه یو کس
ځان ته راواړوئ، اَؤ چه کله هغه تاسو ځان ته راواړوئ نو دَ
ځان نه ئے یو په دوه چنده دَ دوزخ زوئے جوړوئ.

۱۶ اَفسوس! اَئے ړندو لاربښوُونکو! چه تاسو وایئ چه که
څوک دَ خُدائے دَ کور قَسم وخوری نو هیڅ خبره نۀ ده، خو
که هغه دَ خُدائے دَ کور دَ ننه په سرو زرو قَسم وخوری نو
پابند وی. ۱۷ اَئے ړندو کم عقلو! په دے دواړو کښے کُوم
یو څیز اَهم دے، سرۀ زر اَؤ که دَ خُدائے کور چه زر هم
پاکوی؟ ۱۸ یا تاسو وایئ که څوک په قربانګاه قسم وخوری
نو هیڅ خبره نۀ ده، خو که څوک دَ قربانګاه په شکرانے قَسم
وخوری نو هغه پابند وی. ۱۹ اَئے ړندو! کُوم څیز زیات اَهم
دے، شکرانه که هغه قربانګاه چه شکرانه هم پاکوی؟ ۲۰

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چه په قربانګاه قَسم وخوری. نو هغه په قربانګاه اَؤ په
هغې باندے په موجُودو شکرانو دواړو قَسم خوری. ٢١
څوک چه دَ خُدائے په کور قَسم خوری، نو هغه په هغې اَؤ
څوک چه هلته اوسی، په دواړو قَسم خوری. ٢٢ اَؤ څوک
چه په آسمان قَسم وخوری نو هغه دَ خُدائے په تخت اَؤ دَ
هغۀ په کښیناستُونکی قسم خوری. ٢٣ اَئے دَ شرعې
عالمانو، فریسیانو! مُنافقانو! په تاسو اَفسوس چه تاسو ویلنی
دَ کاڼِو اَؤ دَ زیرے عشُر ورکوئ خو دَ شریعت معتبرے
خبرے، اِنصاف، رحم اَؤ ایمان مو پریښی دی په کار دا وه
چه دا مو هم کولے اَؤ هغه مو هم پریښودلے. ٢٤ اے ړندو
لار ښوُونکو! ماشے خو چڼوئ خو اُوښ سره دَ ګپے تیروئ.
٢٥ اَئے دَ شرعې عالمانو، فریسیانو! مُنافقانو! په تاسو
افسوس! تاسو دَ کنډول اَؤ رکابئ بهرنے اړخ پاک ساتئ خو
هغه مو دَ ننه په لُوټ اَؤ بد پرهیزئ ډک کړی دی. ٢٦ اَئے
ړونده فریسی! اول کنډول دَ ننه صفا کړه، نو بهر به ئے هم
صفا شی.

٢٧ اَئے دَ شرعې عالِمانو، فریسیانو! مُنافقانو! په تاسو
اَفسوس! ستاسو مِثال دَ هغه قبرُونو دے چه بهر سپین کړی
اَؤ ښائسته ښکاری خو دَ ننه دَ مَړو دَ هډُوکو اَؤ دَ نورے
ګندګئ نه ډک وی. ٢٨ دغه حال ستاسو هم دے، په ظاهره
خو تاسو صادِقان ښکارئ، ولے دَ ننه دَ مُنافقت اَؤ بے
شرعې کارُونو نه ډک یئ.

## دَ عیسیٰ پیشن ګوئی دَ مُنافقانو دَ دَ سزا په حقله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ اَئِے دَ شرعے عالمانو، فریسیانو! مُنافقانو! په تاسو
اَفسوس چه تاسو دَ نبیانو زیارتُونه جوړوئ اَؤ دَ صادِقانو
مقبرے ډَؤلی کوئ، ۳۰ اَؤ دا وایئ چه که چرے مُونږ دَ
خپلو پلارُونو نیکُونو په زمانه ژوندی وئے نو دَ نبیانو په خُون
کښے به شریک شوی نهٔ وُو. ۳۱ دغسے تاسو په ځان
ګواهی کوئ چه تاسو دَ هغو خلقو زامن یئ چا چه نبیان
وژلی وُو. ۳۲ نو ځئ اَؤ دَ خپلو پلارونو نیکُونو نیمګړے
کنډول ډک کړئ. ۳۳ اَئِے مارانو اَؤ دَ مارانو بچو! فکر
وکړئ چه تاسو به دَ دوزخ دَ سزا نه څنګه خلاص شئ؟ ۳۴
ځکه زَهٔ تاسو ته نبیان حکیمان اَؤ دَ شرعے عالمان دراستوم
نو څنی به تاسو مړهٔ کړئ، څنے به په سولئ کړئ اَؤ څنے
به په خپلو عبادت خانو کښے په کروړو ووهئ اَؤ دَ یو ښار
نه به ئے بل ښار ته په مخه کړئ. ۳۵ دغه شان به دَ ټولو
بے ګُناه خلقو په مزکه دَ توئے شوے وینے جُرم ستاسو په
غاړه شی، دَ بے ګُناه هابیل نه دَ برکیاه دَ زوئے زکریاه تر
وینے پورے، څوک چه تاسو دَ خُدائے دَ کور اَؤ قربانګاه په
مینځ کښے مړ کړو. ۳۶ زَهٔ تاسو ته رښتیا وایم چه دا ټول
به په دے پیړئ باندے راځی.

## دَ عیسیٰ بیتُ المُقدس دَ پاره خفګان کول

لُوقا ۱۳ : ۳۴ ـ ۳۵

۳۷ اَئِے بیتُ المُقدسه! اَئِے دَ بیتُ المُقدس ښارئے! چه تهٔ
نبیان وژنے اَؤ رسُولان سنګساروَے چه تا ته رالیږلے شوی
دی. ما څو ځله دا کوشش وکړو چه ستا بچی راغونډ کړم،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې لکه چه چرګه خپل بچی تر وزرو لاندې کوی، خو تا
دا نۀ غوښتل. ۳۸ وګوره! هغه دې ستاسو کور چه شاړ
پاتې کيږی. ۳۹ اَؤ زَۀ تاسو ته دا وايم چه تاسو به تر هغه
وخته ما ونۀ وينئ تر څو چه دا ونۀ وايئ چه "مُبارک دِ وی
هغه چه څوک دَ رب په نوم راځی."

## دَ عيسیٰ دَ خُدائے دَ کور دَ بربادئ پيشن ګوئی

مرقوس ۱۳ : ۱، ۲

۲۴ ۱ عيسیٰ دَ خُدائے دَ کور نه په وتو وو چه مُريدان
ئے راغلل اَؤ دَ خُدائے دَ کور ودانئ ئے ورته په ګوته کړې.
۲ هغۀ ځواب ورکړو چه "دې ټولو ته وګورئ، زَۀ تاسو ته
دا وايم چه دلته به يو کاڼے هم دَ بل دَ پاسه پاتې نۀ شی اَؤ
ټول به ونړولے شی."

## دَ مُشکلاتو آغاز

مرقوس ۱۳ : ۳ ـ ۱۳، لُوقا ۲۱ : ۷ ـ ۱۹

۳ څۀ وخت چه عيسیٰ دَ ښونانو په غر ناست وو نو
مُريدان ئے راغلل چه دَ هغۀ سره په پړده کښې خبرې
وکړی. هغوئ ووئيل، "مُونږ ته دا وښايه چه دا به کله پيښه
شی اَؤ ستا دَ راتلو اَؤ دَ آخری زمانې نخښه به کُومه وی؟"
۴ عيسیٰ جواب ورکړو، "خبردار، چه څوک مو بې لارې
نۀ کړی. ۵ ځکه چه ډير به زما دَ نوم دعویٰ کوی اَؤ وائی
به چه زَۀ مسيح يم، اَؤ ډير به بې لارې کوی. ۶ داسې
وخت راځی چه تاسو به په خپل خواؤ شاه کښې دَ جنګُونو
چغې سُورې آؤرئ اَؤ دَ جنګونو نه به خبريږئ، خو ګورئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه ستاسو وار خطا نۀ شی ځکه چه داسے خبرے به
خامخا پيښيږی خو لا به آخر نۀ وی.

۷ قوم به دَ قوم سره جنګيږی اَؤ بادشاهی به دَ بادشاهۍ
سره. په ډيرو ځايُونو کښے به قحطُونه اَؤ زلزلے راځی. ۸
خو دا ټولے خبرے به دَ لنګُون دَ دردُونو دَ شروع په شان
وی.

۹ تاسو به بيا دَ تنګسيا اَؤ دَ مرګ دَ پاره حواله شئ اَؤ ټول
قومُونه به زما دَ نُوم په وجه تاسو سره کينه ساتی. ۱۰ په
دغه وخت کښے به ډير تيندک وخوری اَؤ دَ يو بل په سر به
مُخبری کوی اَؤ دَ يو بل سره به کينه کوی. ۱۱ دروغژن
نبيان به راپورته شی اَؤ ډير خلق به بے لارے کړی. ۱۲ اَؤ
چه بے شرعے کارُونه زيات شی نو دَ خلقو به دَ يو بل سره
مينه ورکه شی. ۱۳ خو کُوم سړے چه تر آخره ټينګ پاتے
شی هغه به بچ کړے شی. ۱۴ اَؤ په ټول عالم کښے به دَ
بادشاهۍ زيرے وعظ کيږی اَؤ دَ ټولو قومُونو دَ پاره به ګواهی
شی اَؤ بيا به آخرت وی.

## لوئے آفت

مرقوس ۱۳ : ۱۴ ـ ۲۳، لُوقا ۲۱ : ۲۰ ـ ۲۴

۱۵ هر کله چه تاسو ”دَ برباد وُونکو پليتی“ ووينئ چه ذکر
ئے دَ دانيال نبی په وسيله شوے دے چه په پاک مقام کښے
ولاړه وی، لوستُونکے دِ په دے پوهه شی، ۱۶ نو هغوئ چه
په يهوديه کښے دی خامخا دِ غرونو ته وخيژی. ۱۷ که
څوک په چت باندے وی هغه دِ دَ سامان خيژولو دَ پاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بښکته کُوز نۀ شی. ۱۸ اَؤ څوک چه په پټو کښې وی هغه دِ
دَ خپلې چُغې را اخستلو دَ پاره بیرته رانۀ شی. ۱۹ اَفسوس
دے په هغه ښځو چه په دغه ورځو کښې اُمیدوارے وی اَؤ
په هغو چه بچو ته تے ورکوی. ۲۰ دُعا کوئ چه ستاسو
تیښته نه خو په ژمی کښې راشی اَؤ نۀ دَ سبت په ورځ. ۲۱
ځکه چه هغه به دَ ډیرے بد حالئ ورځے وی. داسے وخت
دَ دُنیا دَ شروع نه تر دے لا نۀ دے راغلے اَؤ نۀ به بیا چرته
راشی. ۲۲ که هغه دَ تکلیف ورځے لنډے کړے شوے نۀ
وئے نو یو ژوندے سړے به هم بچ شوے نۀ وئے، خو دَ
خُدائے دَ غوره شوو دَ خاطره به هغه ورځے لنډے کړے
شی.

۲۳ اَؤ که بیا تاسو ته څوک دا ووائی چه ګورئ مسیح دلته
دے یا هلته دے، نو باور پرے مۀ کوئ. ۲۴ دروغژن
مسیحان اَؤ دروغژن نبیان به پورته کیږی اَؤ دوئ به لوئے
نخښے اَؤ عجیبه کارُونه ښکاره کوی، اَؤ که مُمکن وی نو
ډیر غوره شوی به ګُمراه کوی. ۲۵ ګورئ، ما تاسو دَ کیدو
نه اول خبردار کړئ.

۲۶ که هغوئ تاسو ته ووائی چه هغه هلته په بیابان کښې
دے نو بهر ورپسے مۀ ځئ، اَؤ که هغوئ ووائی چه هغه دَ ننه
په کوټه کښې دے نو باور پرے مۀ کوئ. ۲۷ لکه څنګه چه
بریښنا دَ نمر خاتۀ نه نمر پریواتۀ ته خوریږی دغه شان به دَ
اِبن آدم راتلل وی. ۲۸ چرته چه مُرداره وی هلته به ګنجئ
راټولیږی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ اِبن آدم راتلل

مرقوس ۱۳ : ۲۴ ـ ۲۷، لُوقا ۲۱ : ۲۵ ـ ۲۸

۲۹ اَؤ هر کله چه دَ دغه ورځو تنګسیا تیره شی نو
"سمدستی به نمر تور شی اَؤ دَ سپوږمئ رڼا به ورکه شی،
ستوری به دَ آسمان نه راپریوزی اَؤ آسمانی طاقتُونه به
وجړقولے شی." ۳۰ بیا به په آسمان کښے دَ اِبن آدم دَ
راتلو نخښه ښکاره شی، دَ دُنیا ټول قومونه به ماتم کوی اَؤ
هغوئ به اِبن آدم وینی چه دَ آسمان په وریځو کښے به دَ
طاقت اَؤ دَ ډیرے لوئی سره راځی. ۳۱ اَؤ هغه به خپلے
فرښتے دَ تُورئ په لوئے آواز سره راولیږی اَؤ هغوئ به دَ
څلورو طرفُونو نه، یعنے دَ آسمان دَ یو سر نه تر بله سره،
غوره شوے خلق راټول کړی.

## دَ اینځر دَ ونے مِثال

مرقوس ۱۳ : ۲۸ ـ ۳۱، لُوقا ۲۱ : ۲۹ ـ ۳۳

۳۲ دَ اینځر دَ ونے دَ مِثال نه سبق واخلئ. هر کله چه دَ
هغے نازکے څانګے غوټئ کوی اَؤ پاڼے ئے راؤټو کیږی نو
تاسو پوهه شئ چه اوړے په راتلو کښے دے. ۳۳ دغه شان
چه تاسو دا هر څۀ ووینئ نو پوهه شئ چه آخرت رانزدے
دے بلکه درته رارسیدلے دے. ۳۴ زۀ تاسو ته رښتیا وایم
چه دا موجُوده پیړئ به تر هغے پورے وی تر څو چه دا هر
څۀ شوی نۀ وی. ۳۵ آسمان اَؤ مزکه به پاتے نۀ شی خو
زما کلام به پاتے شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نا معلُومه ورځ اَؤ ګړۍ

مرقوس ۱۳ : ۳۲ ـ ۳۷، لُوقا ۱۷ : ۲۶ ـ ۳۰، ۳۴ ـ ۳۶

۳۶ خو هغه ورځ اَؤ هغه ګړۍ هيچا ته معلُومه نۀ ده، نۀ خو
دَ آسمان فرښتے پرے خبر دی اَؤ نۀ زوئے، خو يو پلار
پرے خبر دے. ۳۷ لکه چه دَ نُوح په ورځو کښے وشُو نو
دغه شان به دَ اِبن آدم په راتلو هم وشی. ۳۸ په هغه ورځو
کښے چه دَ طوفان دَ راتلو نه اول وُو هغوئ خوړل، څښل،
وادُونه ئے کول اَؤ وادُونه ئے ورکول، تر هغے ورځے
پورے چه نُوح په بيړئ کښے ننوتلو. ۳۹ اَؤ دوئ تر هغے
هيڅ خبر نۀ وُو تر څو چه طوفان رانۀ غے اَؤ دوئ ئے لاهُو
نۀ کړل. دغه شان به دَ اِبن آدم په راتلو وی. ۴۰ نو هغه
وخت به دوه تنه په پټی کښے وی، يو به بوتلے شی اَؤ بل به
پريښودلے شی. ۴۱ دوه ښځے به ميچن کوی، يوه به
بوتلے شی اَؤ بله به پريښودلے شی. ۴۲ بيدار اوسئ، ځکه
چه تاسو هيڅ خبر نۀ يئ چه مالک به په کُومه ورځ راځی.
۴۳ ياد لرئ، که دَ کور څښتن خبر وئے چه غل به دَ شپے
په کُوم پار کښے راځی نو هغه به بيدار وو اَؤ خپل کور به
ئے کنډر کيدو ته نۀ وو پريښے. ۴۴ تاسو هم تيار اوسئ چه
اِبن آدم به په داسے وخت راځی چه ستاسو په وهم و ګمان
کښے به هم نۀ وی.

## وفادار يا بے وفا نوکر

لُوقا ۱۲ : ۴۱ ـ ۴۸

۴۵ نو بيا اِعتباری اَؤ هوښيار نوکر څوک دے؟ هغه سړے
چه مالک دَ کور مُختار کړے وی چه دَ کور دَ نوکرانو خيال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساتی اَؤ هغوئ له په وخت خوراک ورکوی. ۴۶ هغه نوکر بختور دے چه هر کله ئے مالک راشی اَؤ هغه په کار کښے بوخت ووینی. ۴۷ زَهٔ تاسو ته دا وایم چه مالک به هغه دَ ټول مال مُختار کړی. ۴۸ خو که هغه بد نوکر وی اَؤ په زړهٔ کښے دا وائی، بویه چه مالک راځی، ۴۹ اَؤ دَ نورو نوکرانو په وهلو ټکولو لاس پورے کړی اَؤ دَ خپلو شرابیانو ملګرو سره خوری څښی، ۵۰ نو مالک به ئے په داسے ورځ راشی چه نوکر به په انتظار کښے نهٔ وی. په داسے وخت به راځی چه هغه به خبر نهٔ وی، ۵۱ اَؤ په وهلو باندے به ئے ټوټے ټوټے کړی اَؤ دغه شان به هغه خپل ځان دَ مُنافقانو په ډله کښے کړی، چرته چه به ژړا اَؤ دَ غاښُونو چیچل وی.

## دَ لسو پیغلو مِثال

**۲۵** ۱ په هغه وخت به دَ آسمان بادشاهی دَ لسو پیغلو په شان وی چا چه مشعلُونه واخستل چه دَ وادهٔ دَ زلمی مخے له وروزی. ۲ پینځهٔ کم عقلے وے اَؤ پینځهٔ هوښیارے.
۳ هر کله چه کم عقلو مشعلُونه پورته کړل نو دَ ځان سره ئے تیل وانهٔ خستل. ۴ خو هغه هوښیارو دَ ځان سره دَ تیلو کُوپئ هم واخستے. ۵ کله چه دَ وادهٔ زلمے په راتلو کښے ایسار شو نو هغوئ ټولے پرکاله شوے اَؤ خوب یوړے.
۶ خو په نیمه شپه کښے چغے شوے، دا دے دَ وادهٔ زلمے! راشئ چه وئے وینئ! ۷ په دے ټولے پیغلے پاڅیدلے اَؤ خپل مشعلُونه ئے سم کړل. ۸ کم عقلو هوښیارو ته ووئیل چه دَ خپلو تیلو نه مُونږ له لږ راکړئ ځکه چه زمونږ مشعلُونه مری. ۹ هغوئ ورته ووئیل چه مُونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره دومره تیل نشته چه دَ ټولو کار پرې وشی، ښهٔ به دا وی
چه تاسو دکان ته لاړې شئ اَؤ ځان له تیل واخلئ. ۱۰ څهٔ
وخت چه هغوئ په تیلو پسې تلې وې نو دَ وادهٔ زلمې
راغې. کُومې چه تیارې وې هغوئ ورسره دَ وادهٔ مجلس
ته ننوتې اَؤ ور بند شو. ۱۱ اَؤ بیا هغه نورې پینځهٔ هم بیرته
راغلې اَؤ چغې ئې کړې، صاحبه! صاحبه! مُونږ ته ور
بیرته کړه. ۱۲ خو هغهٔ ورته جواب ورکړو، خبره دا ده چه
زَهٔ تاسو نهٔ پیژنم. ۱۳ ځکه بیدار اوسئ، ولې چه تاسو ته دَ
ورځې اَؤ دَ وخت هیڅ پته نشته.

## دَ اشرفو مِثال

لُوقا ۱۹ : ۱۱ ـ ۲۷

۱۴ مِثال ئې دَ هغه سړی دے څوک چه په سفر تلو اَؤ
نوکران ئې راوبلل اَؤ خپل مال ئې ورته وسپارو. ۱۵ یو له
ئې دَ سرو زرو پینځهٔ تیلئ ورکړې، دویم ته ئې دوه اَؤ دریم
ته یوه، هر یو ته دَ خپل قابلیت په مُطابق، بیا هغه دَ ملک نه
روان شو. ۱۶ چا ته چه پینځهٔ تیلئ ورکړې شوې وې هغه
سمدستی لاړو اَؤ سوداګری ئې پرې شروع کړه اَؤ پینځهٔ
تیلئ ئې په کښې نورې وګټلې. ۱۷ خو کُوم سړی ته چه
دوه تیلئ ورکړې شوې وې هغهٔ دوه نورې وګټلې. ۱۸ اَؤ
کوم سړی ته چه یوه تیلئ ورکړې شوې وه هغه لاړو، په
مزکه کښې ئې ړوغل وکنستو اَؤ دَ مالک هغه پیسې ئې په
کښې ښخې کړلې. ۱۹ ډیره مُوده پس دَ هغوئ مالک
واپس راغې اَؤ دَ هغوئ نه ئې حساب وغوښتو. ۲۰ کُوم
سړی ته چه ئې دَ سرو زرو پینځهٔ تیلئ ورکړې وې، هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغے اَؤ پېنځهٔ نورے ئے ورسره کیښودے اَؤ ورته ئے
ووئیل چه ګوره مالکه! تا ما ته پېنځهٔ تیلئ راکړے وے، ما
ورسره پېنځهٔ نورے زیاتے کړے. ۲۱ مالک ووئیل، شاباش
زما اعتباری اَؤ ایمانداره نوکره! تا په لږ څهٔ کښے ځان
اِعتباری ثابت کړو، اوس به زَهٔ تا دَ ډیر څهٔ اِختیارمند کړم.
راشه اَؤ دَ خپل مالک په خوشحالئ کښے شریک شه. ۲۲
بیا دَ دوؤ تیلو هغه سړے راغے اَؤ وے وئیل، مالکه! تا ما ته
دوه تیلئ سپارلے وے، ګوره، ما ورسره دوه نورے زیاتے
کړے. ۲۳ مالک ورته ووئیل، شاباش! زما اعتباری اَؤ
ایمانداره نوکره! تا په لږ څهٔ کښے ځان اعتباری ثابت کړو،
اوس به زَهٔ تا دَ ډیر څهٔ مُختار کړم. راشه اَؤ دَ خپل مالک په
خوشحالئ کښے شریک شه. ۲۴ بیا هغه سړے راغے چا
ته چه یوه تیلئ ورکړے شوے وه اَؤ وئے وئیل، مالکه! ما ته
پته وه چه تهٔ یو سخت سړے ئے، تهٔ ئے هلته ریبے چرته
چه دِ کرونده نهٔ وی کړے، تهٔ ئے هلته راټولوے چرته چه دِ
خوارهٔ کړی نهٔ وی. ۲۵ نو زَهٔ ویریدلم، ځکه لاړم اَؤ ستا
سرهٔ زر مے په مزکه کښے ښخ کړل. څهٔ چه ستا وُو هغه دا
دی. ۲۶ مالک ورته ووئیل، اَئے سُسته نوکره! تاته معلُومه
وه چه زَهٔ ئے هلته ریبم چرته چه کرونده نهٔ کوم اَؤ هلته ئے
راټولوم چرته چه خورول نهٔ کوم څهٔ؟ ۲۷ نو بیا تاته پکار وُو
چه زما پیسے دِ صرافانو ته ورکړے وے، نو په واپسئ به ما
هغه مال دَ سُود سره حاصل کړے وو. ۲۸ هغهٔ ووے چه دَ
دَهٔ نه دَ زرو هغه تیلئ واخلئ اَؤ دَ لسو تیلو والا ته ئے
ورکړئ. ۲۹ ځکه چه دَ چا سره چه څهٔ وی هغهٔ ته به نور
هم ورکړے شی تر هغے چه څهٔ ترے سیوا هم شی، اَؤ دَ
کُوم سړی سره چه څهٔ نهٔ وی هغه به هغه لږ څهٔ هم بائیلی چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورسره دی. ۳۰ دا بے فائدے نوکر تیارے ته وغورزوئ،
چرته چه دَ ژړا اَؤ دَ غاښونو چیچل دی.

## دَ قومُونو عدالت

۳۱ هر کله چه اِبن آدم په پُوره شان سره راشی اَؤ ټولے
فرښتے ورسره وی، هغه به دَ خپلے لوئۍ په تخت کښینی.
۳۲ اَؤ ټول قومُونه به وروړاندے راټول کړے شی هغه به بنی
آدم په دوؤ ډلو کښے جُدا کړی لکه څنګه چه شپُونکے
ګډے دَ بزو نه جُدا کوی. ۳۳ اَؤ هغه به ګډے خپل ښی لاس
ته اَؤ بزے خپل ګس لاس ته کړی. ۳۴ بیا به بادشاه دَ ښی
لاس خلقو ته ووائی چه راځئ زما دَ پلار مُبارکو خلقو! دَ باد
شاهئ وارثان شئ چه دَ دُنیا دَ پیدایښت راسے تاسو ته جوړه
شوے وه په هغے کښے داخل شئ. ۳۵ کله چه زَهٔ وږے
وم تاسو زَهٔ موړ کړم، اَؤ چه تږے وم اوبهٔ مو دَ څښلو دَ پاره
راکړے، اَؤ چه زَهٔ مُسافر وم نو تاسو زَهٔ خپل کور ته ننه
ایستم، ۳۶ اَؤ چه بربنډ وم نو تاسو په جامو پټ کړم، کله
چه زَهٔ ناجوړه وم نو تاسو زما خیال وساتلو اَؤ چه په قید
کښے وم نو تاسو زما مُلاقات له راغلئ. ۳۷ نو صادِقان به
جواب ورکړی، مالکه! دا کله وُو چه مُونږ تهٔ وږے ولیدے اَؤ
موړ مو کړے، یا تږے وے نو دَ څښلو دَ پاره مو اوبهٔ
درکړے، ۳۸ اَؤ مُسافر وے نو مُونږ کور ته ننه ایستلے، یا
بربنډ وے نو په جامو مو پټ کړے؟ ۳۹ مُونږ تهٔ کله ناروغه
یا په قید کښے لیدلے وے نو مُلاقات مو درسره کړے وُو؟
۴۰ اَؤ بادشاه به جواب ورکړی، زَهٔ تاسو ته دا وایم چه
تاسو زما په وروڼو کښے دَ عاجز نه عاجز یو تن سره هم چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ کړی دی نو زما دَ پاره مو کړی دی. ۴۱ بیا به هغه هغو
ته ووائی، څوک چه به دَ هغۀ ګس لاس ته وی، اَئے لعنتیانو!
زما دَ سترګو نه پنا شئ اَؤ هغه تل عُمری اور ته لاړ شئ چه دَ
شیطان اَؤ دَ هغۀ دَ فرښتو دَ پاره تیار شوے دے! ۴۲ کله
چه زَۀ وږے وم تاسو زَۀ موړ نۀ کړم، اَؤ چه تږے وم دَ
څښلو دَ پاره مو هیڅ رانۀ کړل، ۴۳ اَؤ چه مُسافر وم نو کور
ته مو ننه نۀ ایستلم، چه بربنډ وم تاسو په جامو پټ نۀ کړلم،
اَؤ کله چه زَۀ ناروغه اَؤ قیدی وم نو تاسو زما ملاقات له رانۀ
غلئ. ۴۴ اَؤ هغوئ به هم په جواب کښے ووائی، مالکه! دا
کله مُونږ وږے تږے، مُسافر، بربنډ، ناروغه یا په قید کښے
لیدلے وے اَؤ ستا مو هیڅ خدمت نۀ دے کړے؟ ۴۵ اَؤ
هغه به جواب ورکړی، زَۀ تاسو ته دا وایم چه هر کله چه
تاسو دَ عاجز نه عاجز یو تن سره، که هغه هر څومره چه هم
عاجز وو، نۀ دی کړی نو تاسو ماسره نۀ دی کړی. ۴۶ اَؤ
هغوئ به تل عُمری عذاب ته لاړ شی، خو صادِقان به دَ تل
ژوندُون بیا مُومی.“

## دَ عیسیٰ دَ قتل سازش

مرقوس ۱۴ : ۱ ـ ۲، لُوقا ۲۲ : ۱ ـ ۲، یوحنا ۱۱ : ۴۵ ـ ۵۳

۲۶ ۱ کله چه عیسیٰ خپلے خبرے خلاصے کړے نو
خپلو مُریدانو ته ئے ووئیل، ۲ ”تاسو خبر یئ چه دوه
ورځے پس به دَ فسح اختر وی، اَؤ اِبن آدم به په سولئ کولو
ته وسپارلے شی.“

۳ بیا مشران کاهنان اَؤ دَ قوم مشران دَ مشر کاهن کائفا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په مانۍ کښې جرګه شول. ۴ اَوْ هلته هغوئ دا سازش
کولو چه عیسیٰ په څۀ ټګئ ونیسُو اَوْ مړ ئے کړو. ۵ خو
هغوئ ووئیل چه "دا دِ دَ اختر په ورځ نۀ وی، ګنی په خلقو
کښې به فساد خور شی."

## دَ عیسیٰ په سر عطر اچول

مرقوس ۱۴ : ۳ ـ ۹، یوحنا ۱۲ : ۱ ـ ۸

۶ عیسیٰ دَ شمعُون جُذامی په کور کښې په بیتِ عیناه
کښې وو، ۷ چه یوه ښځه راغله چه دَ مرمرو په عطردان
کښې ورسره قیمتی خوشبُویه عطر وُو، اَوْ څنګه چه هغه
خوراک ته کښیناستو هغې ورله په سر عطر واچول. ۸
مُریدانو چه دا ولیدل نو زهیر شول. هغوئ ووئیل، "دا دِ ولې
ضائع کړل؟ ۹ دا خو به په ډیره بیعه خرڅ شوے وے اَوْ
پیسے به ئے دَ چا خوارانو په کار شوے وے."

۱۰ عیسیٰ په دے خبر وو اَوْ هغوئ ته ئے ووئیل چه "تاسو
دا ښځه ولې تنګوئ؟ هغې راسره ډیر ښۀ کړی دی. ۱۱
خواران خو به تل تاسو سره وی خو زۀ به درسره همیشه نۀ
یم. ۱۲ هغې چه دا عطر زما په بدن واچول نو زۀ ئے دَ
ښخولو دَ پاره تیار کړم. ۱۳ زۀ تاسو ته دا وایم چه هر چرته
چه په دُنیا کښې دا زیرے خوریږی نو څۀ چه هغې وکړل
نو دا به هم په دے یادیږی."

## دَ یهوداه اسکریوتی مُخبری

مرقوس ۱۴ : ۱۰ ـ ۱۱، لُوقا ۲۲ : ۳ ـ ۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ په دولسو مُريدانو کښې يو چه نُوم ئې يهوداه
اسکريوتی وو، مشرانو کاهنانو ته لاړو. ۱۵ اَؤ ورته ئې
ووئيل، ”که زَهٔ په عيسیٰ مُخبری وکړم نو تاسو به ما ته څهٔ
راکړئ؟“ نو هغوئ ورته ديرش دَ سپينو زرو سکې ورکړلې.
۱۶ دَ هغه وخت نه پس هغه دَ مُخبرئ دَ موقعې په تلاش
کښې وو.

## دَ مُريدانو سره فسح خوړل

مرقوس ۱۴ : ۱۲ - ۲۱، لُوقا ۲۲ : ۷ - ۱۴، ۲۱ - ۲۳، يوحنا ۱۳ : ۲۱
- ۳۰

۱۷ دَ پتيرې ډوډئ اختر په وړُومبئ ورځ عيسیٰ ته مُريدان
راغلل اَؤ وئې وئيل چه ”ستا کُوم ځائې خوښ دې چه
مُونږ په کښې تا ته دَ فسح خوراک تيار کړُو؟“ ۱۸ هغهٔ ورته
جواب ورکړو چه ”په ښار کښې فلانی سړی ته ورشئ اَؤ
ورته ووايئ چه اُستاذ وائی چه زما مقرر وخت رانزدې دې،
زَهٔ به دَ مُريدانو سره ستا په کور کښې دَ فسح اختر کوم.“
۱۹ مُريدانو دَ عيسیٰ دَ وينا په مُطابق کار وکړو اَؤ فسح ئې
تيار کړو.

۲۰ ماښام هغه دَ دولسو مُريدانو سره کښيناستو. ۲۱ اَؤ دَ
ډوډئ په وخت هغهٔ ورته ووئيل، ”زَهٔ درته رښتيا وايم چه په
تاسو کښې به يو زما مُخبری کوی.“

۲۲ هغوئ په ډيره فکرمندئ سره يو يو ورته ووئيل، ”مالکه!
تهٔ ما يادوې څهٔ؟“

۲۳ هغهٔ جواب ورکړو، ”چا چه زما سره په دې تالئ کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاس ښکته کړو هغه به په ما مُخبری کوی. ۲۴ دَ اِبن آدم په
حق کښې چه په صحيفو کښې څۀ راغلی دی هغه به په هغه
لاره ځی، خو اَفسوس په هغه سړی دے چه په اِبن آدم
مُخبری کوی! که هغه سړے پيدا شوے نۀ وئے نو دَ هغۀ په
حق کښې به ډيره ښۀ وه.“

۲۵ بيا يهوداه، څوک چه مُخبر وو ورته ووئيل، ”ربی! تۀ ما
يادوے څۀ؟“

عيسیٰ جواب ورکړو چه ”دا ستا وينا ده.“

## دَ عشا ربانی

مرقوس ۱۴ : ۲۲ ـ ۲۶، لُوقا ۲۲ : ۱۴ ـ ۲۰، ۱ کورنتيانو۱۱ : ۲۳ ـ
۲۵

۲۶ دَ خوراک په دوران کښې عيسیٰ ډوډئ واخسته اَؤ په
شکر ئے ما ته کړه اَؤ مُريدانو ته ئے ورکړه اَؤ وئے وئيل
چه ”دا واخلئ اَؤ وئے خورئ، دا زما وجُود دے.“

۲۷ بيا ئے کنډول راواخستو، دَ خُدائے شکر ئے پرے
وويستو اَؤ په دے وينا سره ئے هغوئ ته ورکړو چه ”دَ دے
نه ټول وڅښئ. ۲۸ ځکه چه دا زما وينه ده چه دَ خُدائے
وعده قائموی اَؤ دَ ډيرو خلقو دَ گُناهونو دَ معافئ دَ پاره
توئيږی. ۲۹ زۀ تاسو ته دا وايم چه زۀ به بيا تر هغے دَ
انگورو اوبۀ ونۀ څښم تر څو چه دَ خپل پلار په بادشاهئ
کښې تاسو سره تازه ونۀ څښم.“

۳۰ دَ خُدائے دَ حمد وئيلو نه پس دوئ دَ ښونانو غرۀ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړل.

## دَ پطروس دَ اِنکار په حقله پيشن گوئی

مرقوس ۱۴ : ۲۷ ـ ۳۱، لُوقا ۲۲ : ۳۱ ـ ۳۴، يوحنا ۱۳ : ۳۶ ـ ۳۸

۳۱ بيا عيسیٰ دوئ ته ووئيل چه "نن شپه به تاسو ټول زما په
وجه تيندک خورئ ځکه چه دا ليکلی شوی دی چه : "زَهٔ به
شپُونکے پرے باسم اَؤ دَ هغهٔ دَ کنډک گډے به خورے ورے
شی." ۳۲ خو هر کله چه زَهٔ بيا پاخولے شم نو زَهٔ به
ستاسو نه وړاندے گليل ته لاړ شم."

۳۳ پطروس په جواب کښے ووئيل، "ستا په وجه که بل هر
يو هم تيندک وخوری، خو زَهٔ به ئے هيچرے ونهٔ خورم."

۳۴ عيسیٰ هغهٔ ته ووئيل چه "زَهٔ تا ته وايم چه نن شپه دَ
چرگ دَ بانگ نه آگاهو به تهٔ درے ځله زما نه اِنکاری شے."

۳۵ پطروس ورته ووئيل، "که زَهٔ تا سره مړ هم شم خو ستا
نه به هيچرے اِنکاری نهٔ شم." اَؤ ټولو مُريدانو هم داسے
اِقرار وکړو.

## دَ گيتسمنئے په باغ کښے دُعا کول

مرقوس ۱۴ : ۳۲ ـ ۴۲، لُوقا ۲۲ : ۳۹ ـ ۴۶

۳۶ نو بيا عيسیٰ سره دَ مُريدانو گيتسمنئے نُومے ځائے ته
راغے اَؤ هلته ئے هغوئ ته ووئيل چه "تاسو دلته کښينئ، زَهٔ
په دغه ځائے کښے دُعا کوم." ۳۷ هغهٔ پطروس اَؤ دَ زبدی
زامن دَ ځان سره کړل، نو ډير غمژن شو اَؤ په زړهٔ ئے تيارهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوله. ۳۸ اَؤ هغوئ ته ئے ووئيل چه ”زما زړۀ دَ غمه چوی،
دلته ودرېږئ اَؤ ما سره بيدار اوسئ.“

۳۹ هغه يو څو قدمه لاړو، پړ مخے پرېوتو اَؤ دا دُعا ئے
وکړه چه ”زما پلاره! که کيدے شی نو دا پياله رانه تيره کړه،
خو داسے نه لکه چه ئے زۀ غواړم بلکه داسے لکه چه ستا
رضا ده.“

۴۰ دَئے مُريدانو له راغے اَؤ هغه ئے اُودۀ وليدل اَؤ هغۀ
پطروس ته ووئيل، ”ښه! تاسو ما سره يوه گينټه قدرے هم
بيدار نۀ شوئ پاتے کيدے؟ ۴۱ بيدار شئ! اَؤ دُعا وکړئ چه
تاسو په لمسُون کښے پرے نۀ وزئ. رُوح خو تيار دے خو
وجُود کمزورے دے.“ ۴۲ هغه په دويم ځل لاړو اَؤ دُعا ئے
وغوښته چه ”زما پلاره! که چرے دا پياله زما دَ څښلو نه
بغير نۀ شی تيريدے نو ستا رضا دِ وشی.“ ۴۳ هغه بيا
راغے اَؤ هغوئ ئے بيا اُودۀ وموندل ځکه چه دَ هغوئ
سترگے درنے شوے وے ۴۴ بيا هغۀ هغوئ پريښودل اَؤ
لاړو اَؤ په دريم ځل ئے دُعا وغوښتله اَؤ هغه مخکښنئ
خبرے ئے بيا وکړے. ۴۵ بيا هغه مُريدانو له راغے اَؤ ورته
ئے ووئيل چه ”لا هغسے اُودۀ يئ، هغسے لا آرام کوئ؟
وخت راغلے دے، اِبن آدم دَ گُناه گارانو لاس ته په حواله
کيږی. ۴۶ پاڅئ چه لاړ شُو، گورئ زما مُخبر رارسيدلے
دے.“

## دَ عيسیٰ مُخبری اَؤ نيول

مرقوس ۱۴ : ۴۳ ـ ۵۰، لُوقا ۲۲ : ۴۷ ـ ۵۳، يوحنا ۱۸ : ۳ ـ ۱۲

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۷ عیسیٰ لا دا خبرے کولے چه له دولسو مُریدانو نه
یهوداه راغے چه ورسره ډیر خلق وُو سره دَ تُورو اَوُ دَ
کوتکُونو چه مشرانو کاهنانو اَوُ دَ قوم مشرانو رالیږلی وُو.
۴۸ مُخبر هغوئ ته دا نخښه ښوولے وه، "څوک چه زَۀ
ښکل کړم هم هغه دے، وئے نیسئ."

۴۹ سمدستی یهوداه راوړاندے شو، وئے وے چه "رَبی
سلام!" اَوُ ښکل ئے کړو.

۵۰ عیسیٰ جواب ورکړو، "ملګریه! څۀ چه کول غواړے
کوه." هغوئ بیا رامخکښے شول، عیسیٰ ته ئے لاس
ورواچوو اَوُ وئے نیولو. ۵۱ په هغه وخت کښے دَ عیسیٰ په
ملګرو کښے یو تُورے ته لاس کړو راوئے کښله اَوُ دَ مشر
کاهن په غُلام ئے ګُزار وکړو اَوُ دَ هغۀ غوږ ئے پریکړو. ۵۲
خو عیسیٰ هغۀ ته ووئیل چه "خپله تُوره په تیکی کښے
کیږده. څوک چه تُوره چلوی په تُورو مری. ۵۳ آیا تا دا
ګُمان کړے دے چه زَۀ ګنی خپل پلار ته سوال نۀ شم کولے
چه سمدستی دَ فرښتو دولس لښکرے زما مدد ته راواستوی؟
۵۴ نو بیا دَ صحیفو دا وینا به څنګه تر سره کیږی چه په
کښے وئیلی شوی دی چه دا به خامخا کیږی؟"

۵۵ هم په دغه وخت عیسیٰ هغه خلقو ته ووئیل چه "تاسو ما
ډاکو ګڼئ چه دَ تُورو اَوُ کوتکُونو سره زما په نیولو پسے
راغلی یئ؟ ما به هره ورځ دَ خُدائے په کور کښے تعلیم
ورکاوو خو تاسو په ما لاس نه دے پورته کړے. ۵۶ خو دا
هر څۀ هم ځکه وشول چه هغه څۀ رښتیا ثابت شی کُوم چه
نبیانو لیکلی دی." بیا ټولو مُریدانو هغه پریښودو اَوُ وتښتیدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ جرګې په وړاندې پيشى

مرقوس ۱۴ : ۵۳ ـ ۶۵، لُوقا ۲۲ : ۵۴ ـ ۵۵، ۶۳ ـ ۷۱، يوحنا ۱۸ :
۱۲ ـ ۱۴، ۱۹ ـ ۲۴

۵۷ عيسىٰ نيولے تړلے دَ مشر کاهن کائفا کور ته بوتلے
شو چرته چه دَ شرعے عالمان اَؤ مشران راټول وُو. ۵۸
پطروس ورپسے وروستو وروستو په څۀ فاصله روان وو تر
دے چه دَ مشر کاهن دَ کور غولى ته راورسيدو، اَؤ چه دَ ننه
لاړو نو دَ خادمانو سره کښيناستو. مطلب ئے دا وو چه دَ
دے هر څۀ انجام ووينى. ۵۹ مشرانو کاهنانو اَؤ ټولے
جرګے دا کوشش وکړو چه دَ عيسىٰ خلاف څۀ غلط جُرم
ثابت کړى چه قتل ئے کړى. ۶۰ خو هغوئ په داسے جُرم
پيدا کولو کښے پاتے راغلل سره دَ دے چه ډير کسان دَ
دروغو ګواهئ ته راوړاندے شول. آخر دوؤ سړو دا ګواهى
وکړه چه ۶۱ "دَۀ وئيلى وُو چه زَۀ دَ خُدائے کور نړولے شم
اَؤ په دريو ورځو کښے ئے بيا ودانولے شم." ۶۲ په دے
مشر کاهن پاڅيدو اَؤ ورته ئے ووئيل چه "دَ دے ګواهانو دَ
اِلزام خلاف تا سره څۀ جواب نِشته څۀ؟" ۶۳ خو عيسىٰ
چپ پاتے شو. نو بيا مشر کاهن ووئيل چه "زَۀ دَ ژوندى
خُدائے سوګند درکوم چه ووايه، تۀ په رښتيا مسيح، دَ
خُدائے زوئے ئے که نه؟" ۶۴ عيسىٰ جواب ورکړو چه "دا
ستا وينا ده، خو زَۀ تاسو ته دا وايم چه دَ نن نه پس به تاسو
اِبن آدم دَ خُدائے ښى لاس ته ناست اَؤ دَ آسمان په وريځو
کښے په راتلو ووينئ." ۶۵ په دے وينا مشر کاهن خپلے
جامے وشلولے اَؤ وئے وئيل چه "دَئے کُفر وائى! دَ دے نه
پس هم دَ نورو ګواهانو حاجت شته څۀ؟ تاسو دا کُفر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واوریدو. ۶۶ ستاسو څۀ رائے ده؟“

هغوئ جواب ورکړو چه ”دَئے مُجرم دے، قتل دِ کړے
شی.“ ۶۷ بیا هغوئ دَ هغۀ په مخ وتُوکل اَؤ په سوکُونو ئے
ووهلو اَؤ ځنو په څپیړو ووهلو، ۶۸ اَؤ وئیل ئے، ”اَئے
مسیح! که تۀ په رښتیا نبی ئے نو دا راته ووایه چه چا
ووهلے.“

## دَ پطروس دَ عیسیٰ نه مُنکریدل

مرقوس ۱۴ : ۶۶ ـ ۷۲، لُوقا ۲۲ : ۵۶ ـ ۶۲، یوحنا ۱۸ : ۱۵ ـ ۱۸،
۲۵ ـ ۲۷

۶۹ په دے دوران کښے پطروس بهر په غولی کښے ناست
وو چه یوه وینځه ورغله اَؤ ورته ئے ووئیل، ”تۀ خو هم دَ
ګلیل دَ عیسیٰ سره وے.“

۷۰ خو پطروس دَ ټولو په مخکښے مُنکر شو اَؤ دا ئے وئیل
چه ”نۀ پوهیږم، دا تاسو څۀ وایئ؟“ ۷۱ بیا هغه دَ ډیوډئ په
لور روان شو اَؤ هلته یوے بلے وینځے چه هغه ولیدو نو
موجُودو خلقو ته ئے وئیل چه ”دا سړے هم دَ عیسیٰ ناصری
سره وو.“ ۷۲ یو ځل بیا هغه مُنکر شو اَؤ په سوګندونو شو
چه ”زَۀ دا سړے نۀ پیژنم.“ ۷۳ څۀ شیبه پس یو څو
تماشګیر راغلل اَؤ پطروس ته ئے ووئیل چه ”یقیناً تۀ دَ هغوئ
نه یو یئے ځکه چه ستا دَ لهجے نه دا معلُومیږی.“

۷۴ په دے هغه په ښیرو سر شو اَؤ قَسمونه ئے وخوړل چه
”زَۀ دا سړے نۀ پیژنم.“ په دغه وخت یو چرګ بانګ ووئیلو.
۷۵ اَؤ پطروس ته دَ عیسیٰ هغه خبره رایاده شوه چه وئیلی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ئے وُو چه ”دَ چرګ دَ بانګ نه مخکښے به تهٔ زما نه درے ځله اِنکاری شے.“ هغه بهر ووتو اَؤ په چغو ئے وژړل.

## دَ عیسیٰ دَ پیلاطوس والی ته بوتلل

مرقوس ۱۵ : ۱، لُوقا ۲۳ : ۱ ـ ۲، یوحنا ۱۸ : ۲۸ ـ ۳۲

۲۷ ۱ چه صبا شو نو مشران کاهنان اَؤ دَ قوم مشران
را یو ځائے شول اَؤ دَ عیسیٰ دَ مرګ صلاح ئے وکړه. ۲
بیا ئے هغهٔ ته زولنئ واچولے اَؤ روان ئے کړو چه رُومی والی پیلاطوس ته ئے حواله کړی.

## دَ یهوداه اسکریوتی مرګ

اَعمال دَ رسولانو ۱ : ۱۸ ـ ۱۹

۳ کله چه یهوداه مُخبر ته پته ولګیده چه په عیسیٰ باندے
جُرم ثابت شوے دے نو هغه پیښمانه شو اَؤ هغهٔ دَ سپینو زرو دیرش سکے ئے مشرانو کاهنانو اَؤ قومی مشرانو ته
واپس کړے. ۴ هغهٔ ووئیل، ”ما ګُناه کړے ده چه یو بے
ګُناه سړے مے تر مرګه رارسولے دے.“ خو هغوئ ووئیل چه ”زمُونږ پرے څهٔ؟ ته پوهه شه اَؤ کار دِ پوه شه.“

۵ نو هغهٔ سکے دَ خُدائے په کور کښے په مزکه
وغورزولے اَؤ دَ هغوئ نه روان شو، اَؤ لاړو اَؤ ځان ئے پانسی کړو.

۶ مشرانو کاهنانو پیسے راپورته کړے اَؤ وئے وئیل چه
”دا پیسے دَ خُدائے دَ کور په خزانه کښے اچول روا نهٔ دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چه دا دَ خُون بيعه ده.“ ۷ نو صلاح ئے وکړه اَؤ دَ
کُلال مزکه ئے پرے واخسته چه دَ مُسافرو قبرستان پرے
جوړ کړی. ۸ تر نن ورځے پورے هغه مزکه دَ خُون پټے
يادېږی.

۹ دغه شان دَ يرمياه نبی پيشن گوئی تر سره شوه چه
”هغوئ ديرش دَ سپينو زرو سکے واخستلے چه دَ هغهٔ په
بنی اِسرائيلو کښے دَ قيمتی تن دَ سر بيعه وه، ۱۰ اَؤ هغه
پيسے ئے دَ کُلال په مزکه ورکړے، لکه چه رب ما ته حُکم
راکړے دے.“

## دَ پيلاطوس والی په عيسیٰ باندے جرح

مرقوس ۱۵ : ۲ ـ ۵، لُوقا ۲۳ : ۳ ـ ۵، يوحنا ۱۸ : ۳۳ ـ ۳۸

۱۱ بيا ئے عيسیٰ والی ته راوستو اَؤ چه هغه هلته ودريدو نو
والی ترے تپوس وکړو چه ”آيا تهٔ دَ يهوديانو بادشاه ئے
څهٔ؟“

عيسیٰ ووئيل چه ”دا ستا وينا ده.“ ۱۲ اَؤ کُوم اِلزام چه په
هغهٔ باندے مشرانو کاهنانو اَؤ اولسی مشرانو لګولے وو دَ
هغے ئے هيڅ جواب ورنهٔ کړو.

۱۳ بيا پيلاطوس ورته ووئيل چه ”آيا دا ټولے ګواهئ چه
ستا په خلاف کيږی نهٔ آورے څهٔ؟“

۱۴ خو هغهٔ په جواب کښے دَ يو ټکی نه هم اِنکار ونهٔ کړو
اَؤ والی په دے ډير حيران شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسیٰ ته دَ مرګ سزا

مرقوس ۱۵ : ۶ ـ ۱۵، لُوقا ۲۳ : ۱۳ ـ ۲۵، یوحنا ۱۸ : ۳۹ ـ ۱۹ : ۱۶

۱۵ دَ اختر په ورځ دَ والی دا دستور وو چه دَ خلقو دَ
خوښے یو قیدی به ئے آزادَوو. ۱۶ په دغه وخت کښے
برابا نُومے یو بدنام سړے په قید کښے وو. ۱۷ کله چه
خلق راغونډ شول نو پیلاطوس ورته ووئیل چه "ستاسو په
خوښه زَهٔ څوک آزاد کړم، برابا یا عیسیٰ چه ورته مسیح
وئیلے شی؟" ۱۸ ځکه چه هغهٔ ته پته وه چه هغوئ عیسیٰ دَ
حسد په وجه راګیر کړے وو.

۱۹ پیلاطوس لا په تخت ناست وو چه دَ خپلے ښځے له
طرفه ورته پیغام راغے چه "دے بے ګُناه سړی ته ګورے
هیڅ ونهٔ وائے ځکه چه بیګاه په ما په دے وجه په خُوب
کښے ډیر مصیبت تیر شو." ۲۰ تر دے وخته مشرانو
کاهنانو اَؤ نورو مشرانو خلقو دے ته لمسولے وو چه دَ برابا
آزادی وغواړی اَؤ دَ عیسیٰ قتل؟ ۲۱ کله چه والی تپوس
وکړو چه "په دواړو کښے څوک آزادول غواړئ؟" هغوئ
ووئیل، "برابا."

۲۲ پیلاطوس ورته ووئیل چه "بیا دَ عیسیٰ چه مسیح یادیږی
سره څهٔ سلُوک وکړم؟" ټولو په یو آواز ووئیل چه "په سولئ
ئے کړه!"

۲۳ پیلاطوس ووئیل چه "ولے؟ په څهٔ ګناه؟" خو هغوئ
نورے چغے کړے چه "په سولئ ئے کړه!"

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ پیلاطوس پوه شو چه زَهٔ هیڅ نهٔ شم کولے اَؤ فساد
جوړیږی، نو هغهٔ اوبهٔ راوغوښتے، دَ ټولو خلقو په وړاندے
ئے خپل لاسُونه ووینځل اَؤ وئے وئیل چه "زما لاسُونه دَ دے
سړی دَ خُون نه پاک دی، ستاسو کار دے هر څهٔ چه کوئ."
۲۵ ټولو خلقو په یو آواز چغے کړے چه "دَ دهٔ خُون دِ
زمُونږ اَؤ زمُونږ دَ اَؤلاد په غاړه وی."

۲۶ نو هغهٔ بیا برابا آزاد کړو اَؤ عیسیٰ ئے په کروړو ووهلو
اَؤ په سولئ کولو ته ئے ورکړو.

## دَ سپاهیانو په عیسیٰ پورے ټوقے کول

مرقوس ۱۵ : ۱۶ ـ ۲۰، یوحنا ۱۹ : ۲ ـ ۳

۲۷ دَ والی سپاهیانو بیا عیسیٰ قلا ته بوتلو اَؤ ټوله پلټن ئے
ترے راچاپیره کړه. ۲۸ جامے ئے ترے وویستے اَؤ تکه
سره چُوغه ئے پرے واچوله. ۲۹ اَؤ دَ ازغو تاج ئے جوړ
کړو اَؤ ورته ئے په سر کړو اَؤ یو بینت ئے په ښی لاس
کښے ورکړو، بیا دَ هغهٔ په مخکښے په زنګُونو شول اَؤ
ټوقے ئے ورپورے کولے چه "اَئے دَ یهودیانو بادشاه!
سلام." ۳۰ هغوئ په هغهٔ وتُوکل اَؤ بینت ئے ترے واخستو
اَؤ په سر سر ئے پرے ووهلو. ۳۱ اَؤ چه ټوقے ئے بس
کړے نو چُوغه ئے ترے وویستله اَؤ خپلے جامے ئے
ورواغوستے. بیا ئے هغه بهر په سولئ کولو له بوتلو.

## دَ عیسیٰ مسیح په سولئ کول

مرقوس ۱۵ : ۲۱ ـ ۳۲، لُوقا ۲۳ : ۲۶ ـ ۴۳، یوحنا ۱۹ : ۱۷ ـ ۲۷

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ په لاره ئې شمعُون نُومې کرینی سړے ولیدو اَؤ په
بیګار ئې ونیولو چه دَ عیسیٰ سولئ یوسی. ۳۳ اَؤ بیا ګولګتا
نُومې ځائې ته ورغلل چه معنیٰ ئې دَ کوپړئ ځائې دے.
۳۴ هلته ئې عیسیٰ ته دَ تریخی سره ګډ کړی شراب دَ
څښلو دَ پاره ورکړل، خو چه وئې څکل نو وئې نهٔ څښل.
۳۵ اَؤ چه کله ئې دَئې په سولئ وخیژولو نو دَ هغهٔ جامې
ئې په خپلو کښې په هسک وویشلې. ۳۶ نو بیا ئې هلته
څوکئ ته کښیناستل. ۳۷ دَ هغهٔ دَ سر دَ پاسه ئې دا لیکلې
تقصیر نامه آویزانده کړه چه، دا دَ یهودیانو بادشاه عیسیٰ
دے. ۳۸ دوه ډاکوان هم ورسره په سولئ شوی وُو، یو ئې
په ښی لاس وو اَؤ بل ګس.

۳۹ په لارې تیریدُونکو به عیسیٰ ته کنځل کول اَؤ سرُونه به
ئې خوزول اَؤ چغې به ئې وهلې، ۴۰ ”تهٔ به دَ خُدائې
کور ورانوې اَؤ بیا به ئې په دریو ورځو کښې جوړَوې،
اوس دَ دے سولئ نه راکُوز شه اَؤ ځان بچ کړه که تهٔ په
رښتیا دَ خُدائې زوئې یئې!“

۴۱ دغه شان مشرانو کاهنانو، دَ شرعې عالمانو اَؤ مشرانو
هم ورپورې ملنډې کولې، ۴۲ اَؤ وئیل ئې چه ”هغهٔ نور
خلق بچ کړل خو خپل ځان نهٔ شی بچ کولې. بې شکه که
دَئې دَ اِسرائیلو بادشاه دے نو اوس دِ دَ دے سولئ نه راکُوز
شی، نو بیا به پرې مُونږ ایمان راؤړُو. ۴۳ دَ دهٔ په خُدائې
باور وو، اوس دِ خُدائې بچ کړی که چرې هغه ئې غواړی،
ځکه چه دهٔ دا دعویٰ کړې وه چه زهٔ دَ خُدائې زوئې یم.“

۴۴ تر دے چه دَ دهٔ سره په سولئ شوو ډاکوانو هم په دهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورے ملنډے کولے.

## دَ عیسیٰ مسیح مرګ

مرقوس ۱۵ : ۳۳ ـ ۴۱، لُوقا ۲۳ : ۴۴ ـ ۴۹، یوحنا ۱۹ : ۲۸ ـ ۳۰

۴۵ دَ غرمے نه پس تر کُوز ماسپښین پورے په ټول ملک
کښے توره تیارۀ شوه. ۴۶ اَؤ په کُوز ماسپښین عیسیٰ په
اُوچت آواز نعرے کړے، "ایلی! ایلی! لما شبقتنی!" یعنے
"اَئے زما خدایه! اَئے زما خدایه! زَۀ دِ ولے پریښودلم؟"

۴۷ په ولاړو خلقو کښے چه څنو دا واؤریدل نو وئے وئیل
چه "دَئے اوس اِلیاس ته نعرے وهی." ۴۸ په هغوئ کښے
یو سمدستی منډه کړه اَؤ یو اِسفنج ئے واخستو په سرکه
کښے ئے ډُوب کړو اَؤ دَ نل په سر کښے ئے دَ هغۀ په
شُونډو کیښودو. ۴۹ خو نورو ووئیل چه "تماشه کوئ چه
اِلیاس دَ دۀ خلاصولو له راځی اَؤ که نه."

۵۰ عیسیٰ بیا یوه اُوچته چغه کړه اَؤ ساه ئے ورکړه.

۵۱ هغه وخت دَ خُدائے دَ کور پرده دَ یو سر نه تر بل سره
په مینځ وشلیده. اَؤ زلزله راغله، ګټان وچاؤدل، ۵۲ اَؤ
قبرُونه وسپړدے شول اَؤ دَ خُدائے ډیر پاکان دَ خوبه رابیدار
شول. ۵۳ اَؤ دَ عیسیٰ دَ پاڅیدلو نه پس هغوئ ټول دَ قبرُونو
نه راووتل، بیتُ المُقدس ته ننوتل اَؤ ډیرو خلقو ئے ننداره
وکړه. ۵۴ کله چه صوبه دار اَؤ دَ هغۀ سړو چه دَ عیسیٰ
څوکئ ئے کوله زلزله اَؤ دا ټول واقعات ولیدل نو په هغوئ
هیبت راغے اَؤ وئے وئیل، "بے شکه چه دا سړے دَ خُدائے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوئے وو.“ ۵۵ ډیرے ښځے هم هلته موجُودے وے اَؤ دَ
لرے نه ئے تماشه کوله. هغوئ دَ ګلیل نه په عیسیٰ پسے
خدمت ته راغلے وے. ۵۶ په هغوئ کښے یوه مریم
مګدلینی وه اَؤ بله دَ یعقُوب اَؤ دَ یُوسف مور مریم، اَؤ دَ
زبدی دَ زامنو مور وه.

## دَ عیسیٰ مسیح ښخول

مرقوس ۱۵ : ۴۲ ـ ۴۷، لُوقا ۲۳ : ۵۰ ـ ۵۶، یوحنا ۱۹ : ۳۸ ـ ۴۲

۵۷ کله چه ماښام شو نو دَ اریمیتیه یو موړ سړے چه
یُوسف نُوم ئے وو اَؤ دَ عیسیٰ مُرید وو، راغے. ۵۸ هغه
پیلاطوس ته ورغے اَؤ دَ عیسیٰ لاش ئے ترے وغوښتو اَؤ
پیلاطوس حُکم وکړو چه ور دِ کړے شی. ۵۹ یُوسف هغه
لاش یوړو اَؤ په صفا مهینه لټه کښے ئے ونغښتو، ۶۰ اَؤ دَ
خپل ځان دَ پاره په یو ګټ کښے کنستے شوی نوی قبر
کښے ئے کیښودو اَؤ یو لوئے کاڼے ئے دروازے ته
راورغړولو اَؤ لاړو. ۶۱ خو مریم مګدلینی اَؤ هغه بله مریم
دواړه ئے قبر ته مخامخ ناستے وے.

## دَ قبر څوکیداران

۶۲ په بله ورځ چه دَ سبت ورځ وه مشران کاهنان اَؤ نور
فریسیان په جمع پیلاطوس ته راغلل، ۶۳ اَؤ وئے وئیل چه
”صاحبه! مُونږ ته یاد دی چه هغه فریبی چه لا ژوندے وو نو
ئے وئیلی وُو چه زَهٔ به په دریمه ورځ پورته کړے شم. ۶۴
آیا تهٔ به دا حُکم وکړے چه تر دریو ورځو دِ دغه قبر څوکئ
کیږی؟ هسے نهٔ چه دَ هغهٔ مُریدان راشی، لاش ئے په غلا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وياسی اَؤ بيا خلقو ته وائی چه هغه پورته کړے شوے دے،
اَؤ آخری فريب به ئے دَ وړُومبی فريب نه ډير بد وی.“ ۶۵
پيلاطوس ورته ووئيل چه ”ستاسو خپل څوکيداران شته.
ځئ، څنګه مو چه خوښه وی نو هغه شان څوکئ ئے کوئ.“
۶۶ نو هغوئ لاړل، قبر ئے په قبضه کښے کړو اَؤ په کاڼو
ئے مهرُونه ولګول اَؤ څوکيداران ئے پرے مقرر کړل.

## دَ عيسىٰ مسيح بيا ژوندے کيدل

مرقوس ۱۶ : ۱ ـ ۱۰، لُوقا ۲۴ : ۱ ـ ۱۲، يوحنا ۲۰ : ۱ ـ ۱۰

۲۸ ۱ دَ سبت ورځ تيره شوه اَؤ دَ اِتوار دَ ورځے سحر
کيدُونکے وو چه مريم مګدلينی اَؤ هغه بله مريم دَ قبر ليدو ته
راغلے. ۲ ناڅاپه يوه سخته زلزله راغله، دَ آسمان نه دَ رب
يوه فرښته راکُوزه شوه، کاڼی له راغله اَؤ هغه ئے ورغړولو
اَؤ په خپله پرے کښيناسته. ۳ دَ هغهٔ مخ دَ آسمان دَ بريښنا
په شان ځليدو اَؤ جامے ئے لکه دَ واؤرو سپينے وے. ۴
څوکيداران ئے په ليدو دَ ويرے نه ورَپيدل اَؤ لکه دَ مړو
پريوتل.

۵ فرښتے بيا ښځو ته ووئيل چه ”تاسو دَ هيڅ نه مه
ويريږئ، ما ته پته ده چه تاسو عيسىٰ ګورئ څوک چه په
سولئ شوے وو. ۶ هغه دلته نشته، هغه بيا پورته کړے
شوے دے لکه چه هغهٔ وئيلی وُو. راشئ، هغه ځائے وګورئ
چرته چه هغه پروت وو. ۷ نو بيا زر لاړے شئ اَؤ دَ هغهٔ
مُريدان خبر کړئ چه له مړو نه پاڅولے شوے دے اَؤ
ستاسو نه وړُومبے ګليل ته روان دے، تاسو به ئے هلته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وویني. ما تاسو ته دغسې وئیلي دي."

۸ هغوئ دَ مقبرې نه په هیبت اَؤ خوشحالئ لاړې اَؤ دؤ
ئې کړل چه مُریدان خبر کړی.

۹ ناڅاپي عیسیٰ په لاره پرې پيښ شو اَؤ په هغوئ ئې
سلام واچولو. هغوئ ورغلې اَؤ دَ هغهٔ پښې ئې ونیولې اَؤ
سجده ئې ورته وکړه. ۱۰ بیا عیسیٰ هغوئ ته ووئیل چه
"ویرېږئ مه، لاړې شئ اَؤ زما ورونړو ته دا پیغام ورکړئ چه
هغوئ دِ ګلیل ته لاړ شی، ما به هلته ویني."

## دَ څوکیدارانو خبر راوړل

۱۱ ښځې په خپله لار تللې چه څنې څوکیداران ښار ته
ننوتل اَؤ مشرانو کاهنانو ته ئې ټوله قیصه تیره کړه. ۱۲ بیا
هغوئ مشران راغونډ کړل اَؤ صلاح ئې وکړه. اَؤ مشرانو
کاهنانو سپاهیانو ته ډیرې بډې ورکړې. ۱۳ اَؤ ورته ئې
ووئیل چه "تاسو دا ووایئ چه دَ شپې چه مُونږ اُودهٔ شُو نو دَ
هغهٔ مُریدان راغلل اَؤ دَ هغهٔ لاش ئې پټ کړو." ۱۴ اَؤ
ورسره ئې دا هم ووئیل چه که "دا خبر دَ والي غوږ ته
ورسیدو نو مُونږ به دَ هغهٔ سره جوړ وکړُو اَؤ تاسو ته به هیڅ
نقصان نهٔ درکوی."

۱۵ نو هغوئ پیسې واخستې اَؤ څهٔ چه ورته وئیلي شوی
وُو هم هغه شان ئې وکړل. دغه قیصه تر نن ورځې په
یهودیانو کښې خوره ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# مُریدانو ته حُکم ورکول

مرقوس ۱۶ : ۱۴ ـ ۱۸، لُوقا ۲۴ : ۳۶ ـ ۴۹، یوحنا ۲۰ : ۱۹ ـ ۲۳،
اَعمال دَ رسولانو ۱ : ۶ ـ ۸

۱۶ یوولس مُریدان دَ ګلیل هغه غر ته روان شول چه عیسیٰ
ورسره دَ لیدو دَ پاره مقرر کړے وو. ۱۷ کله چه هغوئ هغه
ولیدو نو ورته په سجده شول مګر ځنے شکمن وُو. ۱۸ بیا
عیسیٰ ورغے اَؤ خبرے ئے ورسره وکړے اَؤ ورته ئے
ووئیل چه "دَ آسمان اَؤ دَ مزکے ټول واک ما ته راکړے
شوے دے. ۱۹ ځکه تاسو په مزکه خوارۀ شئ اَؤ ټول
قومُونه زما مُریدان کړئ اَؤ دَ پلار، دَ زوئے اَؤ دَ رُوحُ القُدس
په نامه ورته بپتسمه ورکړئ. ۲۰ اَؤ دا تعلیم ورکوئ چه په
هغه ټولو خبرو عمل کوئ چه ما تاسو ته حُکم کړے دے. اَؤ
دا یقین لرئ چه زَۀ به تل تاسو سره یم، تر آخره وخته
پورے."

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.